# دين الحق

# ریبنتینی دین

## ریښتینی دین

د محترم شیخ

عبد الرحمن بن حماد العمر، لیکنه

بسم الله الرحمن الرحیم

## سریزه او ډالۍ

ثنا او صفت یوازی الله لره دي، درود او سلام دې وي د الله پر ټولو پیغمبرانو، وبعد:

دا د نجات لورې ته بلنه ده، چې زه په وجود کې هر عاقل انسان ته - نارینه او ښځینه - ته وړاندې کوم، له الله تعالی څخه غواړم، ترڅو - پدې سره - هغه کسانو ته هدایت نصیب کړي چې د هغه له لارې بې لارې شوي دي، او ماته او هر هغه چا ته چې د دې بلنې په خپرولو کې مرسته کوي، ډیر اجر راکړي، نو زه د الله په مرستې سره وایم چې:

اې هوښیار انسانه! پوه شه چې ستا لپاره په دې ژوند کې او له مرګ څخه وروسته په ژوند کې هیڅ نجات او خوشحالي نشته تر څو دې ته خپل رب ونه پیژنې چې ته یې پیدا کړی یې، او په هغه ایمان رانه وړې او یوازې د هغه عبادت ونه کړې، او خپل پیغمبر چې ستا رب تا ته او ټولو انسانانو ته لیږلی دی ونه پیژنې، او په هغه ایمان را نه وړې او د هغه پیروي و نه کړې او په هغه دین پوه نشې چې ستا رب درته امر کړی، او پر هغه ایمان را نه وړې او عمل پرې و نه کړې.

او دا کتاب (ریښتینی دین) چې ستاسو مخې ته دی، د دې لویو مسایلو توضیحات پکې دي چې تاسو هغو باندې پوه شئ

او عمل پرې وکړئ، او په حاشیه کې مې د اړتیا پر مهال د لا ډیر وضاحت لپاره ځینې یادونې کړي، په ټولو مسایلو کې مې د الله سبحانه وتعالی په قول او د هغه د رسول صلی الله علیه وسلم په احادیثو تکیه کړې؛ - ځکه همدغه دوی د ریښتینی دین یوازینی مرجع ده چې الله تعالی له هیچا څخه دین نه مني پرته له دې څخه.

هغه ړوند تقلید مې پریښی چې ډیر خلک یې بې لارې کړي دي، او حتی د یو شمیر ګمراه شوو ډلو یادونه مې هم کړې چې د حق ادعا کوي حال دا چې له هغه څخه لرې دي، ترڅو هغه ناپوه خلک چې دې ډلو پورې تړلي او همدارنګه نور خلک هم با خبر شي، او الله ماته کافي او وکیل دی.

وینا او لیکنه: د بې وزله او د الله تعالی بخښنې ته فقیر

عبدالرحمن بن حماد آل عمر

د دیني علومو استاد

## لومړی ځپرکی - د لوي خالق الله تعالی پیژندنه[1]

اې هوښیار انسانه! پوه شه چې ستا رب ته له هیڅ شي نه پیدا کړی یې او په نعمتونو یې ستر کړی یې، هغه ذات د جهانونو رب دی. هوښیار خلک هغه دي چې په الله تعالی باندې ایمان ولري حال دا چې هغه یې په خپلو سترګو نه دی لیدلی بلکې د هغه د وجود ثبوتونه یې لیدلي، او دا چې هغه د

---

1 الله: د کاېناتو خلکو او ټولو شیانو پروردګار پورې خاص نوم دی، او دا نوم د هغه لپاره علم دی چې خپل سپیڅلی ځان یې پرې نوملی، او معنی یې: «ریښتنی پرودګار» دی.

ټولو مخلوقاتو خالق او مالک دی نو په دې سره يې پيژندلی دی، او د ثبوتونو له جملې څخه:[1]

لومړی ثبوت:

کائنات، انسانان او ژوند: دا پيدا شوي شيان دي چې پيل او پاي لري، او بل څه ته اړتيا لري، ناڅاپي شيان او هر شی چې نورو ته اړتيا ولري، هرو مرو هغه مخلوق دی، او مخلوق بايد خالق ولري، او دا لوی خالق الله دی، او الله هغه ذات دی چې د خپل سپيڅلي نفس په اړه يې خبر ورکړی چې هغه د ټولو مخلوقاتو خالق او نظام چلوونکی دی، او دا خبر د الله تعالی لخوا په خپلو کتابونو کې راغلی، کوم چې يې پر خپلو پيغمبرانو باندې نازل کړي.

او د الله رسولانو د هغه خبرې خلکو ته رسولې، او هغوی ته يې بلنه ورکړې چې په الله ايمان راوړي، او يوازې د هغه عبادت وکړي. الله تعالی په خپل عظيم الشان کتاب کې فرمايي:

(إِنَّ رَبَّكُمُ اللَّهُ الَّذِي خَلَقَ السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضَ فِي سِتَّةِ أَيَّامٍ ثُمَّ اسْتَوَىٰ عَلَى الْعَرْشِ يُغْشِي اللَّيْلَ النَّهَارَ يَطْلُبُهُ حَثِيثًا وَالشَّمْسَ وَالْقَمَرَ وَالنُّجُومَ مُسَخَّرَاتٍ بِأَمْرِهِ ۗ أَلَا لَهُ الْخَلْقُ وَالْأَمْرُ ۗ تَبَارَكَ اللَّهُ رَبُّ الْعَالَمِينَ)

(إِنَّ رَبَّكُمُ اللَّهُ الَّذِي خَلَقَ السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضَ فِي سِتَّةِ أَيَّامٍ ثُمَّ اسْتَوَىٰ عَلَى الْعَرْشِ يُغْشِي اللَّيْلَ النَّهَارَ يَطْلُبُهُ حَثِيثًا وَالشَّمْسَ

---

[1] تعالی (لوړ): د الله د ستاينې او تعظيم کلمه ده، او د هغه لپاره د لوړتيا او سپيڅلتيا وصف دی.

وَالْقَمَرَ وَالنُّجُومَ مُسَخَّرَاتٍ بِأَمْرِهِ ۗ أَلَا لَهُ الْخَلْقُ وَالْأَمْرُ ۗ تَبَارَكَ اللَّهُ رَبُّ الْعَالَمِينَ)

بېشکه ستاسو رب هغه الله دی چې آسمانونه او ځمکه يې په شپږو ورځو کې پيدا کړي، بيا د عرش له پاسه برقراره شو، هغه په شپې سره ورځ پټوي، پداسې حال کې چې دا (شپه) هغې (ورځ) لره په تلوار سره طلب کوي او (پيدا کړې يې ده) لمر ستر ګه، او سپوږمۍ او ستوري، چې د هغه په حکم سره مسخر کړی شوي دي، خبر شئ! خاص هغه لره دي پيدا کول او حکم کول، ډېر برکت والا دی الله؛ چې رب العالمين دی. [الأعراف:54].

د مبارک آيت لنډه معنا:

الله تعالی ټولو خلکو ته خبر ورکوي چې هغه د دوی رب دی، هغه ذات چې دوی يې پيدا کړي، او آسمانونه او ځمکه

يې په شپږو ورځو کې پیدا کړي ، او خبر ورکوي چې هغه د عرش له پاسه برقرار دی.[2][1]

عرش د اسمانونو څخه پورته دی، او هغه د ټولو مخلوقاتو څخه لوړ او پراخ دی. او الله تعالی د دې عرش د پاسه دی، او هغه په خپل علم، اورېدلو او لېدلو د لحاظه د ټولو مخلوقاتو سره دی، د هغوی د کارونو څخه ترې هیڅ هم پټ نه دي، او الله تعالی خبر ورکوي چې د شپې د تیارو په واسطه ورځ پوښوي، او په چټکتیا سره یې تعقیبوی، او همدارنګه خبر

---

[1] د عربو په ژبه کې - چې د قرآن ژبه ده - د یو شي د پاسه برقرار کیدل، په دې معنا ده: چې د هغه د پاسه پورته شو، او د الله تعالی برقرار کیدل پر عرش باندې هغه ډول پورته کیدل دي چې د هغه له شان او جلال سره مناسب دي، او د برقرار کیدلو پر کیفیت او څرنګوالي باندې هیڅوک نه پوهیږي، پرته له الله تعالی څخه . او د برقرار کیدلو (استوا) معنی دا نه ده: چې پر بادشاهۍ یې تسلط وکړ، لکه څنګه چې ګمراه خلک ادعا کوي، دا هغه خلک دي چې د الله د هغه صفاتو له حقیقت څخه انکار کوي په کومو چې هغه د خپل ځان ستاینه کړې، او د هغه پیغمبرانو پرې د هغه ستاینه کړې، په دې سره دوی دا ګمان کوي که دوی د الله صفتونه په خپل حقیقت سره ومني، په حقیقت کې دوی به الله د هغه د مخلوق سره تشبیه کړي، او دا یوه فاسده ادعا ده؛ ځکه چې تشبیه دا ده چې د دې په اړه وویل شي: دا د مخلوقاتو د دې صفاتو سره شباهت او یا ورته والی لري، لیکن د صفاتو اثبات د الله تعالی لپاره پرته له ورته والي، مثال ورکولو، څرنګوالي، تعطیل، او تأویل څخه، دا د پیغمبرانو هغه طریقه ده چې مخکنیو نیکانو یې تعقیب کړې وه، او دا هغه حق دی چې مؤمن یې باید په کلکه سره مراعت کړي، که څه هم ډېرو خلکو پرېښودي وي.

[2] په پی درپی ډول د مخلوقاتو پیداکول د الله تعالی د هغه حکمت له امله دي چې اراده یې کړې ده، او که نه نو هغه د دې توان لري چې ټول مخلوقات د سترګو له رپېدو هم ژر پیدا کړي؛ ځکه هغه فرمایی چې هر کله څه شی وغواړي نو ورته وایی چې: شه، نو هغه کیږی.

ورکوي چې لمر، سپوږمۍ او ستوري يې پيدا کړي او ټول يې خپل فرمان ته تابع کړي دي او هر يو په خپل مدار کې د هغه په امر حرکت کوي، او خبر ورکوي چې يوازې هغه د پيدايښت او امر څښتن دی، او هغه په خپل ذات او صفاتو کې لوی او کامل دی، هغه ذات چې تلپاتې او ډېر خيرات ورکونکی دی، او دا چې هغه رب العالمين دی، چې دوی يې پيدا کړي او په نعمتونو يې نازولي دي.

الله تعالی فرمايلي دي:

(وَمِنْ آيَاتِهِ اللَّيْلُ وَالنَّهَارُ وَالشَّمْسُ وَالْقَمَرُ ۚ لَا تَسْجُدُوا لِلشَّمْسِ وَلَا لِلْقَمَرِ وَاسْجُدُوا لِلَّهِ الَّذِي خَلَقَهُنَّ إِن كُنتُمْ إِيَّاهُ تَعْبُدُونَ)

(وَمِنْ آيَاتِهِ اللَّيْلُ وَالنَّهَارُ وَالشَّمْسُ وَالْقَمَرُ ۚ لَا تَسْجُدُوا لِلشَّمْسِ وَلَا لِلْقَمَرِ وَاسْجُدُوا لِلَّهِ الَّذِي خَلَقَهُنَّ إِن كُنتُمْ إِيَّاهُ تَعْبُدُونَ)

او د هغه له دليلونو څخه شپه او ورځ او لمر او سپوږمۍ دي، تاسو مه لمر ته سجده کوئ او مه سپوږمۍ ته او تاسو خاص الله ته سجده کوئ چې دغه (نښې) يې پيدا کړې دي، که چېرې تاسو خاص د هغه عبادت کوئ. [فصلت:37].

د مبارک آيت مختصره معنا:

الله تعالی خبر ورکوي چې له هغو نښو څخه چې د هغه په شتون دلالت کوی:

شپه او ورځ، لمر او سپوږمۍ دي، لمر او سپوږمۍ ته سجده کول يې منع کړې دي؛ ځکه چې هغه د نورو مخلوقاتو په څير پيدا شوی مخلوق دی، او د مخلوق لپاره عبادت کول صحيح ندي، او سجده: يو ډول عبادت دی، او الله تعالی په دې

آیت کې خلکو ته امر کوي - لکه څنګه چې په نورو آیاتونو کې امر کوي - چې یوازې هغه ته سجده کوئ؛ ځکه چې هغه خالق، مالک، او د عبادت وړ دی.

- دویم دلیل:

هغه نر او ښځه پیدا کړي دي: د ښځې او نارینه شتون د الله په موجودیت باندې دلالت کوی.

- دریم دلیل:

بېلابېلې ژبې او رنګونه: داسې دوه کسان نشته چې غږ یې یو شان وي، او یا یې رنګ یو شان وي، بلکې د دوی تر منځ هرومرو توپیر شتون لري.

څلورم دلیل:

د نصیب او قسمت توپیر: دا شتمن دی، دا غریب دی، دا رئیس دی، او دا تابع دی، په داسې حال کې چې هر یو عقل، فکر او پوهه لري، او د شتمنۍ، شرف، او د ښکلې ښځې د تر لاسه کولو هڅه یې کړې ده، مګر هیڅوک نشي کولای چې یو څه تر لاسه کړي پرته له هغه څه چې

الله تعالی هغه ته مقدر کړي وي، او دا د یو لوی حکمت له امله دي چې الله سبحانه غوښتلي دی[1]، او هغه: د خلکو ازموینه پر یو بل باندې، او د یو بل خدمت کول، ترڅو د دوی کارونه او مصلحتونه ضایع نشی.

---

1 سبحانه: یعنی الله پاک له عیبونو او نیمګړتیاوو څخه پاک دی.

او د چا لپاره چې الله تعالی په دې دنیا کې د قسمت او نصیب پریکړه نه وي کړې، الله تعالی خبر ورکوي چې د هغه نصیب او قسمت به په جنت کې د هغه په نعمتونو کې زیاتوالی راولي که چیرې هغه په داسې حال باندې مړ شي چې په الله باندې ایمان ولري، سره لدې چې اکثرا الله غریبانو ته رواني او روغتیایي ځانګړتیاوې ورکړې چې هغه په ډېرى شتمنو خلکو کې نه موندل کیږي، دا هم د الله له حکمت او عدالت څخه دي.

پنځم دلیل:

خوب، او ریښتینی خوب لیدل چې په هغه کې الله تعالی ویده شوي کس ته له غیبو څخه خبر ورکوي، یا زیرى وي او یا خبرداری وي.

شپږم دلیل:

روح: چې د هغه حقیقت یوازې الله ته معلوم دی.

اووم دلیل:

انسان: او هغه څه چې د هغه په بدن کې دي لکه حواس، عصبي سیستم، دماغ، د هاضمې سیستم او داسې نور دي.

اتم دلیل:

الله جل جلاله پر وچه زمکه باران اوروي، او په مختلفو شکلونو، رنګونو، ګټو او خوندونو بوټي او ونې راټوکوي، او دا د هغو سلګونو دلائلو له جملې څخه یو څو دلیلونه دي، چې الله تعالی په قرآنکریم کې ذکر کړي دي، او فرمایي چې دا هغه ولاړ او برحال دلیلونه دي چې د هغه سبحانه و تعالی پر

وجود دلالت کوي، او دا چې هغه د ټولو مخلوقاتو خالق او حاکم دی.

نهم دلیل:

هغه فطرت چې الله تعالی پرې خلک پیدا کړي، او هغه دا چې د هغه خالق او حاکم په وجود ایمان ولري، او هر څوک چې دا ردوي هغه ځان غولوي او بدبخت کوي یې، - د مثال په توګه - کمونیست[1] دنیا کې بدبختانه ژوند کوي، د مرګ وروسته یې برخلیک اور ته دی، دغه بدله ورکول کیږي ځکه هغه د الله موجودیت درواغ ګڼل، هغه رب چې هغه یې له هیڅ شي څخه پیدا کړی دی، او په نعمتونو سره یې نازولی، مګر دا چې الله ته توبه وباسي او په هغه باندې، او د هغه په دین او د هغه پر رسول ایمان راوړي.

لسم دلیل:

برکت، او هغه زیاتوالی دی لکه په ځینو مخلوقاتو لکه پسونو کې، او د برکت برعکس ناکامي ده، لکه چې په سپو او پیشوګانو کې ده.

***

او د الله تعالی له صفاتو څخه دا دی چې هغه:

لومړی دی پرته له پیل څخه، او تل ژوندی دی، هیڅکله نه مري او نه ختمیږي، په خپل ذات شتمن او یوازې په خپل ذات باندی اتکا لري، هیچا ته اړتیا نه لري او شریک هم نلري، الله تعالی فرمایي:

---

1 او د هغه په څیر: ملحد (بې دین) .

﴿قُلْ هُوَ اللَّهُ أَحَدٌ (1) اللَّهُ الصَّمَدُ (2) لَمْ يَلِدْ وَلَمْ يُولَدْ (3) وَلَمْ يَكُن لَّهُ كُفُوًا أَحَدٌ (4)﴾

﴿قُلْ هُوَ اللَّهُ أَحَدٌ (1)

(ای نبي!) ته (دوی ته) ووايه: شان دا دی چې الله يو دی.

اللَّهُ الصَّمَدُ (2)

هم دا الله بې نيازه (بې حاجته) دی.

لَمْ يَلِدْ وَلَمْ يُولَدْ (3)

نه يې (څوک) زيږولي دي او نه دی (له چا) زيږول شوی دی.

وَلَمْ يَكُن لَّهُ كُفُوًا أَحَدٌ (4)﴾

او د ده هيڅوک سيال (او) برابر نشته. [الإخلاص:1-4].

د آيتونو معنا:

کله چې کافرانو د خاتم النبيين څخه د الله د صفت په اړه پوښتنه وکړه؛ الله دغه سورت په هغه نازل کړ او امر يې وکړ چې دوی ته ووايه:

الله يو دی هيڅ شريک نلري، الله تل ژوندی او حاکم دی، هغه يوازې پر کائناتو، خلکو او هر څه باندې بشپړ حاکميت لري، او يوازې هغه ته بايد خلک د خپلو اړتياو پوره کولو لپاره رجوع وکړي.

نه يې څوک زيږولی دی او نه دی له چا زيږول شوی دی، او نه د ده لپاره زوی، لور، پلار او يا مور لرل صحيح دي، هم په دې سورت کې او هم نورو سورتونو کې يې له ځانه دا ټول په کلکه نفي کړي دي، ځکه چې جانشيني او زيږون د

مخلوقاتو له صفتونو څخه دي، او الله تعالی د نصاراو خبره رد کړه کله چې دوی وويل: مسيح د الله زوی دی، او يهودانو ته هم کله چې دوی وويل: عزير د الله زوی دی، او نورو خبرې چې ويل يې: ملايکې د الله لوڼي دي، او د هغوی دغه باطل قول يې توهين و ګاڼه.

او وې ويل چې عيسی عليه السلام يې په خپل قدرت سره له مور څخه بې پلاره پيدا کړ، لکه څنګه چې ادم عليه السلام د انسانانو پلار يې له خاورو څخه پيدا کړ، او لکه څنګه چې حوا د انسانانو مور يې د آدم له پښتۍ څخه پيدا کړه، او هغه يې تر خپل څنګ وليده، بيا يې د آدم اولاد د يوه سړي او يوې ښځې له اوبو څخه پيدا کړه، هر څه يې له پيله له هيڅ څخه پيدا کړل؛ او له هغې وروسته يې د خپلو مخلوقاتو لپاره يو سنت او نظام جوړ کړ، چې له هغه پرته بل هيڅ څوک نه شي کولای چې هغه کې بدلون راولي، او که الله تعالی وغواړي چې په دې نظام کې هر ډول بدلون راولي، کولای شی.نازولی

لکه څنګه چې يې عيسی عليه السلام بې پلاره له مور څخه پيدا کړ، او هغه يې په زانګو کې په خبرو راوست، او لکه څنګه چې يې د موسی عليه السلام له امسا څخه مار جوړ کړ چې منډې يې وهلې، او کله يې چې په هغې سره سمندر وواهه څيري شو او لاره پکې جوړه شوه چې هغه او د هغه قوم په هغې باندې تير شول، او لکه څنګه چې سپوږمۍ د خاتم النبيين محمد صلی الله عليه وسلم لپاره دوه ټوټې شوه،او ونې يې داسې وګرځولې چې هغه به کله د هغې له مخې تيريده هغې به ورته سلام کاوه، او څارويو به هم د نبوت ګواهي ورکوله

چې حتی خلکو به اوریدل، او ویل به یې: زه ګواهي ورکوم چې ته د الله رسول یې، او له مسجد الحرام څخه د براق په وسیله مسجد الاقصی ته یوړل شو، او له هغې وروسته جبرائیل سره د اسمان په لور پورته شو، تر دې چې د اسمان د پاسه ورسید، هلته الله تعالی ورسره خبرې وکړې، او لمونځ یې پرې فرض کړ، او بیرته د ځمکې په لور مسجد حرام ته راستون شو، او په لاره کې یې د هر اسمان خلک ولیدل، او دا ټول په یوه شپه کې له سهاره مخکې ترسره شول، او د اسرا او معراج کیسه په قرآن، او د رسول الله صلی الله علیه وسلم په احادیثو او د تاریخ په کتابونو کې مشهوره ده.

***

او د الله تعالی له صفاتو څخه چې خپل ځان یې پر هغو وصف کړی او د هغه پیغمبرانو پرې ستاېلی دی:

1- اورېدل او لیدل، پوهه او قدرت، او اراده، هر څه اوري اوویني یې، د اورېدلو او لیدلو لپاره یې کومه پرده او مانع نشته.

هغه پوهیږي په هر څه چې په رحم کې وي، او سینو پټ کړي وي، څه چې وو او څه چې به وي، او هغه قادر ذات دی چې د هر څه اراده وکړي نو ورته ووایي چې: شه، هغه کیږي.

2- هرکله او هره خبره چې وغواړي کوي یې: موسی - علیه السلام - سره یې خبرې وکړې، او د خاتم الانبیاء محمد - صلی الله علیه وسلم - سره یې خبرې وکړې، او د قرآن حرفونه او معناوې د الله کلام دی، او پر خپل رسول حضرت

محمد صلی الله علیه وسلم باندې یې نازل کړي دي، او هغه د هغه د صفتونو څخه یو صفت دی، او هغه مخلوق ندی لکه څرنګه چې ګمراه معتزله ادعا کوي .[1]

۳- مخ او لاسونه، برقرار کیدل او ښکته کېدل، رضایت او غصه کېدل. هغه له خپلو مؤمنو بندګانو څخه راضی دی، او له کافرانو څخه ناراضه دی، او له هغو کسانو څخه ناراضه دی چې د خپلو کړنو په واسطه د الله د غضب لامل ګرځي. د هغه رضایت او ناراضي د هغه د نورو صفاتو په څېر دي، چې د مخلوق له صفتونو سره ورته والی نلري، او د هغه صفتونه نه تاویل کیږي او نه یې څرنګوالی بیانیږي.[2]

او په قرآن او سنتو کې ثابت دي چې مؤمنان به د قیامت په منازلو او په جنت کې الله تعالی په خپلو سترګو ویني، او د الله تعالی صفات په قرآن عظیم الشان او د رسول کریم محمد - صلی الله علیه وسلم - په احادیثو کې په تفصیل سره بیان شوي دي، هغې ته باید مراجعه وشی.

***

---

1 معتزله یوه ګمراه ډله ده چې د الله نومونه یې تحریف کړي، او د الله تعالی او د هغه د رسول صلی الله علیه وسلم د مراد او مقصد پر خلاف یې معناوې تعبیروي.

2 د رسول الله صلی الله علیه وسلم د حدیث پر اساس چې فرمایي: " زمونږ رب تبارک و تعالی هره شپه د مځکې آسمان ته را ښته کیږي کله چې د شپې دریمه برخه پاتې شي، او وایي: څوک چې ما وغواړي نو زه یې بلنه قبلوم، او څوک دی چې له ما څخه څه وغواړي چې زه یې ورکړم، او څوک دی چې له ما څخه بخښنه وغواړي او زه هغه ته بخښنه وکړم. تخریج د بخاري (۷۴۹۴)، مسلم (۷۵۸) او ترمذي (۳۴۹۸).

د هغه شي لپاره چې الله تعالی انسانان او پیریان پیدا کړي دي.

که ته پوه شوی يې – اې هوښیاره – الله ستا هغه رب دی چې ته يې پیدا کړی يې؛ نو پوه شه چې الله ته بې ځایه نه يې پیدا کړی، بلکې د هغه د عبادت لپاره يې پیدا کړی يې؛ او دلیل يې د الله تعالی دا قول دی:

(وَمَا خَلَقْتُ الْجِنَّ وَالْإِنسَ إِلَّا لِيَعْبُدُونِ (56) مَا أُرِيدُ مِنْهُم مِّن رِّزْقٍ وَمَا أُرِيدُ أَن يُطْعِمُونِ (57) إِنَّ اللَّهَ هُوَ الرَّزَّاقُ ذُو الْقُوَّةِ الْمَتِينُ (58))

(وَمَا خَلَقْتُ الْجِنَّ وَالْإِنسَ إِلَّا لِيَعْبُدُونِ (56)

او ما پیریان او انسانان نه دي پیدا کړي مګر د دې لپاره چې دوی زما عبادت وکړي (56)

مَا أُرِيدُ مِنْهُم مِّن رِّزْقٍ وَمَا أُرِيدُ أَن يُطْعِمُونِ (57)

زه له دوی نه هېڅ رزق نه غواړم او نه دا غواړم چې دوی ما ته خوراک راکړي (57)

إِنَّ اللَّهَ هُوَ الرَّزَّاقُ ذُو الْقُوَّةِ الْمَتِينُ (58))

بېشکه هم دغه الله ښه روزي ورکوونکی، قوت والا، (او) ډېر مضبوط دی (58) [الذاريات:56-58].

د آیتونو مختصره معنا:

الله تعالی په لومړي آیت کې فرمایي: پېریان او انسان يې یوازې د خپل عبادت لپاره پیدا کړي دي. او په دویم او دریم آیت کې فرمایي: چې هغه د خپلو بندګانو د عبادت څخه بې نیازه دی، او له هغوی څخه نه روزي او نه خواړه غواړي،

ځکه چې هغه طاقتور او روزي ورکوونکی دی، چې د خلکو او نورو شیانو روزي نشته مګر د هغه لخوا څخه، او هغه داسې ذات دی، چې باران اوروي او له ځمکې څخه روزي راوباسي.[1]

او همدارنګه نور مخلوقات چې په ځمکې کې دي، الله تعالی فرمایي چې هغه یې د انسان لپاره پیدا کړي دي، ترڅو د هغه د اطاعت په ترسره کولو کې یې وکاروي، او د الله د شریعت سره سم ورسره عمل وکړي. او په کایناتو کې هر مخلوق او هر حرکت او سکون، الله تعالی د یو حکمت لپاره پیدا کړی او په قرآن کریم کې یې بیان کړی، او پوهان یې د الله د شریعت په نوم پېژني، هر یو د خپلې پوهې په پیمانه، حتی د عمرونو، روزۍ، پیښې او د آفتونو تفاوت، دا ټول د الله په اجازې سره ترسره کیږي؛ ترڅو خپل هوښیار بندګان وازمایي. که څوک د الله تعالی په تقدیر راضي وي او هغه ته غاړه کیږدي او هغه کار د ترسره کولو هڅه وکړي چې د هغه خوښ وي، نو هغه ته به د الله رضایت حاصل شي، او په دنیا او د مرګ څخه وروسته په آخرت کې به خوشبخته وي، او هغه څوک چې د الله په تقدیر راضي نه وي، او هغه ته غاړه کېښږدي او د هغه اطاعت و نکړي، هغه لپاره د الله لخوا په دنیا او آخرت کې غضب او بدبختي وي.

---

1 پیریان: عقل لرونکی مخلوق دی چې الله پاک د بنی آدم په څېر د خپل عبادت لپاره یې پیدا کړي دي، او په ځمکه کې د بني آدمانو سره اوسيږي، خو بنی آدمان یې نه ویني.

د الله د رضا غوښتنه کوو او د هغه له غضب څخه پناه غواړو.

***

له مرګ نه وروسته بیا را ژوندي کیدل، د اعمالو حساب او جزا، او جنت او دوزخ.

که ته پوه شوی یې – اې هوښیاره – چې الله د خپل عبادت لپاره پیدا کړی یې؛ پوه شه چې الله په خپلو ټولو کتابونو کې چې پر خپلو پیغمبرانو یې نازل کړي دي فرمایي چې، هغه به تاسو له مرګ وروسته راژوندي کوي، او تاسو ته به د مرګ څخه وروسته د جزا په کور کې ستاسو د کار بدله درکړي؛ دا ځکه چې انسان له مرګه وروسته د عمل او فنا له کور څخه – او هغه همدا ژوند دی - د جزا او ابدیت کور ته انتقالیږی، او هغه د مرګ څخه وروسته دی، او کله چې د انسان د ژوند کولو لپاره ټاکل شوې موده بشپړه شي، الله د مرګ فرښتې ته امر کوي چې د هغه له بدن څخه روح واخلي، هغه د مرګ تریخ خوند اخیستو وروسته مړ کیږي مخکې لدې چې روح یې له بدن څخه ووځي.

لیکن روح، الله تعالی د نعمت په کور کې ځای په ځای کوي - جنت - که چیرې هغه په الله ایمان ولري او د هغه اطاعت یې کړی وي. او که هغه په الله باندې کافر وي، او وروسته له مرګ څخه ژوند او جزا درواغ وګڼي، الله به هغه د عذاب په کور - اور - کې وګرځوي، تر هغه چې د نړۍ د پای وخت راشي، بیا به قیامت پیل شي، او هر مخلوق چې پاتې شوی وي مړ کیږي به، او هیڅ څوک به پاتې نشي مګر یوازې الله

تعالی. بیا به الله ټول مخلوق - حتی ځاروي - بیا راژوندي کوي او هر روح به بیرته خپل بدن ته راګرځوي ورروسته له دې چې هغه ټول بدن بیرته راوګرځوي لکه څنګه چې یې د لومړي ځل لپاره پیدا کړی و؛ دا د دې لپاره چې د خلکو سره حساب کتاب وشي او هغوی ته په خپلو عملونو بدله ورکړل شي، نارینه او ښځینه، رئیس او تابع، شتمن او غریب، او په هیڅ چا باندې به ظلم و نشي، او د ظالم څخه به د مظلوم لپاره بدله اخیستل کیږي، حتی له ځارویو څخه هم بدله اخیستل کیږي، او د یو بل څخه به انتقام اخلي. بیا به ورته وویل شي: خاورې شه؛ ځکه هغوی نه جنت ته داخلیږي او نه دوزخ ته.

انسانان او پیریانو ته د هغو د عمل بدله ورکول کیږي، او هغه مومنان به جنت ته داخل شی چې په الله باندې ایمان راوړی وي او د هغه اطاعت یې کړی وي، او د هغه د پیغمبرانو پیروي یې کړې وي؛ که څه هم دوی تر ټولو بې وزله خلک وي، او کافران او منکران به دوزخ ته ننوځي، که څه هم د نړی تر ټولو شتمن او باعزته خلک وي، الله تعالی فرمایي:

(إِنَّ أَكْرَمَكُمْ عِندَ اللَّهِ أَتْقَاكُمْ ۚ إِنَّ اللَّهَ عَلِيمٌ خَبِيرٌ)

(إِنَّ أَكْرَمَكُمْ عِندَ اللَّهِ أَتْقَاكُمْ ۚ إِنَّ اللَّهَ عَلِيمٌ خَبِيرٌ)

بېشکه د الله په نیز په تاسو کې ډېر عزتمن، ستاسو زیات پرهېزګار دی. [الحجرات:13].

او جنت: دا د نعمتونو کور دی، په هغه کې ډول ډول نعمتونه دي چې هیڅوک یې نشي بیانولی، په دې کې سل درجې دي، د هرې درجې لپاره اوسیدونکي دي، په الله باندې

د دوی د ایمان او د دوی د اطاعت او قوت پر اساس، او په جنت کې تر ټولو ټیټه درجه خلکو ته د هغه نعمت په څیر ورکول کیږي لکه د نړۍ ترټولو په نعمتونو نازول شوی پادشاه او حتا تر هغه هم څو برابره ډیر[1].

او اور: - الله دې موږ له هغې څخه وساتي - له مرګ نه وروسته په آخرت کې د عذاب کور دی، چې په کې ډول ډول عذابونه او تکلیفونه دي چې زړونه ویروي او سترګې ژړوي.

او که مرګ په آخرت کې شتون درلودای، نو جهنمیان به یې د لیدلو سره سم مړه شوي وو، مګر مرګ یوازې یو ځل دی چې له مخې یې انسان د دې دنیا له ژوند څخه آخرت ته انتقالیږي. په قرآن عظیم الشان کې د مرګ، پس له مرګه

---

1 د مغیره بن شعبه رضي الله عنه څخه روایت دی چې رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلي دي: موسی علیه السلام له خپل رب څخه پوښتنه وکړه چې د جنتیانو ټیټه درجه کومه ده؟ هغه وفرمایل: یو سړی به وروسته له هغه راشي چې جنتیان جنت ته داخل شي، هغه ته به وویل شي: جنت ته ننوځه، هغه به وایي: ای زما ربه زه څنګه ننوځم حال داچې ټول خلک خپلو کورونو کې میشت شوي دي؟ او خپل متعلق څیزونه او انعامونه یې اخیستي دي؟ نو ورته به وویل شي: آیا ته غواړې چې د دنیا د پاچاهانو په شان جایداد ولرې؟ هغه به وایي: ای ربه زه راضي یم، هغه به ورته وایي: دا هم ستا دي او د هغه په شان یو بل هم ستا لپاره دی. او په پنځم ځل کې به وایي: ای ربه زه راضي یم، الله تعالی به ورته وفرمایي: دا ستا لپاره دي، او ددې لس چنده هم ستا دي، او ستا لپاره هغه څه دي چې ستا زړه یې غواړي او سترګې دې له دې څخه خوند اخلي. هغه به وایي: ای ربه زه راضي یم. او ویې ویل: ای زما ربه، نو تر ټولو لوړ مقام به څرنګه وي؟ هغه وفرمایل: د هغوی اکرام او اعزاز ما په خپلو لاسونو جوړ کړی دی او مهر مې ورباندې لګولی، چې نه سترګو لیدلي، نه غوږونو اوریدلي، او نه د انسان زړه کې تیر شوي. د مسلم روایت (۱۸۹) .

ژوندي کيدل، حساب، جزا، جنت او دوزخ په بشپړ شکل باندې بيان شوي دي، او دلته مو ورته په مختصر ډول اشاره وکړه.

او له مرګه وروسته د راژوندي کيدو او حساب او جزا دلايل ډير دي، الله تعالى په قرآن عظيم الشان کې فرمايي:

(۞ مِنْهَا خَلَقْنَاكُمْ وَفِيهَا نُعِيدُكُمْ وَمِنْهَا نُخْرِجُكُمْ تَارَةً أُخْرَىٰ)

(۞ مِنْهَا خَلَقْنَاكُمْ وَفِيهَا نُعِيدُكُمْ وَمِنْهَا نُخْرِجُكُمْ تَارَةً أُخْرَىٰ)

له همدې (ځمکې) نه مونږ تاسو پيدا کړي يئ او په هم دې کې به مونږ تاسو داخلوو، او بل ځل به مونږ تاسو له همدې (ځمکې) څخه راوباسو. [طه:55]، او الله تعالى فرمايي:

(وَضَرَبَ لَنَا مَثَلًا وَنَسِيَ خَلْقَهُ ۖ قَالَ مَن يُحْيِي الْعِظَامَ وَهِيَ رَمِيمٌ)

(وَضَرَبَ لَنَا مَثَلًا وَنَسِيَ خَلْقَهُ ۖ قَالَ مَن يُحْيِي الْعِظَامَ وَهِيَ رَمِيمٌ)

او دی زمونږ لپاره مثال بيانوي او خپل پيدايښت يې هېر کړی دی، وايي: دغه هډوکي به څوک راژوندي کوي، په داسې حال کې چې هغه وراسته وي. [يس:78-79].

او الله تعالى فرمايي:

(زَعَمَ الَّذِينَ كَفَرُوا أَن لَّن يُبْعَثُوا ۚ قُلْ بَلَىٰ وَرَبِّي لَتُبْعَثُنَّ ثُمَّ لَتُنَبَّؤُنَّ بِمَا عَمِلْتُمْ ۚ وَذَٰلِكَ عَلَى اللَّهِ يَسِيرٌ)

(زَعَمَ الَّذِينَ كَفَرُوا أَن لَّن يُبْعَثُوا ۚ قُلْ بَلَىٰ وَرَبِّي لَتُبْعَثُنَّ ثُمَّ لَتُنَبَّؤُنَّ بِمَا عَمِلْتُمْ ۚ وَذَٰلِكَ عَلَى اللَّهِ يَسِيرٌ)

کافران شوي خلک دا (غلطه) عقېده ساتي چې دوی به له سره بیا راژوندي نه کړی شي، ته (دوی ته) ووایه: ولې نه! زما دې په خپل رب قسم وي خامخا به تاسې به بېرته راژوندي کولی شئ، او بیا به تاسو ته ستاسو په عملونو خبر درکولی شي، او دا کار الله تعالی ته ډېر اسان دی. [التغابن:7].

د آیتونو مختصره معنا:

۱- په لومړي آیت کې الله جل جلاله فرمایي : له ځمکې څخه یې بني آدم پیدا کړ، دا هغه وخت دی چې د دوی پلار آدم علیه السلام یې له خاورو څخه پیدا کړ، او بیا خبر ورکوي چې دوی به پس له مرګ قبرونو ته بیرته راګرځوي؛ د هغوی د عزت لپاره، او خبر ورکوي چې هغه به دوی له خپلو قبرونو څخه بیا راوباسي، نو دوی به له خپلو قبرونو څخه ژوندي راووځي، له پیل څخه تر پایه پورې، نو الله به دوی سره محاسبه وکړي او بیا به دوی ته بدله ورکړي.

۲- په دویم آیت کې: الله د هغو کافرانو ځواب ورکوي چې په حیرانتیا به یې ویل، څنګه امکان لري چې هډوکي بیرته ژوندي شی پس له فنا کېدو څخه. الله هغه ته ځواب ورکوي، او وايي چې هغه به بیا را ژوندي کوي، ځکه چې هغه په لومړي ځل له نشت څخه پیدا کړ.

3- او په دریم آیت کې: الله د هغو کافرانو ځواب ورکوي چې له مرګ نه وروسته بیا راژوندي کیدل یې درواغ ګڼل، د هغوی د فاسدو ادعاوو، او خپل رسول (صلی الله علیه و اله و سلم) ته امر کوي، چې هغوی ته په الله قسم یاد کړي او ووايي، چې بیشکه الله به هغوی بیا را ژوندي کوي، او هغوی

ته به خبر ورکړي په هغو کارونو چې هغوی ترسره کړي، او دوی ته به د خپلو کارونو بدله ورکړي، او دا د الله لپاره اسانه دي.

او په بل آيت کې الله خبر ورکړی کله چې د مرګ وروسته د ژوندي کيدلو او د دوزخ منکران حشر کړي، د دوزخ په اور کې به يې سزا ورکړي او ورته به وويل شي:

(ذُوقُوا عَذَابَ النَّارِ الَّذِي كُنتُم بِهِ تُكَذِّبُونَ)

(ذُوقُوا عَذَابَ النَّارِ الَّذِي كُنتُم بِهِ تُكَذِّبُونَ)

د اور هغه عذاب وڅکئ چې تاسو به د ده تکذيب کاوه. [السجدة:20].

د انسان د کړنو او خبرو ثبتول:

او الله - عزوجل – پوهيږي پر هغه څه چې انسان يې په راتلونکي کې وايي او يا يې کوي، که ښه وي يا بد، په پټه يا په ښکاره، او فرمايي چې هغه د اسمانونو او ځمکې او انسان او نورو مخلوقاتو له پيدا کولو دمخه دا ټول شيان په لوح محفوظ کې ليکلي و، او فرمايي چې له دې سره سره يې پر هر انسان دوه پرښتې مقررې کړي دي چې يوه يې ښي لورې ته نيکي ليکي او بله يې چپ لورې ته بدي ليکي، له دوی څخه هيڅ شی نه خطا کيږي، او الله سبحانه و تعالى خبر ورکړی چې هر انسان ته به د حساب په ورځ د هغه کتاب (عملنامه) ورکول کيږي چې د هغه خبرې او عملونه پکې ليکل شوي دي، نو هغه به يې ولولي، بې له دې چې د هغه څخه د کوم شي انکار وکړي، او که څوک د کوم شي څخه انکار وکړي،

الله به د هغه غوږ ، سترګه، لاسونه، پښي او پوستکی ټول په خبرو راولي او په خپلو کړنو به يې ګواهي ورکړي.
په قرآن عظيم الشان کې ددې خبرې تفصيل بيان شوی دی.
الله تعالی فرمايلي دي:

(مَّا يَلْفِظُ مِن قَوْلٍ إِلَّا لَدَيْهِ رَقِيبٌ عَتِيدٌ)

(مَّا يَلْفِظُ مِن قَوْلٍ إِلَّا لَدَيْهِ رَقِيبٌ عَتِيدٌ)

(دغه بنده هيڅ خبره نه کوي مګر له ده سره حاضر ساتونکی دی. [ق:18]، او الله تعالی فرمايلي:

(وَإِنَّ عَلَيْكُمْ لَحَافِظِينَ (10) كِرَامًا كَاتِبِينَ (11) يَعْلَمُونَ مَا تَفْعَلُونَ (12)) [الانفطار:10-12].

(وَإِنَّ عَلَيْكُمْ لَحَافِظِينَ (10) كِرَامًا كَاتِبِينَ (11) يَعْلَمُونَ مَا تَفْعَلُونَ (12)) [الانفطار:10-12].

په داسې حال کې چې پر تاسو باندې ساتونکي (پرښتې) مقرر دي، چې عزتمن ليکونکي دي، دوی په هغه څه پوهيږي چې تاسو يې کوئ. [سورت انفطار: 10-12].

- د آيتونو شرحه:

الله جل جلاله خبر ورکوي چې پر هر انسان يې دوه پرښتې مقررې کړي دي، يوه يې ښي لوري ته (رقيب) ده چې د هغه نيکۍ ليکي او بله يې چپ لوري ته (عتيد) ده چې د هغه بدۍ ليکي، او الله تعالی په دوو ورستيو آيتونو کې فرمايي چې هغه عزتمندې پرښتې مقررې کړي دي، او د هغوی ټول عملونه ليکي او فرمايي چې هغوی ته يې دا توان ورکړی چې د دوی ټول عملونه وپيژني، او ويې ليکي لکه څرنګه چې د الله پوهه

وه او له ځانه سره یی په لوح محفوظ کې لیکلي و مخکې له دې چې هغوی پیدا کړي.

ګواهي (شاهدي) ورکول:

زه ګواهي (شاهدي) ورکوم چې له الله پرته بل معبود حق نشته او زه ګواهي (شاهدي) ورکوم چې محمد د الله رسول دی، او زه ګواهي (شاهدي) ورکوم چې جنت حق دی، دوزخ حق دی، او دا چې قیامت راروان دی په دې کې هیڅ شک نشته، او دا چې الله به هغه کسان چې په قبرونو کې دي د حساب او بدلې لپاره راپورته کوي، او دا چې هر هغه څه چې الله په خپل کتاب کې یا د خپل رسول (صلی الله علیه وسلم) په ژبې ویلي حق دي.

زه تاته بلنه درکوم – اې هوښیاره – چې پر دې ګواهئ (شاهدئ) باندې ایمان راوړې، او هغه اعلان کړې او پر مانا يې عمل وکړې؛ او دا د نجات لاره ده.

## دویم څپرکی - د رسول الله (صلی الله علیه وسلم) پیژندنه

که ته پوه شوی يې - اې هوښیاره - دا چې الله ستا پیداکونکی دی، او هغه به تا را ژوندی کړي چې ستا د کارونو بدله درکړي، او پوه شه چې الله تا او ټولو خلکو ته رسول رالیږلی دی، چې د هغه د امر اطاعت او پیروي وکړئ، او فرمایی چې د هغه د سم عبادت کولو هیڅ لاره نشته پرته لدې چې د دې رسول پیروي وکړئ، او د هغه د شریعت مطابق د الله عبادت وکړئ، هغه شریعت چې هغه رالیږلی دی.

او دغه عزتمند پیغمبر چې ټول خلک باید پر هغه ایمان راوړي او پیروي يې وکړي، هغه خاتم النبیین دی، او د ټولو خلکو لپاره د الله رسول نالوسته محمد - صلی الله علیه وسلم - دی، هغه چې د هغه په اړه د موسی او عیسی علیهما السلام له خوا په تورات او انجیل کې له ځلوبښتو څخه زیاتو ځایونو کې زیری ورکړل شوی دی، یهودیان او نصارانیانو به په خپلو کتابونو کې لوستل، مخکې له دې چې هغوی په دې دوو کتابونو کې لاس وهنه وکړي او تحریف يې کړي[1] .

او دا پیغمبر چې الله پر هغه باندې د پیغمبرانو سلسله پای ته ورسوله، او ټولو خلکو ته يې ولېږه، هغه محمد د عبدالله زوی د عبدالمطلب زوی هاشمي او قریشي دی – صلی الله علیه وسلم - تر ټولو معزز او صادق انسان، او د ځمکې پر مخ تر ټولو د باعزته قبیلې اوسیدونکی، چې سلسله يې د حضرت اسماعیل بن ابراهیم علیهم السلام اولادې ته رسیږي، او خاتم النبیین محمد صلی الله علیه وسلم په ۵۷۰ میلادي کال کې په مکه مکرمه کې زیږیدلی دی. په کومه شپه چې هغه پیدا کیده او د مور له ګېډې څخه د وتلو په وخت کې یوې سترې رڼایي نړۍ روښانه کړه، چې خلک يې حیران کړل، او د تاریخ په کتابونو کې ولیکل شو، د قریشو هغه بت چې

1 وګوره : د محمد صلی الله علیه وسلم د خوشالۍ زیری لکه څنګه چې په تورات او انجیل کې راغلی دی، په کتاب: الجواب الصحیح لمن بدل دین المسیح ، جلد "1" د شیخ الإسلام أحمد ابن تیمیة (رحمه الله)، او د علامه محمد ابن القیم کتاب (هدایت الحیاری) وګورئ، او د ابن هشام کتاب (سیرت النبی) وګورئ ، او کتاب معجزات النبوة في تاریخ ابن کثیر او نورو کتابونو کې.

دوی يې په مکه کې په کعبې کې عبادت کاوه وغورځيد، او د فارس د پاچا ايوان يې ولړزاوه، څه دپاسه لس بالکونۍ يې پرې راښکته شوې، او د فارسيانو هغه اور مړ شو چې دوی يې عبادت کاوه، چې هغه اور له دوو زرو کالو راهيسې نه و مړ شوی.

دا ټول د الله تعالى له خوا د ځمکې د خلکو لپاره د خاتم النبيين د زيږون اعلان و چې هغه به هغه بتان له منځه يوسي چې له الله پرته يې عبادت کيدلو، او فارس او روميانو ته به بلنه ورکوي چې يوازې د الله عبادت وکړي، او په دغه ريښتيني دين کې داخل شي، که دوی انکار وکړي، هغه او د هغه پيروان به منکرينو سره جهاد وکړي، او الله به هرومرو دوی بريالي کړي، او د هغه دين چې د هغه نور دی په ځمکه خپور کړي. دا په حقيقت کې هغه څه دي چې وروسته له دې چې الله خپل رسول محمد صلى الله عليه وسلم واستاوه.

او الله تعالى خاتم النبيين، محمد - صلى الله عليه وسلم – د نورو مخکنيو پيغمبرانو ورونو څخه په ځانګړو ځانګړتياوو سره جلا کړ، له هغې جملې څخه:

لومړی: هغه خاتم الانبياء دی، چې له هغه وروسته نه رسول او نه پيغمبر شته.

دويم: ټولو خلکو ته د هغه د پيغام عموميت، ټول خلک د محمد (صلى الله عليه وسلم) امت دی، څوک چې د هغه اطاعت او پيروي وکړي جنت ته به لاړ شي، او څوک چې د هغه نافرماني وکړي هغه به دوزخ ته لاړ شي، حتى يهود او نصارا هم د هغه په پيروۍ سره مکلف دي، او څوک چې د

هغه پیروي ونه کړي او پر هغه ایمان را نه وړي هغه پر موسی او عیسی او پر ټولو پیغمبرانو باندې کافر شوی دی. موسی، عیسی او ټول پیغمبران له هر هغه انسان څخه بې زاره دي چې د محمد صلی الله علیه وسلم پیروي نه کوي؛ ځکه چې الله دوی ته امر کړی چې خپلو امتونو ته د محمد صلی الله علیه وسلم په اړه خبر ورکړي او ووایي چې د هغه پیروي وکړئ هرکله چې الله راولیږه؛ او دا ځکه چې هغه دین چې الله ورسره رالیږلی دی هماغه دین دی چې الله خپلو پیغمبرانو ته رالیږلی و، او ددین کمال او اسانتیاوې د دغه عزتمند پیغمبر په زمانه کې رامنځ ته کړې، د محمد صلی الله علیه وسلم له بعثت نه وروسته هیڅوک اجازه نه لري چې له اسلام پرته بل دین ومني چې الله تعالی رالیږلی و؛ ځکه چې دا هغه کامل دین دی چې د هغه په واسطه الله ټول ادیان منسوخ کړل، او دا ځکه چې دا خوندي او حق دین دی.

د یهودیت او عیسویت دین تحریف شوی دین دی،او په هغه شکل باندې ندی پاتې لکه څنګه چې د الله لخوا نازل شوی و، نو هر هغه مسلمان چې د محمد صلی الله علیه وسلم پیروي کوي هغه د موسی، عیسی او ټولو پیغمبرانو پیرو ګڼل کیږي، او هر څوک چې له اسلام څخه بهر وي هغه د موسی، عیسی پر ټولو پیغمبرانو کافر ګڼل کیږي، که څه هم د موسی او یا د عیسی د پیروی ادعا وکړي!

له همدې امله، یوه ډله د یهودي او عیسوي راهبانو چې هوښیار او عادل وو، په چټکۍ سره پر محمد - صلی الله علیه وسلم - ایمان راوړ او اسلام یې ومانه.

***

## د رسول الله -صلی الله علیه وسلم- معجزې[1]

د رسول الله صلی الله علیه وسلم د سیرت پوهانو د هغه معجزې شمیرلې دي، هغه معجزې چې د هغه د رسالت په ریښتونولۍ دلالت کوی، له زرو څخه زیاتې معجزې دي، له هغې جملې څخه:

۱- د نبوت مُهر چې الله د هغه د دوو اوږو تر منځ لګولی و، او هغه کې محمد رسول الله لیکل شوی و، د سرې غدې یا دانې په شکل و .[2]

۲- د اورې په ګرم لمر کې د هغه لپاره د وریځو سیوری کول.

۳- د هغه په لاسونو کې د کاڼو تسبیح ویل او پر هغه باندې د ونو سلام اچول.

۴- د غیب څخه خبر ورکول چې د زمانې په اخر کې به واقع کیږي؛ او د هغه د څرګندونو سره سم کرار کرار پیښیږي.

دا هغه غیبي چارې دي چې د خاتم الانبیاء محمد - صلی الله علیه وسلم - له وفات نه وروسته د نړۍ تر پایه پورې

---

1 او د معجزو نوم په قرآن کریم کې: آیات دی، او دغه نوم تر ټولو صحیح دی، او د معجزې لفظ یې څکه ذکر کړی چې د خارق العاده و لپاره ځانګړې دی.

2 الثآلیل : د ثُؤْلُول جمع ده، او د غدې یا دانې په شکل و چې پوستکي کې څرګندیږي او د نخود او یا له هغه څخه وړه وي، او دغه مُهر د سپوږمۍ په څیر ګرد و،او د کوترې د هګۍ په اندازه و.

پېښېږي، چې الله تعالی ورته معلومات او خبر ورکړی و، او هغه د احادیثو او د قیامت د نښو په کتابونو کې ثبتې شوې دي، لکه: د ابن کثیر په کتاب "النهایة"، او "الأخبار المشاعة في أشراط الساعة"، او " أبواب الفتن والملاحم " د احادیثو په کتابونو کې. او دغه معجزې د مخکې پیغمبرانو معجزو ته ورته دي.

مګر الله هغه په عقلي معجزې سره ځانګړی کړ چې د زمانو په پاېو کې به د نړۍ تر پایه پورې پاتې وي، هغه څه چې الله نورو پیغمبرانو ته نه دي ورکړي، او هغه: قرآن عظیم - د الله کلام – دی، هغه څه چې الله یې د ساتلو تضمین کړی، نو د تحریف لاس دې ته غزیدلی نشي، او که چا هڅه وکړه چې له هغه څخه یو حرف هم بدل کړي، هغه به ښکاره او معلوم شي، او دلته د مسلمانانو په لاسونو کې د قرانکریم په لکونو نسخې دي، یو له بل سره توپیر نلري، حتی په یوه حرف کې هم.

لیکن د تورات او انجیل کتابونه ډیر ډولونه لري، او یو له بل څخه توپیر لري؛ ځکه چې یهودو او نصاراو پکې لاس وهنې کړي دي، دا پداسې حال کې و چې الله دوی ته د هغوی د کتابونو د ساتلو دنده وسپارله نو دوی پکې تحریف وکړ، مګر د قرآن کریم د ساتلو دنده یې هیڅ چا ته نه ده سپارلې، د هغه ساتنه الله سبحانه و تعالی په غاړه اخیستې ده، لکه څنګه چې الله تعالی فرمایي:

(إِنَّا نَحْنُ نَزَّلْنَا الذِّكْرَ وَإِنَّا لَهُ لَحَافِظُونَ)

(إِنَّا نَحْنُ نَزَّلْنَا الذِّكْرَ وَإِنَّا لَهُ لَحَافِظُونَ)

بېشکه همدا مونږ پخپله ذکر نازل کړی دی او بېشکه مونږ د ده خامخا ساتونکي یو. [الحجر:9].

د الله تعالی له کلام څخه منطقي ثبوت او شواهد چې قرآن کریم د الله کلام دی او محمد د الله رسول دی.

د هغو د منطقي او عقلي دلائلو له جملې څخه چې قرآن کریم د الله تعالی کلام دی، او محمد - صلی الله علیه وسلم - د الله رسول دی دا دي: کله چې د قریشو کفارو د محمد - صلی الله علیه وسلم - تکذیب وکړ، الله تعالی هغوی وننګول، لکه په پخوانیو امتونو کې د نورو پیغمبرانو منکرانو په څیر، مشرکانو وویل: قرآن د الله کلام ندی. الله دوی وننګول چې د قران کریم په شکل کتاب راوړي؛ مګر هغوی ونشو کولی، که څه هم قرآن د هغوی په ژبه و، او تر ټولو ډېر فصیح خلک وو، او لدې سره سره چې د هغوی په منځ کې نامتو خطیبان، فصیحان او قوي شاعران هم و، نو بیا یې هغوی وننګول چې د دې (قرآن) په څېر لس درواغجن سورتونه راوړي، خو دوی ونه توانېدل، بیا یې هغوی وننګول چې یو سورت راوړي، خو دوی و نه توانیدل، بیا یې د هغوی عجز او ناتواني اعلان کړه، او ټول پیریان او انسانان و نه توانیدل چې ددې په څېر یو سورت راوړي، که څه هم یو له بل سره مرسته وکړي. الله تعالی فرمایي:

{قُل لَّئِنِ اجْتَمَعَتِ الْإِنسُ وَالْجِنُّ عَلَىٰ أَن يَأْتُوا بِمِثْلِ هَٰذَا الْقُرْآنِ لَا يَأْتُونَ بِمِثْلِهِ وَلَوْ كَانَ بَعْضُهُمْ لِبَعْضٍ ظَهِيرًا}

{قُل لَّئِنِ اجْتَمَعَتِ الْإِنسُ وَالْجِنُّ عَلَىٰ أَن يَأْتُوا بِمِثْلِ هَٰذَا الْقُرْآنِ لَا يَأْتُونَ بِمِثْلِهِ وَلَوْ كَانَ بَعْضُهُمْ لِبَعْضٍ ظَهِيرًا}

ته ووايه: خامخا که انسانان او پېريان ټول پر دې خبره سره جمع شي چې د دې قرآن مِثل راوړي (نو) د ده په مثل به رانه وړی شي اګر که د دوی ځينې د ځينو نورو ملاتړي (هم) وي. [الإسراء:88].

که قرآن د محمد يا نورو خلکو له خبرو څخه وی؛ د ژبې د فصاحت خاوندان به پدې توانيدلي وی چې د هغه په څير رواړي.

خو دا د الله تعالی کلام دی، او د الله د کلام فضيلت او برتريت د انسان د کلام په پرتله، داسې دی لکه د الله برتريت پر انسانانو باندې.

او څنګه چې د الله لپاره مثيل نشته؛ نو د هغه د کلام مثيل هم نشته، په دې توګه دا روښانه شوه، چې قرآن د الله تعالی کلام دی او محمد د الله رسول دی؛ ځکه چې د الله کلام يوازې د هغه لخوا د رسول په واسطه راوړل کيږي،

الله تعالی فرمايي:

(مَّا كَانَ مُحَمَّدٌ أَبَا أَحَدٍ مِّن رِّجَالِكُمْ وَلَٰكِن رَّسُولَ اللَّهِ وَخَاتَمَ النَّبِيِّينَ ۗ وَكَانَ اللَّهُ بِكُلِّ شَيْءٍ عَلِيمًا)

(مَّا كَانَ مُحَمَّدٌ أَبَا أَحَدٍ مِّن رِّجَالِكُمْ وَلَٰكِن رَّسُولَ اللَّهِ وَخَاتَمَ النَّبِيِّينَ ۗ وَكَانَ اللَّهُ بِكُلِّ شَيْءٍ عَلِيمًا)

محمد (ﷺ) ستاسو په سړيو کې د هيچا پلار ندی او لېکن د الله رسول دی او د نبيانو (د لړی) ختمونکی دی او الله په هر شي ښه عالم دی. [الأحزاب:40]، او الله تعالی فرمايي:

(وَمَا أَرْسَلْنَاكَ إِلَّا كَافَّةً لِّلنَّاسِ بَشِيرًا وَنَذِيرًا وَلَٰكِنَّ أَكْثَرَ النَّاسِ لَا يَعْلَمُونَ)

(وَمَا أَرْسَلْنَاكَ إِلَّا كَافَّةً لِّلنَّاسِ بَشِيرًا وَنَذِيرًا وَلَٰكِنَّ أَكْثَرَ النَّاسِ لَا يَعْلَمُونَ)

او ته مو نه يې لېږلی مګر د ټولو خلکو (انسانانو) لپاره زېری ورکوونکی او وېروونکی مګر اکثره خلک نه پوهېږي.

[سبأ:28]، او الله تعالی فرمايي:

(وَمَا أَرْسَلْنَاكَ إِلَّا رَحْمَةً لِّلْعَالَمِينَ)

(وَمَا أَرْسَلْنَاكَ إِلَّا رَحْمَةً لِّلْعَالَمِينَ)

او مونږ ته نه يې لېږلې مګر د عالمونو لپاره رحمت [الأنبياء:107].

د آيتونو لنډه معنا:

١- الله تعالی په لومړي آيت کې فرمايي چې محمد - صلی الله عليه وسلم - د هغه لخوا د ټولو خلکو لپاره رسول دی، او هغه د نبيانو (د لړۍ) ختموونکی دی چې له هغه وروسته بل نبي نه راځي، او فرمايي چې هغه يې د خپل پيغام د اوچتولو لپاره غوره کړی دی ترڅو هغه د نبيانو ختموونکی وي؛ ځکه چې هغه پوهېږي چې هغه د دې لپاره غوره کس دي.

٢- او الله تعالی په دويم آيت کې فرمايي: چې خپل رسول محمد - صلی الله عليه وسلم- يې سپين او تور، عرب او عجم او ټولو خلکو ته لېږلی دی، او فرمايي چې ډېری خلک حقيقت باندې نه پوهېږي؛ له همدې امله دوی د محمد - صلی الله عليه وسلم - په نه پيروۍ کولو سره ګمراهان او کافران شول.

3- الله خپل پيغمبر محمد صلی الله علیه وسلم ته په دریم آیت کې خطاب کوي، هغه ته وایي چې هغه يې د ټولې نړۍ لپاره د رحمت په توګه لیږلی دی؛ ځکه چې هغه د الله رحمت دی چې خلک يې په هغه باندې ونازول، نو هر څوک چې په هغه باندې ایمان راوړي او د هغه پیروي وکړي د الله رحمت يې قبول کړ او د هغه لپاره به جنت وي. او هر څوک چې په محمد - صلی الله علیه وسلم - ایمان ونلري او د هغه پیروي و نکړي د الله رحمت يې له خپل ځان څخه لرې کړی دی، او د اور او دردناک عذاب مستحق به وي.

د الله او د هغه پر رسول محمد صلی الله علیه وسلم باندې د ایمان راوړلو بلنه:

له همدې امله موږ تاته بلنه درکوو – اې هوښیاره – چې پر الله د رب په توګه او د هغه پر رسول محمد د رسول په توګه ایمان راوړه، او تا ته بلنه درکوو چې د هغه پیروي وکړه، او د هغه د شریعت مطابق عمل وکړه کوم چې الله رالیږلی دی او هغه شریعت د اسلام دی، چې سرچینه يې قرآن کریم دی - د الله کلام، او د نبیانو (د لړۍ) ختموونکي محمد - صلی الله علیه وسلم - حدیثونه دي کوم چې د هغه څخه ثابت شوي دي؛ ځکه چې الله تعالی د هغه مخکني او ورستني ګناهونه معاف کړي دي، نو هغه د الله له حکم پرته بل څه باندې امر نه کوي، او نه منع کوي مګر هر هغه څه چې الله منع کړي وي، نو د زړه له اخلاصه ووایه چې: پر الله مې د رب او معبود په توګه، او د هغه پر رسول محمد د رسول په توګه ایمان راوړه او د

هغه پیروي وکړئ؛ ځکه چې ستا لپاره لدې پرته د خلاصون بله لاره نشته.

الله دې ما او تا ته د خوښۍ او نجات تر لاسه کولو توفیق راکړي ... آمین.

***

## دریم ځپرکی - د ربښتینی دین- اسلام - پیژندل

که ته پوه شوی – اې هوښیاره – چې ستا رب هغه ذات دی چې ته یې پیدا کړی یې او تا ته روزي درکوي، او دا چې هغه یو ربښتینی الله دی چې هېڅ شریک نلري، او ته باید یوازې د هغه عبادت وکړې، او په دې پوه شې چې محمد صلی الله علیه وسلم تاسو او ټولو خلکو ته د الله رسول دی؛ او په دې پوه شه چې پر الله تعالی او د هغه پر رسول محمد صلی الله علیه وسلم ایمان مو تر هغه پورې اعتبار نه لري تر څو چې د اسلام په دین پوه نه شې او پر هغه ایمان ولرې او عمل پرې وکړې؛ ځکه دا هغه دین دی چې الله جل جلاله پرې خوښ او پر همدې دین باندې یې پیغمبرانو ته امر کړی، او د نبیانو (د لړۍ) ختموونکی محمد صلی الله علیه وسلم یې پر هغه باندې ټولو خلکو ته استولی، او خلک یې مکلف کړي ترڅو پر هغه عمل وکړي.

***

د اسلام تعریف

د نبیانو (د لړۍ) ختموونکی محمد صلی الله علیه وسلم او ټولو خلکو ته د الله رسول فرمایي:

«أَنْ تَشْهَدَ أَنْ لَا إِلَهَ إِلَّا اللَّهُ، وَأَنَّ مُحَمَّدًا رَسُولُ اللَّهِ، وَتُقِيمَ الصَّلَاةَ، وَتُؤْتِيَ الزَّكَاةَ، وَتَصُومَ رَمَضَانَ، وَتَحُجَّ الْبَيْتَ إِنِ اسْتَطَعْتَ إِلَيْهِ سَبِيلًا»[14].

«دا چې شاهدي ورکړې چې له الله پرته بل معبود حق نشته، او دا چې محمد د الله رسول دی، او لمونځ قایم کړې، او زکات ورکړې، او د رمضان میاشت روژه ونیسې، او که توان ولرې د بیت الله حج ادا کړې.» [۱۴].[1]

اسلام هغه نړیوال دین دی چې الله تعالی ټولو انسانانو ته په هغه امر کړی، او د الله رسولانو پرې ایمان راوړی، او خپل اسلام یې الله ته اعلان کړی، او الله تعالی اعلان کړی چې همدا رښتینی دین دی او له هغه پرته بل دین نه مني. الله تعالی وفرمایل:

(إِنَّ الدِّينَ عِندَ اللَّهِ الْإِسْلَامُ)

(إِنَّ الدِّينَ عِندَ اللَّهِ الْإِسْلَامُ)

بېشکه دین (معتبر) د الله په نیز اسلام دی. [آل عمران:19]، او الله تعالی وفرمایل:

(وَمَن يَبْتَغِ غَيْرَ الْإِسْلَامِ دِينًا فَلَن يُقْبَلَ مِنْهُ وَهُوَ فِي الْآخِرَةِ مِنَ الْخَاسِرِينَ)

(وَمَن يَبْتَغِ غَيْرَ الْإِسْلَامِ دِينًا فَلَن يُقْبَلَ مِنْهُ وَهُوَ فِي الْآخِرَةِ مِنَ الْخَاسِرِينَ)

---

1 مسلم (۸) او ابوداود (۴۶۹۵) کې روایت کړی .

او څوک چې له اسلام نه غېر (بل) دين غواړي، نو هېڅكله به هم له ده نه قبول نه كړى شي او دغه كس په اخرت كې له تاوانيانو څخه دى. [آل عمران:85].

د دوو آيتونو مختصره معنا:

١- الله تعالى فرمايي چې د هغه په نيز يوازينى دين اسلام دى.

٢- په دويم آيت كې الله تعالى فرمايى چې له اسلام پرته بل دين نه مني، او دا چې يوازې مسلمانان له مرګه وروسته خوشحاله اوسى، او هغه څوک چې له اسلام پرته مړ شي په آخرت كې تاواني دى، او په اور كې عذاب وركول كيږي.

له همدې امله ټولو پيغمبرانو الله تعالى ته خپل تسلمېدل اعلان كړل، او له هغو كسانو چې اسلام يې و نه مانه بې زاري اعلان كړه، نو څوک چې د يهودو او نصاراو څخه نجات او خوښي غواړي، هغه دې په اسلام كې داخل شي، او د اسلام د پيغمبر محمد صلى الله عليه وسلم پيروي دې وكړي؛ تر څو هغه د موسى او عيسى عليهما السلام رښتينى پيرو وي؛ ځكه چې موسى، عيسى، محمد او د الله ټول پيغمبران مسلمانان وو، هغوى ټولو اسلام ته دعوت كړى دى؛ ځكه دا د الله هغه دين دى چې په هغه باندې يې پيغمبران ليږلي دي، او د خاتم النبيين له بعثت څخه وروسته د نړۍ تر پايه پورې د هيچ چا دين نه قبليږي، او صحيح نده چې ځان الله تعالى ته تسلېمېدونكى وګڼي، او الله د هغه دغه دعوا نه مني تر څو چې پر محمد د الله د پيغمبر په توګه ايمان ولري، او د هغه پيروي وكړي، او په هغه قرآن باندې عمل وكړي چې الله ورباندې

نازل کړی دی، الله تعالی په قرآن عظیم الشان کې فرمايلي دي:

(قُلْ إِن كُنتُمْ تُحِبُّونَ اللَّهَ فَاتَّبِعُونِي يُحْبِبْكُمُ اللَّهُ وَيَغْفِرْ لَكُمْ ذُنُوبَكُمْ ۗ وَاللَّهُ غَفُورٌ رَّحِيمٌ)

(قُلْ إِن كُنتُمْ تُحِبُّونَ اللَّهَ فَاتَّبِعُونِي يُحْبِبْكُمُ اللَّهُ وَيَغْفِرْ لَكُمْ ذُنُوبَكُمْ ۗ وَاللَّهُ غَفُورٌ رَّحِيمٌ)

(ای نبي!) ته ووايه: که چېرې يئ تاسو چې له الله سره مينه کوئ، بيا نو زما اتباع وکړئ، الله به له تاسو سره مينه وکړي او تاسو ته به ستاسو ګناهونه وبخښي او الله ډېر بخښونکی، بې حده رحم کوونکی دی. [آل عمران:31].

د آيت مختصره معنا:

الله خپل رسول محمد صلی الله علیه وسلم ته امر کوي چې هغو کسانو ته چې د الله سره د مينې لرل دعوا کوي ووايه: که تاسو واقعا له الله سره مينه لرئ، نو زما پيروي وکړئ، الله به تاسو سره مينه وکړي؛ ځکه چې الله به له تاسو سره مينه و نکړی او ستاسو ګناهونه به ونه بخښي، تر څو چې تاسو د هغه پر رسول محمد صلی الله علیه وسلم ايمان ولرئ او د هغه پيروي وکړئ.

او دا اسلام چې الله تعالی د خپل رسول محمد صلی الله علیه وسلم په واسطه ټولو خلکو لپاره رالېږلی دی، هغه بشپړ، جامع او د عفوې او بخښنې دين دی، چې الله تعالی د خپلو بندګانو لپاره د يو داسې دين په توګه پوره او اختيار کړی، چې بل هېڅ دين نه قبلوي، او دا هغه څوک دی چې پيغمبرانو د

هغه د راتګ زيرى وركړى دى او په هغه يې ايمان راوړى؛ الله تعالى په قرآن عظيم الشان كې فرمايلي دي:

(الْيَوْمَ أَكْمَلْتُ لَكُمْ دِينَكُمْ وَأَتْمَمْتُ عَلَيْكُمْ نِعْمَتِي وَرَضِيتُ لَكُمُ الْإِسْلَامَ دِينًا)

(الْيَوْمَ أَكْمَلْتُ لَكُمْ دِينَكُمْ وَأَتْمَمْتُ عَلَيْكُمْ نِعْمَتِي وَرَضِيتُ لَكُمُ الْإِسْلَامَ دِينًا)

نن ورځ ما تاسو لپاره ستاسو دين مكمل كړ او پر تاسو باندې مې خپل نعمتونه تمام كړل او ما ستاسو لپاره اسلام د دين په توګه خوښ كړ. [المائدة:3].

د آيت مختصره معنا:

الله تعالى په دې مبارک آيت كې چې پر خاتم النبيين محمد - صلى الله عليه وسلم - يې پداسې حال كې نازل كړ چې هغه حجة الوداع كې د مكې په عرفات كې له مسلمانانو سره ولاړ و او هغوى له الله سره مناجات او دعا كوله، او دا د محمد صلى الله عليه وسلم د ژوند په پاى كې ترسره شو - وروسته له دې چې الله له هغه سره مرسته وكړه، او اسلام خپور شو او قرآن په بشپړ ډول نازل شو.

الله تعالى فرمايي چې د مسلمانانو لپاره يې د دوى دين بشپړ كړى دى، او پر دوى يې خپل نعمت د رسول الله صلى الله عليه وسلم په ليږلو او د قرآن كريم په نزول سره بشپړ كړى دى، او فرمايي چې د دوى لپاره يې اسلام د دين په توګه غوره كړ چې هيڅكله به هغه بد ونه ګڼي، او هيڅكله به له هغه پرته بل دين و نه مني.

او الله -تعالى- فرمايي چې هغه اسلام چې د محمد صلى الله عليه وسلم له لارې يې ټولو خلكو ته رالېږلى دى، هغه بشپړ او جامع دين دى چې د هر وخت، ځاى او ملت لپاره د تطبيق وړ دى، هغه د پوهې، آسانۍ، عدالت او نيكمرغۍ دين دى. او هغه يو دين او دولت دى چې د حكومتولۍ، قضا، سياست، ټولنيز او اقتصاد لپاره سم او ريښتينى نصاب دى، او هر هغه څه ته چې خلك ورته په خپل دنيوي ژوند كې اړتيا لري، او دا هغه څه دي چې د مرګ وروسته ژوند كې د دوى د خوښۍ سبب ګرځي.

***

د اسلام ركنونه

او بشپړ اسلام چې الله تعالى پرې خپل رسول محمد - صلى الله عليه وسلم - رالېږلى دى په پنځو ركنونو ولاړ دى، او يو انسان تر هغه وخته ريښتيني مسلمان ندى تر څو چې په هغو باندې ايمان ونلري او عمل پرې وكړي، او هغه ركنونه دا داي:

١- دا ګواهي وركول چې له الله پرته بل (حق) معبود نشته او محمد د الله رسول دى.

٢- لمونځ اداء كول.

٣- زكات وركول.

۴- د رمضان روژه نيول.

۵- د بيت الله الحرام حج کول، که څوک يې توان ولري .[1]

لومړی رکن:

(شهادة أن لا إله إلا الله، وأن محمدًا رسول الله)

(ګواهي ورکول چې له الله پرته بل حق معبود نشته او محمد د الله رسول دی):

دا ګواهي ورکول په دې معنا دي چې مسلمان بايد پر هغه پوه شي او عمل پرې وکړي، او هغه څوک چې په ژبه يې ووايي او په معنا يې پوه نشي او عمل پرې ونکړي نو هغه ته ګټه نه رسوي.

او د (لا إله إلا الله) معنا دا ده چې: په ځمکه او آسمان کې هيڅ حقيقي معبود نشته مګر يوازې الله دی، ځکه چې هغه ريښتينی الله دی او له هغه پرته هر معبود باطل دی. او د الله معنی: معبود دی.

او هغه څوک چې له الله پرته د بل چا عبادت کوي، پر الله کافر او مشرک دی، که څه هم معبود يې پيغمبر او يا ولي وي، که څه هم د الله جل جلاله د نږدېوالي او د هغه د بللو په پلمه وي؛ له هغه مشرکانو سره چې رسول الله صلی الله عليه وسلم جنګ کړی دی، هغوی هم د پيغمبرانو او اولياوو عبادت

[1] رسول الله صلی الله عليه وسلم فرمايلي دي: اسلام په پنځو شيانو ولاړ دی: دا ګواهي ورکول چې له الله پرته بل معبود نشته او دا چې محمد صلی الله عليه وسلم د الله رسول دی، لمونځ کول، زکات ورکول، د بيت الله حج کول، او د رمضان روژه نيول.» د بخاري تخريج په خپل صحيح کې (۸ ص ۴۵۱۵) او په التاريخ الکبير (۲۱۳/۴)، (۳۱۹/۸، ۳۲۲)، او مسلم (16)، او قرآنی دلايل د رکنونو په بيان کې په تفصيل سره راځي.

نه کاوه مګر په همدې دلیل، او دا یو باطل او مردود دلیل دی، ځکه چې الله جل جلاله ته نږدې کېدل او هغه ته متوسل کیدل بل چاته په عبادت اړولو سره نه کیږي. دا یوازې د الله په نومونو او صفتونو، او په نیکو اعمالو چې هغه باندې الله امر کړی دی، لکه لمونځ، صدقه، ذکر، روژه، جهاد، حج او د والدینو عزت کول. او همداسې نور شیان، او د ژوندي مؤمن دعا د خپل ورور لپاره هرکله چې دعا وکړي.

عبادت ډیر ډولونه لري، له هغې جملې څخه:

۱- دعا:

دا د اړتیاوو غوښتنه ده چې یوازې الله تعالی پر هغه باندې قادر دی لکه باران، ناروغ ته شفا ورکول، هغه تکلیفونه چې هیڅ مخلوق یې نه شي لرې کولای، همدارنګه د جنت غوښتل، او له دوزخ څخه خلاصون، او د اولاد غوښتنه، روزي، خوښي او داسې نور.

دا ټول شیان یوازې له الله څخه غوښتل کیږي، نو څوک چې له مخلوق څخه څه وغواړي، که هغه ژوندی وي که مړ، په حقیقت کې د هغه عبادت یې کړی دی، الله تعالی خپلو بندګانو ته د امر په شکل فرمایي چې یوازې د هغه څخه وغواړي، او فرمایي چې دعا یو عبادت دی، څوک چې عبادت بل چا ته واړوي، هغه به د دوزخیانو له ډلې څخه وي؛ الله تعالی فرمايي:

(وَقَالَ رَبُّكُمُ ادْعُونِي أَسْتَجِبْ لَكُمْ ۚ إِنَّ الَّذِينَ يَسْتَكْبِرُونَ عَنْ عِبَادَتِي سَيَدْخُلُونَ جَهَنَّمَ دَاخِرِينَ)

﴿وَقَالَ رَبُّكُمُ ادْعُونِي أَسْتَجِبْ لَكُمْ ۚ إِنَّ الَّذِينَ يَسْتَكْبِرُونَ عَنْ عِبَادَتِي سَيَدْخُلُونَ جَهَنَّمَ دَاخِرِينَ﴾

او ستاسو رب وفرمایل: تاسو ما وبلئ چې زه ستاسو دعا قبوله کړم، بېشکه هغه کسان چې زما له عبادت نه تکبر کوي، ژر دی چې دوی به دوزخ ته ننوځي، په داسې حال کې چې خوار او ذلیله به وي. [غافر:60]، او الله تعالی فرمایلي دي چې له هغه پرته بل څوک چې بلل کیږي هیچا ته د ګټې او ضرر رسولو توان نلري، که څه هم پیغمبران او یا اولیاء وي:

﴿قُلِ ادْعُوا الَّذِينَ زَعَمْتُم مِّن دُونِهِ فَلَا يَمْلِكُونَ كَشْفَ الضُّرِّ عَنكُمْ وَلَا تَحْوِيلًا﴾

﴿قُلِ ادْعُوا الَّذِينَ زَعَمْتُم مِّن دُونِهِ فَلَا يَمْلِكُونَ كَشْفَ الضُّرِّ عَنكُمْ وَلَا تَحْوِيلًا﴾

ته ووایه: تاسو هغه (معبودان) راوبلئ چې تاسو یې له هغه (الله) نه غیر عقیده لرئ، نو دوی اختیار نه لري له تاسو نه د ضرر لري کولو او نه یې د ګرځولو. [الإسراء:56 او د دی وروسته آیت]، الله تعالی فرمایلي دي:

﴿وَأَنَّ الْمَسَاجِدَ لِلَّهِ فَلَا تَدْعُوا مَعَ اللَّهِ أَحَدًا﴾

﴿وَأَنَّ الْمَسَاجِدَ لِلَّهِ فَلَا تَدْعُوا مَعَ اللَّهِ أَحَدًا﴾

او دا چې یقینًا جوماتونه خاص د الله لپاره دي، نو تاسو له الله سره بل هیڅوک مه بلئ. [الجن:18].

٢- قرباني، نذرونه او د نذرانو وړاندې کول:

دا سمه نه ده چې څوک دې په وینه تویولو، نذرانه کولو، او یا په نذر سره خپل ځان نږدې کړي مګر یوازې الله تعالی

لپاره، او څوک چې له الله پرته د بل چا لپاره وینه تویوي - لکه څوک چې قبر او یا پیری لپاره ذبح کوي – نو دې کس د الله پرته د بل چا عبادت وکړ او د الله د لعنت مستحق وګرځید؛ الله فرمایلي دي:

(قُلْ إِنَّ صَلَاتِي وَنُسُكِي وَمَحْيَايَ وَمَمَاتِي لِلَّهِ رَبِّ الْعَالَمِينَ)

(قُلْ إِنَّ صَلَاتِي وَنُسُكِي وَمَحْيَايَ وَمَمَاتِي لِلَّهِ رَبِّ الْعَالَمِينَ)

ته ووایه: بېشکه زما لمونځ او زما قرباني او زما ژوند او زما مرګ خاص د الله رب العالمین لپاره دي. [الأنعام:162-163].

او رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل: "د الله لعنت دی په هغه چا چې د الله پرته د بل چا لپاره قرباني کوي."[1].

او که یو انسان ووایي: " د فلاني پر ما باندې نذر دی که ما ته دا شی پیښ شو، نو زه به دغه شی صدقه ورکوم او یا به دغه کار وکړم"، دغه نذر الله سره شرک راوړل دي؛ ځکه چې دا د مخلوق لپاره نذر دی، او نذر یو عبادت دی چې یوازې د الله لپاره باید ترسره شي، او یو مشروع نذر دا دی چې ووایې: "د الله پر ما باندې نذر دی چې زه به دغه شی صدقه ورکړم، او یا دا ډول اطاعت وکړم که ماته دغه شی پیښ شو".

---

[1] مسلم (1978) او نسائي (4422) روایت کړی.

۳- عمومي مرسته غوښتل، ځانګړې وخت کې مرسته غوښتل، او پناه غوښتل[1]

نو استغاثه او استعانه او استعاذه پرته له الله جل جلاله د بل چا څخه نه غوښتل کيږي، نه مرسته غواړي او نه پناه غواړي؛ الله تعالی په قران کريم کې فرمايلي دي:

(إِيَّاكَ نَعْبُدُ وَإِيَّاكَ نَسْتَعِينُ)

(إِيَّاكَ نَعْبُدُ وَإِيَّاكَ نَسْتَعِينُ)

مونږ خاص ستا عبادت کوو او خاص له تا نه مدد غواړو. [الفاتحة:5]، او الله تعالی فرمايلي دي:

(قُلْ أَعُوذُ بِرَبِّ الْفَلَقِ (1) مِن شَرِّ مَا خَلَقَ (2))

(قُلْ أَعُوذُ بِرَبِّ الْفَلَقِ (1)

(ای نبي) ته ووايه: زه په رب د سبا پورې پناه نيسم.

مِن شَرِّ مَا خَلَقَ (2))

د هر هغه شي له شر نه چې ده پيدا کړې دی. [الفلق:1-2]، رسول الله صلی الله عليه وسلم فرمايلي:

«إِنَّهُ لَا يُسْتَغَاثُ بِي وَإِنَّمَا يُسْتَغَاثُ بِاَللَّهِ»،

«إِنَّهُ لَا يُسْتَغَاثُ بِي وَإِنَّمَا يُسْتَغَاثُ بِاَللَّهِ»[2]،

---

[1] استعانة: په عمومي شکل باندې د مرستې غوښتل. استغاثة: د غم او تکليف په وخت کې د مرستې غوښتل. استعاذة: پناه غوښتل او منګولې لګول پر هغه چا باندې چې بدی او ناخوالې له منځه وړي.

[2] احمد (22758/317/5) او طبراني (246/10) روايت کړی او الباني رحمه الله يې تصحيح کړې ده.

« بېشکه له ما څخه مرسته نه غوښتل کیږي، بلکې له الله څخه مرسته غوښتل کیږي » او رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمايلي:
«إِذَا سَأَلْتَ فَاسْأَلْ اللَّهَ وَإِذَا اسْتَعَنْتَ فَاسْتَعِنْ بِاللَّهِ».
«إِذَا سَأَلْتَ فَاسْأَلْ اللَّهَ وَإِذَا اسْتَعَنْتَ فَاسْتَعِنْ بِاللَّهِ».
"که څه غواړې، نو له الله نه يې وغواړه، او که مرسته غواړې، نو له الله څخه مرسته وغواړه."[1].

د حاضر او ژوندي انسان څخه مرسته غوښتل صحيح دي، او يوازې په هغه څه چې توان لري مرسته وغوښتل شي، لیکن پناه غوښتل يوازې په الله پورې بانديې کیږي، له مړي او غایب څخه مرسته نه غوښتل کیږي، او په هیڅ صورت کې له هغه څخه مرسته نه غوښتل کیږي، ځکه چې هغه د هیڅ شي اختیار نه لري، حتی که هغه پیغمبر، ولي او یا پاچا هم وي.

او غیبو بانديې يوازې الله تعالی پوهیږي، نو که هر څوک دا دعوه وکړي چې هغه په غیب پوهیږي هغه کافر دی او باید خبره يې و نه منل شي، که څه ځینې وړاندوینې هم وکړي او هغه صحیح ثابتې شي هغه به يو تصادفي او توافقي خبره وي؛

رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمايلي دي:
«مَنْ أَتَى كَاهِنًا، أَوْ عَرَّافًا، فَصَدَّقَهُ بِمَا يَقُولُ، فَقَدْ كَفَرَ بِمَا أُنْزِلَ عَلَى مُحَمَّدٍ»[20].

---

[1] د ترمذي (2516)، احمد (2802) او طبراني (2820) (12989) تخريج دی = او ترمذي ويلي دي: حسن او صحيح حديث.

"څوک چې يو کاهن يا فال ويونکي ته لاړ شي او په هغه څه باور وکړي چې هغه يې وايي، نو دغه کس په هغه څه کفر وکړ چې پر محمد نازل شوي دي».[1]

توکل، هيله او خشوع: انسان له الله پرته په بل چا باندې توکل نکوي، او له الله پرته له بل چا څخه هيله نه لري، او له الله پرته د بل چا لپاره خشوع او عاجزي نکوي.[2]

له بده مرغه ډېر خلک چې ځانونه اسلام پورې تړلي بولي له الله سره شرک کوي، او له الله پرته ژوندي لويان او د قبرونو والاو څخه غوښتنه کوي، او د هغوى له قبرونو څخه طواف کوي، او له هغوى څخه خپل حاجت او اړتياوې غواړي، او دغه ډول کړنې د غير الله عبادت دى او ددې کړنو کوونکى مسلمان ندى؛ که څه هم د اسلام دعوه وکړي، او ووايي چې لا إله إلا الله محمد رسول الله، او لمونځ وکړي، روژه ونيسي، او د بيت الله حج وکړي؛ الله تعالى فرمايلى دي:

(وَلَقَدْ أُوحِيَ إِلَيْكَ وَإِلَى الَّذِينَ مِن قَبْلِكَ لَئِنْ أَشْرَكْتَ لَيَحْبَطَنَّ عَمَلُكَ وَلَتَكُونَنَّ مِنَ الْخَاسِرِينَ)

(وَلَقَدْ أُوحِيَ إِلَيْكَ وَإِلَى الَّذِينَ مِن قَبْلِكَ لَئِنْ أَشْرَكْتَ لَيَحْبَطَنَّ عَمَلُكَ وَلَتَكُونَنَّ مِنَ الْخَاسِرِينَ)

او يقينًا تا ته وحي کړى شوې ده او هغو کسانو ته چې له تا نه مخکې وو (داسې چې) قسم دى که تا شرک وکړ (نو)

---

[1] د ابوداود (3904)، ترمذي (135) او ابن ماجه (639) تخريج دى، او الباني په صحيح الترغيب و الترغيب (3047) کې يې صحيح بللى دى.

[2] توکل: د زړه اعتماد او تکيه په هغه چا باندې چې توکل کيږي. هيله: د زړه تعلق = پر هغه خوښى باندې چې په راتلونکي کى منځ ته راځي.

ستا عمل به خامخا برباد شي او ته به خامخا له تاوانیانو څخه شې. [الزمر:65]، او الله تعالی فرمایلي دي:

(إِنَّهُ مَن يُشْرِكْ بِاللَّهِ فَقَدْ حَرَّمَ اللَّهُ عَلَيْهِ الْجَنَّةَ وَمَأْوَاهُ النَّارُ ۖ وَمَا لِلظَّالِمِينَ مِنْ أَنصَارٍ)

(إِنَّهُ مَن يُشْرِكْ بِاللَّهِ فَقَدْ حَرَّمَ اللَّهُ عَلَيْهِ الْجَنَّةَ وَمَأْوَاهُ النَّارُ ۖ وَمَا لِلظَّالِمِينَ مِنْ أَنصَارٍ)

بېشکه خبره دا ده چې څوک له الله سره شریک نیسي، نو یقینًا په هغه باندې الله جنت حرام کړی دی او د هغه استوګنه اور دی او د ظالمانو لپاره هیڅوک مدد کوونکی نشته. [المائدة:72].

او الله تعالی خپل رسول محمد صلی الله علیه وسلم ته امر کړی، چې خلکو ته ووايي:

(قُلْ إِنَّمَا أَنَا بَشَرٌ مِّثْلُكُمْ يُوحَىٰ إِلَيَّ أَنَّمَا إِلَٰهُكُمْ إِلَٰهٌ وَاحِدٌ ۖ فَمَن كَانَ يَرْجُو لِقَاءَ رَبِّهِ فَلْيَعْمَلْ عَمَلًا صَالِحًا وَلَا يُشْرِكْ بِعِبَادَةِ رَبِّهِ أَحَدًا)

(قُلْ إِنَّمَا أَنَا بَشَرٌ مِّثْلُكُمْ يُوحَىٰ إِلَيَّ أَنَّمَا إِلَٰهُكُمْ إِلَٰهٌ وَاحِدٌ ۖ فَمَن كَانَ يَرْجُو لِقَاءَ رَبِّهِ فَلْيَعْمَلْ عَمَلًا صَالِحًا وَلَا يُشْرِكْ بِعِبَادَةِ رَبِّهِ أَحَدًا)

ته (دوی ته) ووایه: بېشکه همدا خبره ده چې زه یواځې ستاسو په شان بشر یم، ما ته وحي کولی شي چې بېشکه ستاسو معبود یواځې یو معبود دی، نو هغه څوک چې د خپل رب د ملاقات هیله لري، نو هغه دې نېک عمل وکړي او د خپل رب په عبادت کې دې هیڅوک نه شریکوي. [الکهف:110].

دغه جاهل خلک د شر او ګمراهۍ علماوو له خوا دوکه شوي دي، چې ځينې فرعي مسايل يې پېژندلي او توحيد يې هير کړی کوم چې د دين اساس او بنسټ دی، نو له همدې کبله شرک ته خلک رابلي؛ د وسېلې او سپارش په معنی د ناپوهۍ له وجې، او د هغوی حجت او دليل د رسول الله -صلی الله عليه وسلم- پخواني او اوسني عصر کې د ځينو درواغي نصوصو او احاديثو فاسد او نا سم تفسيرونه وو، هغه کيسې او د خوب ليدلو کيسې چې شيطان د دوی لپاره جوړې کړي دي؛ او ددې په څير نور د ګمراهۍ موارد چې دوی په خپلو کتابونو کې راټول کړي؛ ترڅو خپل عبادت د غير الله لپاره ثابت کړي؛ د شيطان د پيروۍ او د پلرونو او نيکونو ړوند تقليد له وجې، لکه د لومړنيو مشرکانو په څير.

او هغه وسيله چې الله تعالی موږ ته په خپل قول کې د اخيستلو امر کړی دی (وَابْتَغُوا إِلَيْهِ الْوَسِيلَةَ) (المائده: 35)، هغه: نيک عملونه دي لکه: د الله توحيد، لمونځ، صدقه، روژه، حج، جهاد، په نېکيو امر کول او له بديو منع کول، د خپلولۍ ټينګول، او داسې نور، ليکن د مړو رابلل او په سختيو او مصيبتونو کې د هغوی نه مرسته غوښتل، نو دا د الله پرته د هغوی لپاره عبادت دی.

د پيغمبرانو، اولياوو او نورو مسلمانانو شفاعت چې الله تعالی د شفاعت کولو واک ورکړی حق دی او موږ ورباندې باور لرو، مګر دا د مړو څخه نه غوښتل کيږي؛ ځکه چې دا د الله حق دی او د هغه له اجازې پرته هيچا لپاره نه حاصليږي، نو موحد انسان له الله تعالی څخه غواړي او وايي:

ای الله خپل رسول او خپل صالح بندګان زما لپاره شفیع وګرځوه، او داسې دې نه وايي چې: اې فلانيه زما شفاعت وکړه؛ ځکه چې هغه مړ دی، او له مړي څخه هيڅ هم نه غوښتل کېږي.

(قُل لِّلَّهِ الشَّفَاعَةُ جَمِيعًا ۖ لَّهُ مُلْكُ السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضِ ۖ ثُمَّ إِلَيْهِ تُرْجَعُونَ)

(قُل لِّلَّهِ الشَّفَاعَةُ جَمِيعًا ۖ لَّهُ مُلْكُ السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضِ ۖ ثُمَّ إِلَيْهِ تُرْجَعُونَ)

ته (دوی ته) ووایه: شفاعت ټول خاص د الله په اختیار کې دی،خاص د هغه لپاره د اسمانونو او ځمکې بادشاهي ده، بیا به تاسو خاص هغه ته بېرته ورګرځول کيږئ. [الزمر:44].

د حرامو بدعتونو له جملې څخه چې له اسلام سره په ټکر کې دي او رسول الله صلی الله علیه وسلم ترې منع کړې ده - کوم چې په صحیحو احادیثو؛ بخاري، مسلم او سننو کې راغلي دي: پر قبرونو باندې د جوماتونو جوړول او څراغونه پرې لګول، په هغه باندې آبادي، د قبرونو سېمنټ کول او پخول او په هغې باندې ليکل، او پر هغې باندې پردې اچول، او په قبرستان کې لمونځ کول، دا ټول رسول الله صلی الله علیه وسلم منع کړي دي؛ ځکه چې دا د قبر پرستو د عبادت کولو لپاره يو لوی لامل دی.

نو لدې سره څرګنده شوه چې د شرک له جملې څخه هغه دي چې په ډېرو هېوادونو کې يې جاهلان د ځينو قبرونو په وړاندې تر سره کوي، لکه په مصر کې د بدوي او سيده زينب قبرونه، په عراق کې د جيلاني قبر، او اهل بيت رضی الله

عنهم ته منسوب قبرونه چې د عراق په نجف ښار او کربلا کې دي، او نور قبرونه په ډېرو هیوادونو کې چې طواف ورځخه کیږي، اړتیاوې ورځخه غوښتل کیږي، او په اړه یې د ګټې او یا تاوان رسولو باور ساتل کیږي.

نو څرګنده شوه چې پدې کار سره هغوی مشرک او ګمراهان دي، و لو که د اسلام دعوه وکړي، لمونځ وکړي، روژه ونیسي او د بیت الله حج وکړي، او په ژبه دا ووایي چې لا إله إلا الله محمد رسول الله،ځکه چې د لا إله إلا الله محمد رسول الله ویونکی یوازې په ویلو سره موحد نه ګڼل کیږي؛ تر څو چې د دې کلمې په معنی باندې ځان پوه نکړي او عمل پرې ونکړي - لکه څنګه چې مخکې ورته اشاره شوې ده -، مګر غیر مسلم د دې کلمې په ویلو سره اسلام ته داخلیږي، او تر هغه وخته پورې مسلمان بلل کیږي تر څو چې له هغه ځخه دا څرګنده نه شي چې ددې کلمې ضد وي او د دې ښکارندوینه وکړي چې هغه تر اوسه هم په شرک کې پاتې دی، د هغو جاهلانو په څېر، او یا د اسلام له ځینو فرایضو ځخه انکار وکړي وروسته له دې چې ورته بیان شوي وي، او یا په هغه دین باندې عقیده ولري چې د اسلام له دین سره په ټکر کې وي.

پیغمبران او ولیان له هغو خلکو ځخه بېزاره دي چې هغوی یې را بلي او له هغوی ځخه مرسته غواړي؛ ځکه چې الله تعالی خپل پیغمبران رالیږلي ترڅو خلک یوازې د هغه عبادت

ته دعوت کړي، او له هغه پرته د بل چا عبادت پرېږدي که هغه پیغمبر او یا ولي او یا نور څوک وي.[1]

او د رسول الله -صلی الله علیه وسلم- او د هغه د پېروانو سره مېنه د هغوی په بنده ګۍ کولو کې نه ده؛ ځکه د هغوی بنده ګي کول د هغوی سره دښمني ده، لیکن د دوی سره مینه کول د دوی په پیروي او د هغوی د لارې تعقیبولو کې ده، او رېښتینی مسلمان د پیغمبرانو او ولیانو سره مینه لري مګر د هغوی عبادت نه کوي.

او موږ په دې باور یو چې د رسول الله صلی الله علیه وسلم سره مینه کول په موږ باندې د خپل ځان، کورنۍ، اولاد او ټولو خلکو څخه په لوړه کچه واجب ده.

***

ژغورل شوې ډله

1 د الله ولیان هغه څوک دي چې د الله پر وحدانیت ایمان ولري او دهغه اطاعت وکړي، او د هغه د رسول -صلی الله علیه وسلم- پیروي وکړي، ځینې یې د خپلې پوهې او خپل جهاد له امله پیژندل شوي دي، او ځیې یې ندي پیژندل شوي، او د دوی په منځ کې مشهور خلک په دې راضي ندي چې خلک دې د هغه تقدیس وکړي، او رېښتیني ولیان دا دعوا نه کوي چې دوی اولیا دي، بلکه خپل ځان داسې ورته ښکاري چې هغوی نیمګړتیاوې لري، هغوی هیڅ کومې ځانګړې جامې یا ځانګړې شکل نه لري پرته لدې چې په دې کې د رسول الله -صلی الله علیه وسلم- پیروي کوي، موحد او د الله د رسول پیروي کوونکی مسلمان د خپل صلاح او اطاعت په اندازه د الله تعالی ولایت (محبت) ورسره وي، نو په دې توګه دا څرګنده شوه چې هغه کسان چې د الله د ولي توب دعوا کوي، او ځانګړې جامې اغوندي چې خلک د هغه تعظیم او او تقدیس وکړي، دا معلومه شوه چې هغوی د الله ولیان ندي، هغوی درواغجن دي.

مسلمانان په شمېر کې ډېر دي، خو په حقیقت کې لږ دي، او هغه فرقې او ډلې چې د اسلام ته منسوبې دی ډېرې دي، چې ۷۳ فرقو ته رسيږي، د غړو شمېر يې تر زرو ميليونو ډېر دی ، مګر د مسلمانانو حقيقي ډله يوه ده، او دا هغه ډله چې الله تعالى په وحدانيت سره پيژني او د محمد -صلى الله عليه وسلم- طريقه تعقيبوي، او د هغه د اصحابو لاره په عقيده او صالح عمل باندې تعقيبوي، لکه څنګه چې رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايلي دي:[1]

«افْتَرَقَتِ اليَهُودُ عَلَى إِحْدَى وسَبْعِينَ فِرْقَةً، وافْتَرَقَتِ النَّصَارَى على اثْنَتَيْنِ وسَبْعِينَ فِرْقَةً ، وستَفْتَرِقُ هَذِهِ الأُمَّةُ عَلَى ثَلَاثٍ وسَبْعِينَ فِرْقَةً كُلُّهَا فِي النَّارِ إِلَّا وَاحِدَةً».

يهوديان په يو اويا فرقو وويشل شول، او عيسويان په دوه اوياو فرقو وويشل شو، او دغه امت به په درې اويا فرقو وويشل شي، ټول به په دوزخ کې وي پرته له يوې فرقې څخه.

صحابه کرامو وويل: هغه کومه ډله ده ای د الله رسوله؟ هغه وويل:

«مَنْ كَانَ عَلَى مِثْلِ مَا أَنَا عَلَيْهِ اليَومَ وَأَصْحَابِي»[24].

" هغه ډله کومه چې هغه لاره تعقيبوي چې نن ورځ زه او زما صحابه پر هغې باندې يو." .[2]

---

1 د هغه احصايې له مخې چې د کتاب ليکلو په وخت کې په 1395هـ/1975 ميلادي کال کې اعلان شوې ده.

2 ابو داود (۳۸۴۲)، او ابن ماجه (۳۲۲۶) تخريج کړی، او البانی په صحيح الجامع (۱۰۸۲) او السلسلة الصحيحة (۲۰۳) کې تصحيح کړی دی.

هغه څه چې د رسول الله صلى الله عليه وسلم او د هغه د صحابه کرامو عقيده ده چې له الله پرته بل معبود نشته، محمد د الله رسول دی، او په هغه باندې عمل کول يوازې د الله په رابللو سره، يوازې الله ته قرباني او نذر کول، يوازې الله څخه مرسته او مدد غوښتل، او يوازې الله تعالى ته پناه وړل، او پر دې باندې عقيده ساتل چې د ګټې او ضرر رسوونکی يوازې الله دی، او د اسلام د رکنونو عملي کول بايد خاص الله لپاره وي، او د هغه په ملائکو، کتابونو، رسولانو، قيامت، پس له مرګه ژوند، جنت او دوزخ، د خير او شر په تقدير تصديق کول، او دا چې دا ټول د الله تعالى له طرفه دي. د قرآن او سنتو تحکيم په مختلفو برخو کې، او د هغو په احکامو باندې راضي اوسيدل، او د الله له اولياوو سره دوستي، او د هغه له دښمنانو سره دښمني، او د الله لورې ته دعوت کول او د هغه په لاره کې جهاد او پر هغه باندې غونډيدل، او د مسلمان مشر (حاکم) ته غوږ نيول او اطاعت کول که هغه د نيکۍ امر وکړي، او په هر ځای کې چې اوسي بايد د حق خبره وکړي، د رسول الله صلى الله عليه وسلم له ميرمنو او کورنۍ سره مينه کول، او د رسول الله صلى الله عليه وسلم له صحابه کرامو سره مينه کول، او د هغوی د فضيلت په تناسب هغوی ته لومړيتوب ورکول، او هغوی ټولو ته رضی الله عنهم ويل، د هغوی تر منځ له اختلاف څخه ځان ساتل، او د هغوی په اړه د ځينو منافقانو لخوا بدنامي او توهين باندې باور نه کول، هغه توهين چې موخه يې د مسلمانانو په منځ کې د تفريقې اچول وي، او ځينې علما او مورخين په دې کې دوکه شوي و، او خپلو

کتابونو کې د ښه نیت له مخې ځای پر ځای کړې، حال دا چې دا ناسم کار دی.[1]

هغه کسان چې د اهل بیت دعوا کوي او ځانونه سیدان بولي، هغوی باید خپل نسب څخه ځانونه ډاډه کړي؛ ځکه چې الله پر هغه چا لعنت ویلی دی چې د خپل پلار پرته بل چا ته منسوب شي، نو هرکله چې د هغوی نسب ثابت شو، نو هغوی باید په اخلاص سره د الله پر وحدانیت د رسول الله صلی الله علیه وسلم - او د هغه د کورنۍ پیروي وکړي، ګناهونه پرېږدي او کله چې خلک هغوی ته سجدې او تعظیم کوي او د هغوی زنګنونه او پښې ښکلوي باید خپله ناخوښۍ څرګنده کړي، او په ځانګړي لباس کې له خپلو مسلمانو ورونو سره باید توپیر ونلري؛ ځکه چې دا ټول د هغه څه خلاف دي چې رسول الله صلی الله علیه وسلم پرې عمل کړی دی، او هغه له دې څخه بېزار دی، او د الله په نزد تر ټولو عزتمند خلک متقیان دي.

وصلی الله علی نبینا محمد وعلی آله وسَلَّمَ تسلیمًا.

***

حکم او قانون جوړول یوازې د الله حق دی او چېرته چې قانون وي هلته عدالت، رحمت او فضیلت وي.

او د " لا إله إلا الله " له معنا ګانو څخه چې باید باور او عمل ورباندې وشي: دا چې حکم او قانون جوړول یوازې د

---

[1] یعني د صحابه کرامو په منځ کې چې څه پیښ شوی دی، په نقد او یا جرح باندې تبصره نه کول.

الله حق دی، د هيڅ انسان لپاره جواز نلري چې په هيڅ موضوع کې د الله له قانون سره مخالف قانون وضع کړي، او مسلمان ته دا جواز نلري چې د الله له نازل شوي قانون پرته په بل څه باندې حکم وکړي، او همدارنګه هغه لپاره جواز نلري چې هغه حکم ومني چې د الله له قانون سره په ټکر کې وي، او د هېچا لپاره دا جواز نه لري چې هغه څه چې الله حرام کړي حلال يې کړي، او يا هغه څه يې چې حلال کړي وی حرام يې کړي، که څوک دا کار په قصد سره وکړي او يا پرې راضي وي، نو هغه په الله تعالی باندې کافر دی؛ الله تعالی فرمايلی:

(وَمَن لَّمْ يَحْكُم بِمَا أَنزَلَ اللَّهُ فَأُولَٰئِكَ هُمُ الْكَافِرُونَ)

(وَمَن لَّمْ يَحْكُم بِمَا أَنزَلَ اللَّهُ فَأُولَٰئِكَ هُمُ الْكَافِرُونَ)

او چا چې د الله په نازل کړي (کتاب، قانون) باندې فيصله ونه کړه، نو همدغه خلق کافران دي. [المائدة:44].

***

د رسولانو دنده چې الله پرې دوی رالیږلي دي

توحيد کلمې -لا إله إلا الله - ته د خلکو را بلل دي، او د کلمې په مقتضا باندې عمل کول، او هغه يوازې د الله عبادت دی، په دې معنا چې د مخلوق عبادت او قانون څخه وتل او د يوازې خالق عبادت او قانون په لورې تلل دي چې هيڅ شريک نلري.

او څوک چې قرآن عظيم الشان په غور سره ولولي او له رانده تقليد څخه ځان لرې وساتي، هغه به په بشپړه توګه پوهه شي چې هغه څه مو چې بيان کړل حق دی، او په دې به هم پوهه شي چې الله تعالی خپله اړيکه له انسان او مخلوق سره

تعينه کړې ده، نو د خپل مومن بنده اړيکه يې په دې سره ټاکلې ده چې ټول عبادتونه خاص هغه لپاره وي او هيڅ ډول عبادت د بل چا لپاره ونشي، او د بنده اړيکه يې له پيغمبرانو سره داسې جوړه کړې ده چې هغوی سره مينه او د هغوی متابعت او پيروي وشي، او د بنده اړيکه يې له کافرانو سره داسې تعينه کړې ده چې له هغوی څخه کرکه وشي؛ ځکه چې الله له هغوی څخه کرکه کوي او له دې سره سره دوی اسلام ته رابولي او دوی ته اسلام واضح کوي ترڅو هغوی ته هدايت وکړی شي، او که هغوی له اسلام څخه انکار وکړي او د الله له حاکميت څخه سرغړونه وکړي، نو هغوی سره جهاد کوي، ترڅو ظلم او فتنه پاتې نشي او دين ټول خاص د الله لپاره شي. دا د توحيد د کلمې - لا إله إلا الله- معناوې دي او مسلمان باندې واجب دي چې هغه باندې بايد ځان پوه کړي؛ ترڅو رښتينی مسلمان ترې جوړ شي.

## د محمد رسول الله شهادت (ګواهۍ) معنا

ددې شهادت (ګواهۍ) معنا چې محمد د الله رسول دی داده چې پدې پوه شې او باور ولرې چې محمد ټولو خلکو ته د الله رسول دی، او دا چې هغه يو بنده دی او عبادت يې نه کيږي، هغه رسول دی چې دروغ و نه ګڼل شي، بلکې بايد د هغه اطاعت او پيروي وشي، څوک چې د هغه اطاعت وکړي جنت ته به داخل شي او څوک چې د هغه نافرماني وکړي دوزخ ته به داخل شي، او په دې پوهېدل او باور کول چې د قانون اوشريعت اخيستل که هغه عباداتو کې وي چې الله تعالی هغې باندې امر کړی وي، او يا د حکومت او شريعت د نظام په

جوړونې کې وي، او يا په حلال او حرام کې وي، دا ټول بايد يوازې د ګران رسول محمد صلى الله عليه وسلم له لارې تر سره شي؛ ځکه چې هغه د الله رسول دى چې د هغه شريعت تبليغوي، نو مسلمان لپاره دا جواز نه لري چې هغه قانون ومني چې د رسول الله صلى الله عليه وسلم له طريقې پرته د بلې لارې څخه راغلى وي؛ الله تعالى فرمايلي دي:

(وَمَا آتَاكُمُ الرَّسُولُ فَخُذُوهُ وَمَا نَهَاكُمْ عَنْهُ فَانتَهُوا ۚ وَاتَّقُوا اللَّهَ ۖ إِنَّ اللَّهَ شَدِيدُ الْعِقَابِ)

(وَمَا آتَاكُمُ الرَّسُولُ فَخُذُوهُ وَمَا نَهَاكُمْ عَنْهُ فَانتَهُوا ۚ وَاتَّقُوا اللَّهَ ۖ إِنَّ اللَّهَ شَدِيدُ الْعِقَابِ)

او رسول چې تاسو ته څه هم درکړي، نو هغه واخلئ او له څه نه چې هغه تاسو منع کړي ياست، نو تاسو منع شئ او له الله نه ووېرېږئ، بېشکه الله ډېر سخت عذاب والا دى. [الحشر:7]، او الله تعالى فرمايلي دي:

(فَلَا وَرَبِّكَ لَا يُؤْمِنُونَ حَتَّىٰ يُحَكِّمُوكَ فِيمَا شَجَرَ بَيْنَهُمْ ثُمَّ لَا يَجِدُوا فِي أَنفُسِهِمْ حَرَجًا مِّمَّا قَضَيْتَ وَيُسَلِّمُوا تَسْلِيمًا)

(فَلَا وَرَبِّكَ لَا يُؤْمِنُونَ حَتَّىٰ يُحَكِّمُوكَ فِيمَا شَجَرَ بَيْنَهُمْ ثُمَّ لَا يَجِدُوا فِي أَنفُسِهِمْ حَرَجًا مِّمَّا قَضَيْتَ وَيُسَلِّمُوا تَسْلِيمًا)

پس داسې نه ده، ستا پر رب مې دې قسم وي! دوى مومنان کېدى نشي تر هغه پورې چې دوى په خپل مينځ کې په پېښو جګړو کې تا فيصله کوونکى ومني، بيا په خپلو نفسونو کې ستا د کړې فيصلې په باره کې هېڅ تنګي ونه مومي او په بشو منلو سره يې ومني. [النساء:65].

د دوو آيتونو معنا:

۱- په لومړي آيت کې، الله تعالی مسلمانانو ته امر کوي چې د خپل رسول محمد -صلی الله علیه وسلم- اطاعت وکړي په هر هغه څه کې چې هغه امر کوي، او له هر هغه څه څخه چې منع کوي ډډه وکړي؛ ځکه چې هغه د الله په امر، امر کوي او د هغه په منعې سره منع کوی.

۲- په دويم آيت کې الله پاک په خپل سپیڅلي نفس باندې قسم کوي چې د انسان ایمان په الله او د هغه پر رسول تر هغه پورې صحیح نه دی، تر څو چې رسول د ده او نورو تر منځ د اختلاف په صورت کې پرېکړه ونه کړي، او بیا د هغه پر قضاوت راضي شي، او هغه ته غاړه کېږدي او هغه ته دې وسپارل شی. رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمايلي دي:[1]

«مَنْ عَمِلَ عَمَلاً لَيْسَ عَلَيْهِ أَمْرُنَا فَهُوَ رَدٌّ».

"څوک چې یو عمل وکړي چې هغه زموږ حکم کې نه وي، هغه مردود دی"[2]

***

اعلان

– اې هوښیاره – که ته د : « لا إله إلا الله محمد رسول الله، یعني له الله پرته بل معبود نشته او محمد د الله رسول دی» په معنا پوه شوی يې او ته پوه شوې چې دا شهادت (ګواهي) د اسلام چابي (کلي) ده او د اسلام بنسټ پر دې جوړ شوی دی،

---

1 د هغه او نورو تر منځ اختلاف رامنځته کیږي.

2 د بخاري (2697)، او مسلم (1718) تخریج او لفظ د بخاري دی.

نو په اخلاص سره ووايه: " أشهد أن لا إله إلا الله، وأشهد أن محمدًا رسول الله"، زه شاهدي ورکوم چې د الله پرته بل معبود نشته او زه شاهدي ورکوم چې محمد د الله رسول دی"، او د دې شهادت په معنا عمل کوم؛ ترڅو د دنيا او آخرت خوښۍ ترلاسه کړې، او د مرګ وروسته د الله له عذاب څخه خلاصون ومومې.

او پوه شه چې ددې ګواهي چې "له الله پرته بل معبود نشته او محمد د الله رسول دی" له غوښتنو څخه دا دي چې: د اسلام په نورو رکنونو باندې عمل وکړې؛ ځکه چې الله په مسلمان باندې دغه رکنونه فرض کړي دي ترڅو د رکنونو په عملي کولو سره په رېښتيا او اخلاص د هغه عبادت وکړې، چا چې د هغې يو رکن له شرعي عذر پرته پرېښود، د "لا إله إلا الله" په معنا کې يې خلل او نقص پيدا کړ او د هغه شهادت (ګواهي) صحيح نه ګڼل کيږي.

***

د اسلام له رکنونو څخه دويم رکن (لمونځ) دی

پوه شه – اې هوښياره – چې د اسلام دويم رکن لمونځ دی: چې په ورځ او يوه شپه کې پنځه لمونځونه دي، چې الله تعالی وضع کړي دي؛ ترڅو د الله او مسلمان تر منځ يوه رابطه وي، او د دې له لارې الله سره مناجات او دعا وکړي، ترڅو لمونځ مسلمان له بې حيايۍ او بديو څخه منع کړي، او هغه ته روحي او جسمي سکون په دنيا او آخرت کې په برخه شي.

الله تعالی د لمانځه لپاره د بدن او جامو پاکوالی او هغه ځای چې لمونځ پکې کيږي فرض کړی دی، نو مسلمان په اوبو

سره خپل ځان له نجاست څخه پاکوي، لکه: ادرار او غایطه مواد، د دې لپاره چې بدن یې له حسي نجاست او زړه یې له معنوي نجاست څخه پاک شي.

لمونځ د دین ستنه ده، او له شهادتینو څخه وروسته تر ټولو مهمه ستنه ده؛ مسلمان باید د بلوغ څخه تر مرګ پورې د هغه ساتنه او ورته پابند اوسي، او مسلمان باید خپله کورنۍ او ماشومان له اوه کلنۍ څخه د لمونځ ادا کولو ته وهڅوي؛ ترڅو ورسره عادت شي، الله تعالی فرمایي:

(إِنَّ الصَّلَاةَ كَانَتْ عَلَى الْمُؤْمِنِينَ كِتَابًا مَّوْقُوتًا)

(إِنَّ الصَّلَاةَ كَانَتْ عَلَى الْمُؤْمِنِينَ كِتَابًا مَّوْقُوتًا)

بېشکه لمونځ له شروع نه په مومنانو باندې په (معلومو وختونو کې فرض کړی شوی دی. [النساء:103]، الله تعالی فرمایي:

(وَمَا أُمِرُوا إِلَّا لِيَعْبُدُوا اللَّهَ مُخْلِصِينَ لَهُ الدِّينَ حُنَفَاءَ وَيُقِيمُوا الصَّلَاةَ وَيُؤْتُوا الزَّكَاةَ ۚ وَذَٰلِكَ دِينُ الْقَيِّمَةِ)

(وَمَا أُمِرُوا إِلَّا لِيَعْبُدُوا اللَّهَ مُخْلِصِينَ لَهُ الدِّينَ حُنَفَاءَ وَيُقِيمُوا الصَّلَاةَ وَيُؤْتُوا الزَّكَاةَ ۚ وَذَٰلِكَ دِينُ الْقَيِّمَةِ)

حال دا چې دوی ته حکم نه و ورکړی شوی مګر په دې چې دوی دې د الله عبادت وکړي، په داسې حال کې چې دین (عبادت) دغه (الله) لره خالص کوونکی وي (او) حنیفان (له باطله حق ته راګرځېدونکي) وي، او (د دې چې) دوی دې لمونځ قایموي او زکات دې ورکوي او همدغه ډېر محکم دین دی. [البینة:5].

د دوو آيتونو مختصره معنا:

١- الله تعالی په لومړي آيت کې فرمايي چې لمونځ په مؤمنانو باندې قطعي فرض دی،

او دوی بايد لمونځونه په خپل ټاکلي وخت کې ترسره کړي.

2- په دويم آيت کې الله عزوجل فرمايی هغه امر چې خلکو ته يې کړی او د هغه لپاره يې پيدا کړي دي دا دی چې يوازې د هغه عبادت وکړي، او په عبادت کې ورته اخلاص وکړي، لمونځ ادا کړي، او مستحقو کسانو ته زکات ورکړي.

او لمونځ په مسلمان باندې په هر حالت کې فرض دی، حتا د وېرې او ناروغۍ په وخت کې، د خپل توان په اندازه بايد لمونځ ادا کړي، که هغه په ولاړه وي، يا په ناسته وي او يا د پروت په حالت کې وي، حتا که يوازې سترګو او يا د زړه په اشارې سره وي، بايد په اشارې سره لمونځ وکړي، پدې هکله رسول الله -صلی الله عليه وسلم- فرمايلي دي څوک چې لمونځ پرېږدي هغه مسلمان نه دی، که هغه نارينه وي او يا ښځينه وي، او هغه رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايلي دي:

«الْعَهْدُ الَّذِي بَيْنَنَا وَبَيْنَهُمْ الصَّلَاةُ فَمَنْ تَرَكَهَا فَقَدْ كَفَرَ»[28].

"زموږ او د دوی تر منځ تړون لمونځ دی، نو چا چې دا پرېښود، هغه کفر وکړ."[1]

پنځه وخته لمونځونه، او هغه دا دي:

---

[1] د ترمذي (2621)، نسائي (463) او احمد (346/5) تخريج، او الباني په صحيح الجامع کې صحيح بللی دی.

د سهار لمونځ، د ماسپښين لمونځ، د مازديګر لمونځ، د ماښام لمونځ، د ماخوستن لمونځ.

د سهار د لمانځه وخت په ختيځ کې د سهار په رڼا سره پیل کیږي، او د لمر په لويدو سره پای ته رسيږي، او ځنډول يې د وخت تر پايه پورې جواز نلري، او د ماسپښين د لمانځه وخت د لمر د زوال څخه پيليږي تر دې چې د يو شي سيورى د هغه په اندازه وي پس له سيوري د زوال څخه، او د مازديګر دلمانځه وخت د ماسپښين د لمانځه د وخت څخه وروسته تر دې چې لمر زيړ شي، او وروستي وخت ته ځنډول يې روا نه دي، بلکې تر هغه وخته پورې لمونځ کيږي، چې لمر سپين وي، او د ښام د لمانځه وخت د لمر غروب وروسته پيليږي، او د سور شفق په ورکيدو سره پای ته رسيږي، د خپل وخت تر پايه پورې بايد و نه ځنډيږي، او د ماخستن د لمانځه وخت د ماښام د لمانځه په ختميدو سره پيليږي د شپې تر آخره پورې او له هغه وروسته بايد و نه ځنډيږي.

که يو مسلمان يو لمونځ له خپل وخت څخه ځنډوي، تر دې چې وخت يې تير شي بغير له کوم شرعی عذر نه چې د خپلې ارادې څخه بيرون وي؛ نو هغه لويه ګناه کړې ده، او بايد الله ته توبه وباسي او دې کار ته بيرته و نه ګرځي؛ الله تعالى فرمايلي دي:

{فَوَيْلٌ لِّلْمُصَلِّينَ (4) الَّذِينَ هُمْ عَن صَلَاتِهِمْ سَاهُونَ (5)}

{فَوَيْلٌ لِّلْمُصَلِّينَ (4)

نو هلاکت دی لمونځ کوونکو لره

الَّذِينَ هُمْ عَن صَلَاتِهِمْ سَاهُونَ (5)}

هغه کسان چې دوی له خپلو لمونځونو نه غافله (او اعراض کوونکي) وي [الماعون:4-5].

***

د لمانځه احکام

لومړی: طهارت (پاکوالی):

مخکې له دې چې مسلمان لمونځ ته داخل شي، باید طهارت (اودس) ولري؛ له هر څه څخه مخکې خپل مخرج باید پاک کړي، که له هغه څخه ادرار یا غایطه مواد وتلي وي، او بیا دې اودس وکړي.

اودس: په زړه کې د پاکوالي او طهارت نیت کوي او په ژبې نیت نه وايي؛ ځکه الله د هغه پر نیت خبر دی؛ او بله دا چې رسول الله صلی الله علیه وسلم ژبې باندې نیت ندی کړی، او بسم الله وايي، بیا خپله خوله مینځي، او اوبه خپلې پزې ته کش کوي او بیرته یې سوغ (سونړ) وهي، او خپل ټول مخ مینځي، بیا به خپل لاسونه له مړوندونو او څنګلو سره مینځي؛ البته له ښي اړخه پیل کوي، بیا ټول سر په خپلو لاسونو سره مسح کوي، او غوږونه مسح کوي ، بیا پښې له ښنګرو سره مینځي،پداسې حال کې چې له ښي اړخه پیل کوي.

او کله چې له طهارت نه وروسته له انسان څخه ادرار (میتیازې)، غایطه مواد یا باد راووځي او یا یې عقل په ویده کېدلو او یا بې هوښۍ سره له هغه څخه لرې شي؛ او وغواړي چې لمونځ ادا کړي هغه باید خپل اودس بیرته تازه کړي، او که مسلمان جنب وي او د هغه څخه مني په شهوت سره راووځي حتا که په خوب کې هم وي، که نارینه وي یا ښځینه،

هغه د خپل ټول بدن په مینځلو سره د نجاست څخه باید ځان پاک کړي، او کله چې ښځه د حیض او یا د زیږون وروسته د وینې څخه پاکه شي، هغه باید خپل ټول بدن په مینځلو سره پاک کړي؛ ځکه چې د حایضه او نفاسه ښځې لمونځ نه قبلیږي، او هغوی باندې لمونځ واجب ندی تر هغه وخته پورې چې ځانونه پاک نکړي، الله تعالی هغوی باندې سهولت راوستی دی، د حیض او نفاس د ورځو د لمونځ قضا هغوی باندې نشته، لدې پرته په دوی باندې د یو نارینه په څېر د قضا شویو لمونځونو قضایي شته.

که څوک اوبه و نه مومي، او یا یې استعمال ورته ضرر رسوي، لکه ناروغ نو هغه به په تیمم سره ځان پاکوي، د تیمم طریقه: په خپل زړه کې د پاکوالی نیت کوي او بسم الله وایي، بیا خپل لاسونه یو ځلې په خاورو باندې وهي، او خپل مخ پرې مسح کوي، بیا د ښي لاس شا د چپ لاس په واسطه مسح کوي، او د چپ لاس شا د ښي لاس په واسطه مسح کوي، او په دې توګه هغه پاک شو، دا تیمم د حایضې او نفاس لرونکې ښځې دواړو لپاره دی کله چې پاکې شي، او د هغو کسانو لپاره چې جنب وي او د هغو کسانو لپاره چې غواړي اودس وکړي کله چې اوبه ورسره نه وي او یا د اوبو له کارولو څخه ویره ولري.

دویم: د لمانځه طریقه:

۱- د سهار لمونځ:

دوه رکعته دی؛ مسلمان که نارینه وي یا ښځینه قبلې ته مخ کوي، او قبله هماغه کعبه ده چې په مسجد الحرام مکه کې

ده، او په زړه کې د سهار د لمانځه نیت کوي، پرته لدې چې په ژبې سره يې تلفظ کړي، بيا تكبير وايي: «الله اكبر». بیا د استفتاح دعا ووایی؛ او له هغه جملې څخه: "سبحانك اللهم وبحمدك، وتبارك اسمك، وتعالى جدُّك، ولا إله غيرك." اې الله! پاکي او ستاینې یوازې تا لره دي او نوم دي مبارک دی، شان دې لوړ دی او له تا پرته بل معبود نشته .

اعوذ بالله من الشيطان الرجيم، زه الله ته پناه وړم د رټل شوي شيطان څخه، بیا د قرآن کریم فاتحه تلاوت کوي، او هغه داده:

{بِسْمِ اللَّهِ الرَّحْمَٰنِ الرَّحِيمِ (1) الْحَمْدُ لِلَّهِ رَبِّ الْعَالَمِينَ (2) الرَّحْمَٰنِ الرَّحِيمِ (3) مَالِكِ يَوْمِ الدِّينِ (4) إِيَّاكَ نَعْبُدُ وَإِيَّاكَ نَسْتَعِينُ (5) اهْدِنَا الصِّرَاطَ الْمُسْتَقِيمَ (6) صِرَاطَ الَّذِينَ أَنْعَمْتَ عَلَيْهِمْ غَيْرِ الْمَغْضُوبِ عَلَيْهِمْ وَلَا الضَّالِّينَ (7)}

{بِسْمِ اللَّهِ الرَّحْمَٰنِ الرَّحِيمِ (1)

د الله په نوم سره (پیل کوم) چې ډېر زيات مهربان، بې حده رحم کوونکی دی

الْحَمْدُ لِلَّهِ رَبِّ الْعَالَمِينَ (2)

ټول (د کمال) صفتونه خاص د الله لپاره دي چې د ټولو عالَمونو ښه پالونکی دی

الرَّحْمَٰنِ الرَّحِيمِ (3)

ډېر زيات مهربان، بې حده رحم کوونکی دی

مَالِكِ يَوْمِ الدِّينِ (4)

د قیامت د ورځې مالک دی

إِيَّاكَ نَعْبُدُ وَإِيَّاكَ نَسْتَعِينُ (5)
مونږ خاص ستا عبادت کوو او خاص له تا نه مرسته غواړو
اهْدِنَا الصِّرَاطَ الْمُسْتَقِيمَ (6)
ته مونږ ته سَمَه (نېغه) لاره وښایه
صِرَاطَ الَّذِينَ أَنْعَمْتَ عَلَيْهِمْ غَيْرِ الْمَغْضُوبِ عَلَيْهِمْ وَلَا الضَّالِّينَ (7))
د هغو خلقو لاره چې تا پر هغوی باندې انعام کړی دی؛ چې نه پر هغوی باندې غضب شوی او نه ګمراهان دي [الفاتحة:1-7]. او قرآن باید په عربي ژبه له خپل توان سره ولوستل شي ، بیا وایي: «الله اکبر» رکوع کې خپل سر او شا نېغوي، په لاسو سره د زنګنو کوری (سترګې) نیسي او بیا وایي: « سبحان ربي العظیم »، بیا پاڅیږي او وایي: " سَمِعَ اللهُ لمن حمده" او کله چې ودریږي، نو وایي: "ربنا لک الحمد "، او بیا وایی چې "الله اکبر"، په ځمکه د خپلو پښو په ګوتو، زنګونونو، لاسونو، تندي او پوزې باندې سجده کوي، بیا په سجده کې وایي: "سبحان ربی الاعلی" بیا کښیني او وایي: " ربِّ اغفر لي"، او بیا ووایی: الله اکبر، دویم ځل باندې پر ځمکه سجده کوي، او وایي: " سبحان ربي الأعلی" بیا پاڅیږي او وایي "الله اکبر"، بیا سورت فاتحه تلاوتوي، او هغه (الحمد لله رب العالمین) ده. تر اخره پورې لکه څنګه چې په لومړي رکعت کې وویل شوه، بیا تکبیر وایی او رکوع کوي، بیا پورته کیږي، بیا سجده کوي، بیا کښیني، بیا دویم

ځل باندې سجده کوي ، په دغو ځايونو کې هم هماغه ډول وايي چې په لومړي ځل يې ويلي و[1]

بيا کښيني او وايي چې : "التحيات لله، والصلوات والطيبات، السلام عليك أيها النبي ورحمة الله وبركاته،

السلام علينا وعلى عباد الله الصالحين، أشهد أن لا إله إلا الله، وأشهد أن محمدًا عبده ورسوله، اللهم صَلِّ على محمد، وعلى آل محمد، كما صليت على إبراهيم، وعلى آل إبراهيم إنك حميد مجيد، اللهم بارك على محمد وعلى آل محمد، كما باركت على إبراهيم وعلى آل إبراهيم، إنك حميد مجيد ".

ثنا، ستاينې او پاکي الله لره دي، ای نبي ! پرتا دې سلام، د الله رحمت او برکتونه وي، پرمونږ او د الله پر نيکو بندګانو دې سلام وي، شاهدي ورکوم چې له الله پرته بل معبود نشته او شاهدي ورکوم چې محمد صلى الله عليه وسلم د الله بنده او رسول دی. ياالله! پر محمد صلى الله عليه وسلم او دهغه پر کورنۍ رحمت وورو‌ه، لکه پر ابراهيم عليه السلام او د هغه پر کورنۍ دې چې ورولی ؤ، بېشکه ته ستايلی شوی او لوی يې . يا الله ! پر محمد او د هغه پر کورنۍ برکتونه وورو‌ه، لکه پر ابراهيم عليه السلام او د هغه پر کورنۍ دې چې ورولي وو، بېشکه ته ستايلی شوی او لوی يې، بيا خپل ښي خوا ته

---

1 ځکه چې که قرآن يې له عربي پرته په بله ژبه لوستلی وای، نو قرآن نه حسابيده، نو ځکه د قرآن الفاظ نه ژباړل کيږي، بلکې مانا يې ژباړل کيږي؛ ځکه چې که د قرآن حروف او کلمات وژباړل شي، بلاغت او اعجاز يې له منځه ځي، او ځينې حرفونه يې له منځه ځي او په دې سره بيا دا عربي قرآن نه محسوبيږي.

مخ اړوي او وايی: " السلام عليكم ورحمة الله" بيا خپل كيڼ لوري ته مخ اړوی او وايې: " السلام عليكم ورحمة الله"؛ په دې توګه د سهار لمونځ ادا شو.

۲- د ماسپښين، مازديګر، او ماخوستن لمونځونه:

هر يو يې څلور ركعته دی او لومړي دوه ركعته يې داسې ادا كوي لكه د سهار دوه ركعته، خو هركله چې پس له دوه ركعتو څخه د تشهد لپاره كښېناست هغه څه دې ووايي چې كله يې ويلی و مخكې له سلام څخه، او سلام دې نه وايي، بلكي پاڅيږي او د لومړيو دوو ركعتونو په څېر دوه ركعته اداء كوي، بيا په دويم ځل باندې تشهد ته كښېني، هغه څه وايي چې په لومړی ناسته كې يې ويلي و، او پر محمد صلى الله عليه وسلم درود وايي، بيا به ښي او چپ لورې ته سلام ګرځوي، لكه څنګه چې يې د سهار په لمانځه كې سلام كړی و.

۳- د ماښام لمونځ:

هغه درې ركعته دی، لومړی دوه ركعته كوي لكه څنګه چې مخكې ذكر شو، بيا كښېنی او هغه څه وايی چې د نورو لمونځونو لپاره يې په ناسته كې ويلي و، خو سلام به نه ګرځوي، بلكې ولاړيږي او دريم ركعت اداء كوي، هغه څه كوي او وايي لكه څنګه چې مخكې كړي و، بيا له دويمې سجدې وروسته كښېنی او په ناسته كې هغه څه وايي چې د هر لمانځه يې په ناسته كې يې ويلي و، بيا ښي لوري او بيا چپ لوري ته سلام كوي، كه لمونځ كوونكی د ركوع او سجدې اذكار تكرار كړي دا به غوره وي.

او نارینه دا ښځه فرضي لمونځونه په جومات کې په جماعت سره د یو امام په امامت سره ادا کوي، چې په دوی کې تر ټولو د قرآن کریم ښه تلاوت کوي، او د لمانځه په احکامو پوه وي، او په خپل دین تر ټولو پوه وي، او امام د سهار په لمانځه کې له رکوع مخکې په لوړ اواز قراءت کوي، او همدارنګه د ماښام او ماخوستن د لمانځه په لومړیو دوو رکعتونو کې، او هغه کسان چې د هغه تر شا ولاړ دي د امام تلاوت ته غوږ نیسي.

او ښځې په خپلو کورونو کې په پټه او ستر سره باید لمونځ وکړي، او خپل ټول بدن وپوښي، حتی لاسونه او پښې؛ ځکه چې ښځه ټول عورت ده پرته له مخ څخه، او باید امر ورته وکړی شي چې د نارینه و څخه یې پټ کړي؛ ځکه چې مخ فتنه ده چې د دې د لارې پېژندل کیږي او ضرر ورته رسیدلای شي، او کچیرته مسلمانه ښځه په جومات کې د لمانځه اراده وکړي، په دې شرط چې په ستر او بغیر له خوشبویۍ څخه لاړه شي هغې ته ممانعت نشته، او د سړیو تر شا دې لمونځ وکړي؛ ترڅو سړي په فتنه کې وا نچوي او نه خپل ځانونه په فتنه کې واچوي.

او مسلمان باید الله ته په خشوع او تواضع او د زړه په حضور سره لمونځ وکړي، ښه په اطمینان او آرامتیا سره قیام، رکوع او سجده وکړي، او بېړه دې نکوي، لوبې دې نکوي، اسمان ته دې سترګې نه پورته کوي، او له قرآن پرته نورې خبرې نکوي. او د لمانځه اذکار، هر څه باید په خپل

ځای کې وویل شي ؛ ځکه چې الله تعالی د لمانځه حکم کړی دی ترڅو د هغه ذکر وشي.[1]

د جمعې په ورځ مسلمانان دوه رکعته د جمعې لمونځ ادا کوي، امام پکې په جهر سره قراءت کوي، لکه د سهار لمونځ، او له هغې مخکې امام دوه خطبې وړاندې کوي، چې په هغه کې مسلمانانو ته یادونې کوي او هغوی ته د دین په اړه لارښونې کوي، او نارینه باید له امام سره پکې ګډون وکړي، دا جمعې د ورځې د ماسپښین لمونځ دی.

***

د اسلام له رکنونو څخه دریم رکن زکات دی

او الله تعالی هر مسلمان ته امر کړی چې کله د هغه مال (سرمایه) نصاب[2] ته ورسیږي هر کال باید د خپل مال زکات مستحقو کسانو ته ورکړي، لکه فقیران او داسې نور چې د زکات ورکول ورته جواز ولري، لکه څنګه چې په قرآن کریم کې ورته اشاره شوې ده.

---

1 پرته لدې چې که وغواړي یو څوک تنبیه کړي او یا یې ځواب ورکړي، نو لمونځ کوونکی: «سبحان الله» وایي، دغه جمله مقتدي امام ته وایي، که چیرته امام په کوم کار کې غلط شي، زیاتوالی او یا نیمګړتیا وکړي، ترڅو خپلې تیروتنې ته متوجه شي. او که چیرې یو څوک لمونځ کوونکي ته غږ وکړي، لمونځ کوونکی په ځواب کې دغه جمله کاروي -د بیلګې په توګه- او ښځه په تصفیق (چک چک) سره خبرداری ورکوي او خبرې نکوي؛ ځکه چې د هغې غږ فتنه ده.

2 نصاب : هغه مقدار ته ویل کیږي چې مال تر هغې اندازې ورسیږي نو زکات ورباندې فرض کیږي.

د سرو زرو نصاب شل مثقاله دی، او د سپینو زرو نصاب دوه سوه درهمه یا د کاغذی پیسو معادل دی، او سوداګریزو مالونو چې هر ډول مال وي، کله چې د هغې قیمت نصاب ته ورسیږي مالک باندې د هغې زکات فرض کیږي کله چې وربانديې یو کال تېر شي، د حبوباتو او مېوو نصاب درې سوه صاعه دی، د خرڅلاو لپاره چمتو شوی املاک (جایداد) د هغه د ارزښت له مخې زکات ورکول کیږي، او د کرایې املاک (جایداد) یوازې د کرایې زکات یې ورکول کیږي، او د سرو زرو، سپینو زرو او سوداګریزو مالونو زکات په لسو کې څلورمه برخه ده 2.5٪ په هر کال کې. او په حبوباتو او میوو کې 10٪ زکات ورکول کیږي ، هغه څه چې پرته له کوم مشکل څخه خړوبیدلی وي، لکه هغه حبوبات او میوې چې د سیندونو، د روانو چینو او بارانونو په اوبو سره خړوبیدلې وي، او نیمه لسمه 5٪ برخه د هغه څه ده چې په سختۍ سره خړوبیدلې وي، لکه څنګه چې د کرین په واسطه اوبه کیږي.

د حبوباتو او میوو د زکات ورکولو وخت د هغو د محصولاتو د راټولولو وخت دی، حتا که یوکال کې دوه یا درې وارې د هغې حاصل را ټول شي باید هر وارې د هغې زکات ورکړل شي. اوښانو، غواګانو او پسونو کې واضح شوی زکات شته چې مقدار یې د اسلامي احکامو په کتابونو کې بیان شوی، هغې ته دې مراجعه وکړل شي؛ الله تعالی فرمایلي دي:

{وَمَا أُمِرُوا إِلَّا لِيَعْبُدُوا اللَّهَ مُخْلِصِينَ لَهُ الدِّينَ حُنَفَاءَ وَيُقِيمُوا الصَّلَاةَ وَيُؤْتُوا الزَّكَاةَ ۚ وَذَٰلِكَ دِينُ الْقَيِّمَةِ}

{وَمَا أُمِرُوا إِلَّا لِيَعْبُدُوا اللَّهَ مُخْلِصِينَ لَهُ الدِّينَ حُنَفَاءَ وَيُقِيمُوا الصَّلَاةَ وَيُؤْتُوا الزَّكَاةَ ۚ وَذَٰلِكَ دِينُ الْقَيِّمَةِ}

حال دا چې دوی ته حکم نه و ورکړی شوی مګر په دې چې دوی دې د الله عبادت کوي، په داسې حال کې چې دين (عبادت) دغه (الله) لره خالص کوونکي وي (او) حنيفان (له باطله حق ته راګرځېدونکي) وي، او (د دې چې) دوی دې لمونځ قايموي او زکات دې ورکوي او همدغه ډېر محکم دين دی. [البينة:5]؛ د زکات په ورکولو سره د بې وزلو نفسونه خوشاله کيږي، د دوی اړتياوې پوره کيږي، او د دوی او د شتمنو خلکو ترمنځ د مينې اړيکې پیاوړې کيږي.

د اسلام دين د مسلمانانو تر منځ د ټولنيز پيوستون او مالي همکارۍ په مسئله کې د زکات تر کچې ندی درېدلی، بلکې الله تعالی شتمنو ته امر کړی چې د قحطۍ په وخت کې د غريبانو لپاره د هغوی اړتياوی بايد پوره کړي، او په مسلمان باندې يې موړتيا حرامه ګرځولې په داسې حال کې چې د هغه ګاونډي وږی وي، او پر مسلمان يې د فطر صدقه (سرسايه) ورکول واجب کړي دي، چې د کوچني اختر په ورځ ادا کيږي، د فطر صدقه يو صاع د هيواد د خوراکي موادو څخه دي او په هر انسان باندې واجب ده، حتا ماشوم او خادم باندې هم واجب ده چې سرپرست يې بايد ادا کړي. او الله تعالی مسلمان باندې د قسم خوړلو کفاره فرض کړې ده، که چيرې قسم ياد کړي چې دغه کار به کوم او بيا يې عملي نه کړي، او

الله تعالی په مسلمان باندې د مشروع نذر پوره کول واجب کړي، او الله تعالی مسلمان په نفلي صدقې باندې هڅولی او تشویق کړی یې دی، او له هغو کسانو سره یې د غوره اجر ژمنه کړې ده چې د خیر او نیکیو په میدانونو کې یې د هغه په لاره کې مصرفوي، او ژمنه یې ورسره کړې ده چې د دوی لپاره به اجر څو چنده وي، د یو نیک عمل په مقابل کې له لسو څخه تر اوه سوه چنده آن تر ډیرو پورې نیکۍ ورکول کیږي.[1]

***

د اسلام له رکنونو څخه څلورم رکن روژه ده

د رمضان د میاشتې روژه، چې د هجري کال نهمه میاشت ده.

د روژې طریقه:

مسلمان د سهار له څرګندېدو څخه مخکې د روژې نیت کوي، بیا له خوراک، څښاک او جماع –همبستری- څخه ډډه کوي، تر هغه چې لمر لویږي او روژه ماته کړي، همدغه کار د روژې د میاشتې په اوږدو کې ترسره کوي؛ ددې کار موخه باید د الله تعالی رضا او عبادت وي.

روژه بې شمېره ګټې لري، چې تر ټولو مهمې یې دا دي:

---

1 د قسم خوړلو کفاره درې اختیاره لري، یا دې غلام آزاد کړي او یا دې لسو مسکینانو ته خوراک او یا جامې ورکړي، او که ددې توان یې نه درلود درې ورځې روژه دې ونیسي.

- دا د الله عبادت او د هغه حکم ته غاړه ایښودل دي، بنده خپل خواهشات او خوراک او څښاک د الله د رضا لپاره پرېږدي، دا د الله تعالی د تقوا او ویرې یو لوی لامل دی.

- او د روژې روغتیایي، اقتصادي او ټولنیزې ګټې ډېرې دي، یوازې هغه څوک یې درک کولای شي چې د ایمان او عقیدې پر بنیاد روژه نیسي؛ الله تعالی فرمایلي دي:

(يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا كُتِبَ عَلَيْكُمُ الصِّيَامُ كَمَا كُتِبَ عَلَى الَّذِينَ مِن قَبْلِكُمْ لَعَلَّكُمْ تَتَّقُونَ (183) أَيَّامًا مَّعْدُودَاتٍ ۚ فَمَن كَانَ مِنكُم مَّرِيضًا أَوْ عَلَىٰ سَفَرٍ فَعِدَّةٌ مِّنْ أَيَّامٍ أُخَرَ ۚ وَعَلَى الَّذِينَ يُطِيقُونَهُ فِدْيَةٌ طَعَامُ مِسْكِينٍ ۖ فَمَن تَطَوَّعَ خَيْرًا فَهُوَ خَيْرٌ لَّهُ ۚ وَأَن تَصُومُوا خَيْرٌ لَّكُمْ ۖ إِن كُنتُمْ تَعْلَمُونَ (184) شَهْرُ رَمَضَانَ الَّذِي أُنزِلَ فِيهِ الْقُرْآنُ هُدًى لِّلنَّاسِ وَبَيِّنَاتٍ مِّنَ الْهُدَىٰ وَالْفُرْقَانِ ۚ فَمَن شَهِدَ مِنكُمُ الشَّهْرَ فَلْيَصُمْهُ ۖ وَمَن كَانَ مَرِيضًا أَوْ عَلَىٰ سَفَرٍ فَعِدَّةٌ مِّنْ أَيَّامٍ أُخَرَ ۗ يُرِيدُ اللَّهُ بِكُمُ الْيُسْرَ وَلَا يُرِيدُ بِكُمُ الْعُسْرَ وَلِتُكْمِلُوا الْعِدَّةَ وَلِتُكَبِّرُوا اللَّهَ عَلَىٰ مَا هَدَاكُمْ وَلَعَلَّكُمْ تَشْكُرُونَ (185))

(يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا كُتِبَ عَلَيْكُمُ الصِّيَامُ كَمَا كُتِبَ عَلَى الَّذِينَ مِن قَبْلِكُمْ لَعَلَّكُمْ تَتَّقُونَ (183)

ای هغو کسانو چې ایمان مو راوړی دی! پر تاسو باندې روژه فرض کړی شوې ده لکه چې فرض کړی شوې وه پر هغو کسانو چې له تاسو نه مخکې وو، د دې لپاره چې تاسو متقیان شئ.

أَيَّامًا مَّعْدُودَاتٍ ۚ فَمَن كَانَ مِنكُم مَّرِيضًا أَوْ عَلَىٰ سَفَرٍ فَعِدَّةٌ مِّنْ أَيَّامٍ أُخَرَ ۚ وَعَلَى الَّذِينَ يُطِيقُونَهُ فِدْيَةٌ طَعَامُ مِسْكِينٍ ۖ فَمَن

تَطَوَّعَ خَيْرًا فَهُوَ خَيْرٌ لَّهُ ۚ وَأَن تَصُومُوا خَيْرٌ لَّكُمْ ۖ إِن كُنتُمْ تَعْلَمُونَ (184)

یو ځو ورځې شمېرل شوې، نو څوک چې په تاسو کې مریض وي، یا پر سفر وي، نو (په هغه باندې) د نورو ورځو شمېرل دي، او په هغو کسانو باندې چې طاقت یې لري، د یو مسکین خوراک فدیه لازم ده، پس څوک چې په خوښۍ سره نېکي وکړي، نو د ده لپاره هغه بهتره ده، او دا چه روژه ونیسئ (دا) ستاسو لپاره ډېره غوره دي، که چېرې تاسو پوهېږئ.

شَهْرُ رَمَضَانَ الَّذِي أُنزِلَ فِيهِ الْقُرْآنُ هُدًى لِّلنَّاسِ وَبَيِّنَاتٍ مِّنَ الْهُدَىٰ وَالْفُرْقَانِ ۚ فَمَن شَهِدَ مِنكُمُ الشَّهْرَ فَلْيَصُمْهُ ۖ وَمَن كَانَ مَرِيضًا أَوْ عَلَىٰ سَفَرٍ فَعِدَّةٌ مِّنْ أَيَّامٍ أُخَرَ ۗ يُرِيدُ اللَّهُ بِكُمُ الْيُسْرَ وَلَا يُرِيدُ بِكُمُ الْعُسْرَ وَلِتُكْمِلُوا الْعِدَّةَ وَلِتُكَبِّرُوا اللَّهَ عَلَىٰ مَا هَدَاكُمْ وَلَعَلَّكُمْ تَشْكُرُونَ (185))

د رمضان میاشت هغه ده چې په هغې کې قرآن نازل کړی شوی دی، چې د خلقو لپاره هدایت دی، او د هدایت او د فرقان (د حق او د باطل بېلوونکي) ښکاره دلیلونه دي، نو په تاسو کې چې څوک دې میاشتې کې حاضر و، نو هغه دې د دې روژې ونیسي، او څوك چې مریض وي، یا پر سفر وي، نو (پر هغه) د نورو ورځو شمېرل دي، الله پر تاسو د اسانتیا اراده لري او پر تاسو باندې د سختۍ اراده نه لري او د دې لپاره چې تاسو شمېره پوره کړئ او د دې لپاره چې تاسو د الله لویي بیان کړئ، په دې چې هغه تاسو ته هدایت کړی دی، او د دې لپاره چې تاسو شکر وباسئ. [البقرة:183-185].

***

د روژې د احکامو له جملې څخه چې الله تعالی په قرآن کريم کې، او د هغه رسول محمد صلی الله عليه وسلم په احاديثو کې تشريح کړي دي دا دي:

۱- ناروغ او مسافر روژه ماتوي او د هغو ورځو قضايی راوړي چې روژه يې نه وي نيولې، له رمضان وروسته په نورو ورځو کې. همدا شان د حايضه او نفاسه ښځو روژه صحيح نه ده، بلکه د حيض او د نفاس څخه وروسته د هغو ورځو قضاء راوړي چې روژه يې نه وي نيولې.

۲- همدارنګه حامله او شيدي ورکوونکې ښځې دې هم روژه نه نيسی، که د ځان او يا د خپلو اولادونو په اړه وېره ولري، نو روژه دې وخوری او قضاء دې راوړي.

۳- که روژه لرونکی د هيرېدو له امله خوراک او څښاک وکړي او بيا يې ياد شو نو روژه يې صحيح ده؛ ځکه چې الله هېريدل، خطا او جبر د محمد صلی الله عليه وسلم امت ته بخښلي دي - او هغه څه چې د هغه په خوله کې دي بايد بهر يې کړي.

***

د اسلام له رکنونو څخه پنځم رکن حج دی

دا په ژوند کې يو ځل بيت الله الحرام ته زيارت کول دي، او چا چې د يو ځل څخه زيات ترسره کړ هغه نفل کې حسابيږي، او په حج کې بې شمېره ګټې دي:

لومړی: د الله تعالی عبادت په روحي، بدني او مالي شکل باندې ترسره کيږي.

دوهم: په حج کې د هر ځای مسلمانان راټولیږي، او په یو ځای کې سره ملاقات کوي، ورته جامې اغوندي، او په یو وخت کې د یو الله عبادت کوي، د رییس او تابع، شتمن او غریب، سپین او تور سره هیڅ توپیر نکیږي، ټول د الله مخلوق او د هغه بنده ګان دي، او مسلمانان یو له بل سره پیژنګلوي او همکاري کوي، او دوی هغه ورځ یادوي چې الله به دوی ټول راژوندي کوي او د حساب لپاره به یې په یوه ځای کې راټولوي؛ او دوی د الله تعالی په اطاعت سره له مرګ وروسته لپاره چمتوالی نیسي.

د کعبې- د مسلمانانو قبله – د طواف موخه دا ده چې الله هغوی ته امر کړی چې په هر لمانځه کې او په هر ځای کې چې وي باید کعبې ته مخ کړي، او د مکې په نورو ځایونو کې په خپل ټاکل شوي وخت کې. او د دریدلو مقصد: عرفات، مزدلفه او په مینا کې استوګنه ده؛ ددې ټولو موخه دا ده چې په دغو سپېڅلو ځایونو کې د الله تعالی عبادت په هغه طریقې سره وشي چې الله یې امر کړی دی.

لیکن پخپله کعبه، او هغه ځایونه او ټول مخلوقات د عبادت وړ نه دي، نه چا ته ګټه رسولی شي او نه ضرر، بلکې عبادت یوازې د الله لپاره دی، او ګټه او ضرر رسوونکی یوازې الله دی، که الله تعالی د حج پر ادا کولو امر نه وی کړی مسلمان لپاره سمه نه وه چې د حج مراسم ادا کړي!؛ ځکه چې عبادت د خیال او خواهش پر بنسټ ندی ولاړ، بلکې د الله تعالی د حکم پر اساس چې د هغه په کتاب او یا د هغه د رسول الله

صلى الله عليه وسلم په سنتو کې شتون ولري. الله تعالی فرمایلي دي:

(وَلِلَّهِ عَلَى النَّاسِ حِجُّ الْبَيْتِ مَنِ اسْتَطَاعَ إِلَيْهِ سَبِيلًا ۚ وَمَن كَفَرَ فَإِنَّ اللَّهَ غَنِيٌّ عَنِ الْعَالَمِينَ)

(وَلِلَّهِ عَلَى النَّاسِ حِجُّ الْبَيْتِ مَنِ اسْتَطَاعَ إِلَيْهِ سَبِيلًا ۚ وَمَن كَفَرَ فَإِنَّ اللَّهَ غَنِيٌّ عَنِ الْعَالَمِينَ)

او خاص د الله لپاره په خلقو باندې د (هغه د) کور حج کول فرض دي، په هغه چا باندې چې هغه ته د لارې وسه او طاقت ولري او څوک چې کافر شو، نو بېشکه الله له مخلوقاتو نه بېخي بې پروا دی. [آل عمران:97][1].

او عمره پر مسلمان باندې په ټول عمر کې یو ځل فرض ده، که له حج سره وي یا نورو وختونو کې وي، او په مدینه کې د رسول الله صلى الله عليه وسلم د مسجد زیارت ته تلل له حج سره او یا په نورو وختونو کې واجب ندي، بلکې دا یو مستحب کار دی چې زیارت کوونکې ته اجر ورکول کیږي، او پرېښودونکي ته سزا نه ورکول کیږي. او دا حدیث چې وایی: "من حج فلم يزرني فقد جفاني"، یعنی څوک چې حج وکړي او زما زیارت ونکړي نو له ما سره یې جفا کړی ده،

---

1 او د جاهلانو حج د اولیاوو قبرونو او مزارونو ته ګمراهي او د الله تعالی له حکم او د هغه د رسول -صلى الله عليه وسلم- له حکم څخه سرغړونه ده، رسول الله -صلى الله عليه وسلم- فرمایلي دي: د عبادت په نیت سفر نه دی جایز مګر دریو جوماتونو ته: مسجد الحرام، زما دغه مسجد او مسجد الاقصى. بخاري (١١٨٩) او مسلم (١٣٩٧) له ابوهريره رضی الله عنه څخه روایت کړی دی.

دا حديث صحيح ندی، بلکې رسول الله صلی الله عليه وسلم باندې دروا غ ويل دي .[1]

او هغه زيارت(ليدنه) چې سفر ورته روا دی يوازې د جومات لپاره دی، نو هرکله چې زيارت کوونکی جومات ته ورسيد او تحية المسجد يې ادا کړ، پس له هغه څخه د رسول الله -صلی الله عليه وسلم- د قبر زيارت کول ورته روا دي. هغه باندې سلام وايي په ټول ادب او احترام او ټيټ آواز سره دې ووايې چې: السلام عليك يا رسول الله"، يعنی ای د الله رسوله پر تا دې سلام وي. او هغه -دصلی الله عليه وسلم - څخه دې څه شی نه غواړي؛ او له هغه وروسته بايد لاړ شي، څرنګه چې رسول الله صلی الله عليه وسلم خپل امت ته امر کړی دی، او څرنګه چې صحابه و -رضی الله عنهم- همدارنګه کړي وو.

او هغه کسان چې د رسول الله صلی الله عليه وسلم پر قبر داسې په عاجزۍ سره ودرېږي ګواکې په لمانځه ولاړ وي، او له رسول الله صلی الله عليه وسلم څخه خپل حاجتونه غواړي، او يا د هغه څخه مرسته غواړي، او يا هغه د ځان لپاره الله ته

---

1 ددې په څير بل حديث چې وايی: زما په جاه او مقام باندې توسل وکړئ، ځکه د الله په نزد زما جاه او مقام پراخ دی"، او بل حديث چې وايی: " هر څوک چې ډبرې باندې ښه ګمان وکړي هغه ورته ګټه رسوي". دا ټول موضوعي او ناسم حديثونه دي چې هيڅ اعتبار نلري او د احاديثو په هيڅ معتبر کتاب کې نه موندل کيږي، بلکې دا دول حديثونه او دې ته ورته نور حديثونه د ګمراه کوونکو خلکو په کتابونو کې شتون لري، هغه ګمراه کوونکي چې خلک شرک او کفر ته رابولي په داسې حال کې چې په خپل ځان باندې نه پوهيږي.

واسطه کړي، دا ټول الله تعالی باندې مشرکان دي او رسول الله -صلی الله علیه وسلم- له دوی څخه بېزاره دی. نو هر مسلمان ته په کار ده چې دا ډول کارونه د رسول الله صلی الله علیه وسلم – یا د بل چا په حق کې ونکړي، بیا به د رسول الله صلی الله علیه وسلم د دوو یارانو ابوبکر او عمر – رضی الله عنهما – زیارت وکړي، بیا به د اهل بقیع او شهیدانو او د مسلمانانو د قبرونو زیارت وکړي، پدې شکل چې زیارت کوونکي په مړو باندې سلام واچوي او هغوی ته دې دعا وکړي او مرګ دې یاد کړي او لاړ دې شي.

او دا ده د حج او عمرې طریقه:

حاجي لومړی حلال رزق غوره کوي، او مسلمان له حرام کسب څخه ځان ساتي؛ ځکه چې حرام مال د حاجي دعا او حج د نه قبلیدو لامل ګرځي، او د رسول الله صلی الله علیه وسلم په حدیث کې راغلي دي:

«كُلُّ لَحْمٍ نَبَتَ مِنْ سُحْتٍ فَالنَّارُ أَوْلَى بِهِ »[35] ،

"هره هغه غوښه چې له حرامو څخه وده وکړي، نو اور ورته مناسب دی."[1] صالح او د توحید او ایمان لرونکي ملګري د ځان لپاره غوره کوي.

***

میقاتونه

---

[1] طبراني په الاوسط (۴۴۸۰) او بیهقي په «شعب الایمان» (۲/۱۷۳/۲) کې شامل کړی دی، او الباني په السلسلة الصحیحة(212/6). کې صحیح بللی دی.

کله چې میقات ته ورسیږي له هغه ځایه احرام تړي، که په موټر او یا هغې ته ورته کې وي، او که په الوتکه کې وي، احرام دې وتړي هرکله چې ورته نږدې شو، مخکې لدې چې میقات نه تېر شي. او هغه میقاتونه چې رسول الله صلی الله علیه وسلم خلکو ته امر کړی چې باید له هغه ځایه احرام وتړي، پنځه دي، او هغه دا دي:

۱- ذوالحلیفه (ابیار علي) د مدینې د خلکو لپاره.

۲- الجحفة (رابغ ته نژدې) د شام، مصر او مغرب خلکو لپاره.

۳- قرن المنازل (سیل او یا محرم دره) د نجد او طائف د خلکو او څوک چې د دوی له طرفه راځي.

۴- ذات عرق (دعراق د خلکو لپاره).

۵- یلملم د یمن د خلکو لپاره.

او څوک چې پدې میقاتونو تیریږي چې ددې د اهل څخه نه وي همدغه هغه لپاره میقات دی او باید له همدې ځایه احرام وتړي. او د مکې او هغه خلک چې کورونه یې د میقاتونو څخه نږدې وي هغوی له خپلو کورونو څخه باید احرام وتړي.

***

د احرام طریقه

مستحب دا ده چې د احرام څخه مخکې ځان پاک کړي، او خوشبویي ووهي، بیا په میقات کې د احرام جامې واغوندي، او د الوتکې مسافر په خپل هېواد کې د احرام تیاری ونیسي، بیا به نیت وکړي او تلبیه به ووایی کله چې میقات ته ورنږدې

شي او يا يې ځنګ ته ورسيږي، او د سړيو لپاره د احرام لنګ او څادر دی چې ګنډل شوي نه وي له ځان څخه به يې راتاو کړي او سر به نه پټوي.[1] او د ښځې د احرام لپاره ځانګړې جامې نشته، بلکې پر هغې واجب دي چې تل پراخې او با ستره جامې واغوندي چې که خلک يې ووينې نو په هغې کې فتنه نه وي، او کله چې د احرام نيت وکړي بايد ګنډل شوي شيان پر مخ او لاسونو وانه چوي، لکه بورقه او دستکشې، مګر يوازې هغه وخت دې مخ په هغه څادر چې سر باندې اچولی پټ کړي چې نارينه ووينې، لکه څنګه چې د مؤمنانو ميندو او د رسول الله صلی الله عليه وسلم د اصحابو مېرمنو - کړی و.

وروسته له دې چې حاجي د احرام جامې واغوستې، په زړه کې د عمرې نيت کوي، بيا به پدې طريقې سره تلبيه ووايي: " اللهمَّ لبيك عمرة " ای الله زه د عمرې نيت کوم، او همدې نيت او عمرې سره به د تمتع حج کوي،[2] او تمتع حج تر ټولو غوره دی، ځکه چې رسول الله صلی الله عليه وسلم خپلو اصحابو ته پر هغه امر کړی او پر هغه باندې يې تاکيد کړی

---

1 تلبيه : يعني دا چې ووايي: لبيك حجًّا أو لبيك عمرة، پدې مانا چې په دوامداره توګه الله ته غاړه اېښودل.

2 متمتع : هغه څوک دی چې د حج په موسم کې عمره وکړي او بيا په بشپړه توګه احرام مات کړي؛ او د احرام له ممنوعاتو څخه "خوند" واخلي، بيا په اتمه ورځ د حج لپاره احرام واغوندي. او قارن: هغه څوک دی چې حج او عمره په ګډه ترسره کوي او يوازې د حج عملونه کوي، مګر هغه عمرې ته د ننوتلو نيت کوي د قران حج له مخې. او مفرد: هغه څوک دی چې له عمرې پرته يوازې د حج نيت وکړي.

دی، او پر هغو کسانو په غوسه شو چې د هغه په امر کې زړه نا زړه شول، پرته له هغه کسانو نه چې قربانۍ لپاره يې له ځانه سره څاروي راوړي و، يوازې همدغه ډله د قران حج نيت کوي لکه چې په خپله رسول الله صلی الله کړی و.[1] او قارن: هغه څوک دی چې په تلبيه کې ووايي: " اللهمَّ لبيك عمرة وحجًّا " او د هغه لپاره روا نه ده چې خپل احرام وباسي تر دې چې د لوی اختر په ورځ خپله قرباني وکړي.

او مفرد: هغه صرف د حج نيت کوي او وايي: " اللهمَّ لبيك حجًّا"

***

هغه کارونه چې محرم لپاره حرام ګڼل شوي دي

که کوم مسلمان د احرام د تړلو نيت وکړي پر هغه باندې لاندې کارونه حرام دي:

1- کوروالی، او هغې ته هڅونکي؛ لکه ښکلول او په شهوت سره لمس کول او پدې اړه خبرې کول، د ښځې کوژده، د نکاح تړل، محرم کس نه نکاح کوي او نه نورو ته نکاح تړي.

۲- د وېښتانو خريل او يا له هغه څخه يو څه اخيستل.

۳- نوکان پرې کول.

1 هدي : هغه څاروي حيوانات دی لکه اوښان، غواګانې او پسونه چې حاجي يې ډالۍ کوي، او له هغې څخه صدقه ورکوي او خوري يې.

۴- د سړي سر پټول په داسې یو شي باندې چې د سر سره وصل وي، خو د چترۍ، خیمې او موټر په سیوري باندې هیڅ اعتراض نشته.

۵- د خشبويي لګول او د خوشبويي تنفس کول.

۶- د ځمکې ښکار، نو هغه دې نه ښکارکوي او نه دې د ښکار په هکله نورو خلکو ته لارښوونه کوي.

۷- سړيو لپاره د ګنډل شوي څيز اغوستل دي، او د ښځې لپاره په مخ او لاسونو کې ګنډل شوی څيز اغوستل، او سړي بايد څپلکې واغوندي او که هغه يې ونه موندې موزې دې واغوندي.

او که له دغو محرماتو څخه کوم يو يې په ناپوهۍ او يا هيريدلو له امله وکړ، نو هغه به لرې کړي او هيڅ شی په هغه باندې نشته.

کله چې احرام کوونکی (محرم) کعبې ته ورسيږي، هغه به طواف قدوم اوه طوافونه ترسره کړي،

چې د حجر الاسود له څنګه پيليږي، او دا د هغه د عمرې طواف دی، او د طواف لپاره کومه ځانګړې دعا نشته، بلکې د الله تعالی ذکر به کوي او په هغه څه به دعا کوي چې ورته آسانه وي، بيا به د مقام ابراهيم تر شا د طواف دوه رکعته لمونځ وکړي که امکان ولري، او که امکان ونلري نو د حرم په هر ځای کې يې کولای شي، بيا به سعې خوا ته ووځي او له صفا څخه به پيل وکړي او پر هغه به پورته شي، او قبلې ته به مخ کړي، تکبير او تهليل به ووايي او دعا به وکړي، بيا به د مروه په لور لاړ شي او په هغې باندې به پورته شي او

قبلې ته به مخ کړي، تکبیر او تهلیل به ووایي او دعا به وکړي، بیا به صفا ته را وګرځي تر څو اووه شوطونه پوره کړي، د هغه تګ یو شوط او بیرته راتګ بل شوط دی، بیا به خپل د سر ویښتان لنډ کړي، او ښځه به د خپلو ویښتانو له سرونو څخه د ګوتې د سر په اندازه لنډ کړي، او پدې سره د متمتع حاجي عمره پاي ته ورسیده او خپل احرام به وباسي، او هر هغه څه چې په احرام کې وربانديې حرام وو ورته حلال شول.[1][2][3][4]

که ښځه له احرام څخه مخکې یا وروسته حایضه شي یا ولادت وکړي نو هغه قارنه کیږي، نو له احرام اغوستلو څخه باید د عمرې او حج نیت وکړي، هغه د نورو حاجیانو په څیر؛ ځکه چې حیض او نفاس د احرام څخه نه منع کوي، او نه په منا او مشاعرو کې د ودریدلو ممانعت کوي، یوازې د کعبې طواف څخه منع کوي، نو هغوی د طواف پرته هر هغه څه کوي چې نور حاجیان یې کوي، او طواف تر هغه وخته پورې ځنډوي چې پاکه شي، نو که هغه پاکه شوه مخکې لدې چې خلک د حج لپاره احرام وتړي او منا ته ووځي، نو هغه کولی

---

1 مسعی: د سعی کولو ځای، د صفا او مروه تر منځ تګ او منډې وهل دي، او هغه دوه کوچني غرونه دي.

2 او هغه د ابراهیم علیه السلام مقام دی.

3 مګر د دوو رکنونو تر منځ؛ هلته باید هغه څه وایي چې د الله تعالی په دغه قول کې راغلي دي: (رَبَّنَا آتِنَا فِي الدُّنْيَا حَسَنَةً وَفِي الْآخِرَةِ حَسَنَةً وَقِنَا عَذَابَ النَّارِ) (البقره: ۲۰۱) ای زمونږ ربه! مونږ ته په دنیا کې نعمت راکړه او په اخرت کې (هم) نعمت راکړه او مونږ د اور له عذابه وساته.

4 پدې مانا چې بیت الحرام ته راتلل، او هغه حرم مکي دی.

شی چې غسل وکړي او طواف او سعی ترسره کړي او خپل ویښتان لنډ کړي او د عمرې له احرام څخه ځان حلال کړي، او نورو خلکو سره د حج نیت وکړي کله چې خلک د حج لپاره په اتمه ورځ نیت وکړي، او که مخکې لدې چې هغه پاکه شی خلکو د حج لپاره احرامونه وتړل، پدې صورت کې هغه قارنه بلله کیږي، خلکو سره به نیت وکړي پداسې حال کې چې هغه په خپل احرام کې وي، او هر هغه څیز چې حاجیان یې کوی هغه دې هم وکړي، منا ته تلل، عرفات او مزدلفه کې ودرېدل، او د جمرو ویشتل، قرباني، د لوی اختر په ورځ د سر ویښتان لنډول، او کله چې پاکه شوه غسل دې وکړي او د حج طواف او سعی به وکړي.

دا طواف او سعی د هغې د حج او عمرې لپاره کافي دي، لکه څنګه چې د مؤمنانو مور عائشې رضی الله عنها – سره همدا پیښه وشوه، او رسول الله صلى الله علیه وسلم ورته وویل: چې له پاکوالي وروسته د هغې طواف او سعی د هغې د حج او عمرې لپاره کفایت کوي کله چې هغې له خلکو سره د افاضې طواف او سعې طواف ترسره کړ، ځکه چې قارن د عمرې او حج ترمنځ د مفرد په شان دی هغه باندې یوازې یو طواف او یوه سعې وي؛ د رسول الله صلى الله علیه وسلم د تصریح پر بنیاد چې هغې ته یې وویل او د هغه د فعل پر اساس، او پدې هکله رسول الله - صلى الله علیه وسلم - په بل

حديث کې فرمايلي دي: عمره د قيامت تر ورځې پورې حج ته داخل شوې ده. او الله ښه پوهيږي.[1]

او کله چې د ذوالحجې اتمه ورځ راشي نو حاجيان په مکه مکرمه کې له خپلو کورونو څخه د حج لپاره احرام تړي، لکه څنګه چې په ميقات کی يې احرام تړلی و، ځانونه به پاک کړي او بيا به د احرام جامې واغوندي، بيا حاجي که نارينه وي يا ښځينه د حج نيت به وکړي، بيا به ووايي: " اللهم لبيك حجًّا " او د احرام له ممنوعاتو څخه به ځان ساتي ترڅو چې د قربانۍ په ورځ له مزدلفې څخه منا ته راستون شي، او د عقبې جمره به وولي، سر‌ې به خپل سر وخروي او ښځې به خپل ويښتان لنډ کړي.[2]

کله چې حاجي په اتمه ورځ احرام وتړي له نورو حاجيانو سره به منا ته لاړ شي، هلته به شپه تېره کړي او هر لمونځ به پر خپل وخت په قصر سره ادا کوي او يو ځای کوي به يې نه، او کله چې د عرفات په ورځ لمر را وخيژي، له حاجيانو سره به يو ځای نمرې ته ولاړ شي، او هلته به کښيني، ترڅو له امام سره او يا په هغه ځای کې چې اوسيږي د ماسپښين او

---

1 د اختر په ورځ يا وروسته له اختره دې طواف وکړي، او د هغه لومړی طواف د حج نه مخکې و هغه ته طواف قدوم ويل کيږي، او هغه نفلی طواف دی، او سعی د مفرد او قارن لپاره يو دي که چيرته يې د طواف قدوم سره ادا کړی وي بسنه کوي،

او که يې نه وي ادا کړی له طواف افاضې سره دې د اختر په ورځ او يا له هغه وروسته ادا کړي.

2 د قربانۍ ورځ د لوی اختر ورځ ده، چې د ذوالحجې لسمه ده، پدې نوم ځکه ياديږي چې پدې ورځ کې حاجيان خپله قرباني ذبح کوي.

مازديګر لمونځ دې يوځای لنډ (قصر) سره ادا کړي، بيا له زوال څخه وروسته به عرفات ته ولاړ شي، که له منا څخه عرفات ته نېغ ولاړ شي او هلته کښېني، جواز لري، او عرفات ټول د ودرېدلو لپاره دی.

حاجي په عرفات کې په دوامدار ډول د الله تعالی ذکر، دعا او استغفار کوي، او قبلې ته مخ اړوي، نه غره ته؛ ځکه چې غر د عرفات يوه برخه ده، د عبادت په نيت پرې ختل روا ندي، او د عرفات د تيږو مسح کول روا ندي؛ ځکه دا يو حرام بدعت دی.

حاجي تر لمر لوېدو پورې عرفات څخه بايد و نه وځي، او له لمر لوېدو وروسته حاجيان مزدلفې ته ځي، او کله چې هلته ورسيږي د ماښام او ماخوستن لمونځ د جمعې او قصر په شکل ادا کوي او هلته به شپه تېره کړي، او کله چې سهار شي د سهار لمونځ به وکړي او د الله تعالی ذکر به وکړي، بيا د لمر له ختلو مخکې منا ته ولاړ شي، او کله چې منا ته ورسېد، نو د لمر له لوېدو وروسته په اوو کاڼو سره د عقبې جمره ولي، او کاڼي بايد د نخود په اندازه وي، نه غټه او نه کوچنۍ، او د جمراتو ويشتل په څپليو باندې روا ندي؛ ځکه چې دا د شيطان لخوا دوکه ورکول دي او دې کار ته ښه پرداز ورکوي، او د شيطان ذليل کول د رسول الله صلی الله عليه وسلم د حکم په متابعت او لارښونو کې دي، او بايد هغه څه پريښودل شي چې الله او د هغه رسول منع کړي وي.[1]

---

1 د شيطان ذليلول، يعنی: د هغه سپکاوی.

بیا د جمرې ویشتلو څخه وروسته حاجي خپل څاروی ذبحه کوي، بیا خپل سر خریي او ښځه خپل ویښتان لنډوي؛ نارینه و لپاره لنډول روا دي، خو خریل یې غوره دي، بیا دې خپلې جامې واغوندي او هر هغه څه چې په احرام کې پرې حرام شوي وو د هغه لپاره روا دي، پرته له ښځو څخه، بیا به مکې ته ولاړ شي او د حج طواف او سعې دې وکړي، او په دې سره د هغه لپاره هر څه روا دي حتا میرمن هم، بیا به منا ته راستون شي او هلته به د اختر پاتې ورځې تیرې کړي او دوې ورځې او دوې شپې فرض دي چې په منا کې پاتې شي، او په یوولسمه او دولسمه ورځ د لمر له زوال څخه وروسته دې درې جمرې وولي، له کوچنۍ جمرې څخه دې پیل کړي کومه چې منا ته نږدې موقعیت لري، ورپسې منځنۍ او ورپسې د عقبې جمره کومه یې چې د اختر په ورځ ویشتلې وه، هره یوه جمره به په اوو کاڼو وولي، او د هر یو کاڼي په ویشتلو سره به الله اکبر وایي، او د جمرو لپاره به کاڼي له خپل کور څخه راواخلي.[1] څوک چې په منا کې ځای ونه مومي په هغه ځای کې دې پاتې شي چې خیمې ختمې شوې دي.

که حاجی وغواړي چې په دولسمه ورځ د جمراتو د ویشتلو وروسته له منا څخه ووځي، کولای شي چې دغه کار وکړي، او که له منا څخه خپل وتل تر دیارلمسې ورځې پورې وځنډوي دا غوره ده او جمرات دې پس له زوال څخه وولي، او کله چې وغواړي سفر وکړي نو طواف وداع دې ترسره کړي، او له هغې وروسته دې سمدستي سفر وکړي،او که

1 یعنې: د هغه د اوسیدو ځای.

حایضې او نفاسې ښځې د حج طواف او سعی ترسره کړې وې هغوی باندې طواف وداع نشته.

او که حاجي خپله قرباني تر یوولسمې، دولسمې یا دیارلسمې ورځې پورې وځنډوي، د هغه لپاره دغه کار روا دی، او که هغه د حج طواف او سعې تر هغه وخته وځنډوی ترڅو چې له مناسکو څخه راښکته شي نو د هغه لپاره دغه کار روا دی؛ مګر غوره هغه څه دي چې وړاندې بیان شول.

الله ښه پوهیږي، او د الله سلام او درود دې وي زموږ پر پیغمبر محمد - صلی الله علیه وسلم - او د هغه پر کورنۍ باندې.

***

ایمان

الله تعالی پر مسلمان باندې د دې تر څنګ چې پر هغه او د هغه پر رسول - صلی الله علیه وسلم - او د اسلام په رکنونو باندې ایمان راوړي دا یې هم واجب کړي دي چې، د هغه پر ملایکو، او کتابونو باندې چې پر خپلو رسولانو باندې یې نازل کړي دي ایمان راوړي، چې په قرآن کریم سره یې پای ته رسولي دي، او په قرآن کریم باندې یې پخواني ټول کتابونه نسخ کړي دي، او قرآن یې نورو کتابونو باندې برلاسی کړی دی، او د الله د لمړي رسول څخه تر پایه پورې چې محمد صلی الله علیه وسلم دی باېد ایمان راوړي؛ ځکه چې د دوی پیغام یو دی، دین یې یو دی چې هغه اسلام دی، او لیږونکی یې یو دی او هغه رب العالمین دی. مسلمان باید په دې ایمان ولري چې هغه پیغمبران چې الله په قرآن کې د هغوی ذکر

کړی، هغوی پخوانیو امتونو ته د الله رسولان دي، او په دې ایمان ولري چې محمد صلی الله علیه وسلم د دوی وروستی پیغمبر دی، او هغه د ټولو خلکو لپاره د الله رسول دی، او دا چې د هغه د بعثت څخه وروسته ټول خلک د هغه امتیان دي حتی یهودیان، مسیحیان او د نورو دینونو پیروان؛ ځکه چې په ځمکه کې هر څوک چې دي د محمد امتي دی او د الله په نیز باندې د هغه په پیروي باندې مکلف دي.[2][1]

موسی او عیسی او ټول پیغمبران له هغو کسانو څخه بېزاره دي چې د محمد -صلی الله علیه وسلم- پیروي نکوي، او غواړي چې اسلام ته داخل شي؛ ځکه چې یو مسلمان په ټولو

---

1 یعني مسلمان په دې عقیده دی چې هغه کتابونه چې الله تعالی پر خپلو رسولانو نازل کړي حق دي، او له هغو جملې څخه یوازې قرآن پاتې دی، خو تورات او انجیلونه چې د یهودیانو او نصرانیانو په لاسونو کې دي، هغه د دوی د تالیفاتو څخه دي پدې دلیل چې یو بل سره توپیر لري. او ددوی وینا پدې کتابونو کې چې وایي: معبودان درې دي، او عیسی د الله زوی دی، مګر حقیقت دا دی چې معبود یو دی او هغه الله دی، او دا چې عیسی د الله بنده او رسول دی لکه څرنګه چې په قرآن کې راغلي دي. او هغه څه چې په دې کتابونو کې د الله له کلام څخه ذکر شوي د قرآن په واسطه منسوخ شوي. کله چې رسول الله صلی الله علیه وسلم د عمر په لاس کې د تورات پاڼه ولیده، په غوسه شو او ویې ویل: ای د خطاب زویه! آیا پر ما شک کوې؟ په الله قسم که زما ورور موسی ژوندی وای نو زما له پیروۍ پرته به یې بله چاره نه درلوده. بیا عمر هغه پاڼه وغورځوله او ویې ویل: ای د الله رسوله ماته بخښنه وکړه.» احمد (۳/۳۸۷) له جابر بن عبدالله څخه روایت کړی، او الباني په الاروا (۱۵۸۹) کې دا سند حسن بللی دی.

2 ملائکې: هغه روحونه دي چې الله تعالی له نور (رڼا) څخه پیدا کړي دي، او د هغوی شمیر ډېر دی چې یوازې الله تعالی یې شمېرلی شي، ځینې یې په اسمانونو کې دي، او ځینې یې پر بني آدم توظیف شوي دي.

پیغمبرانو ایمان لري او د هغوی پیروي کوي، او څوک چې په محمد صلی الله علیه وسلم ایمان نلري او د هغه پیروي کوي او د اسلام دین ته داخلیږي نو هغه پر ټولو پیغمبرانو کافر او منکر دی، که هغه ادعا وکړي چې زه د دوی پیروي کوم، د دې خبرې دلیلونه د الله تعالی له قوله په دویم فصل کې ذکر شوي دي.

د الله پیغمبر محمد صلی الله علیه وسلم فرمایلي دي:

«وَالَّذِي نَفْسُ مُحَمَّدٍ بِيَدِهِ، لَا يَسْمَعُ بِي أَحَدٌ مِنْ هَذِهِ الْأُمَّةِ يَهُودِيٌّ، وَلَا نَصْرَانِيٌّ، ثُمَّ يَمُوتُ وَلَمْ يُؤْمِنْ بِالَّذِي أُرْسِلْتُ بِهِ، إِلَّا كَانَ مِنْ أَصْحَابِ النَّارِ»[49].

«قسم په هغه ذات چې د محمد روح يې په لاس کې دی، په دې امت کې هر یهودي یا نصراني چې زما خبر هغه ته ورسیږي او زما پر رسالت ایمان رانه وړي، مګر دا چې هغه به ددوزخیانو څخه وي» .[1]

او پر مسلمان واجب دي چې له مرګ څخه وروسته پر ژوندي کیدلو، حساب، جزا ، جنت او دوزخ ایمان ولري، او هغه باید د الله تعالی په تقدیر باندې ایمان ولري.

په تقدیر باندې د ایمان لرلو معنی:

دا چې مسلمان عقیده ولري چې الله تعالی په هر څه پوه دی، او د بندګانو په اعمالو پوهه و مخکې لدې چې ځمکې او اسمانونه پیدا کړي، او دغه پوهه يې له ځانه سره په لوح محفوظ کې لیکلې ده، او مسلمان په دې پوهیږي چې هر څه

[1] مسلم (١٥٣) او احمد (٢/٣١٧) د دې تخریج کړی دی.

چې الله وغواړي هغه پېښیږي او هر څه چې و نه غواړي هغه نه پېښیږي، او دا چې الله جل جلاله بندګان د خپل د اطاعت لپاره پیدا کړي او هغوی ته یې دا خبره په ډاګه کړې او هغوی ته یې پر دې امر کړی او د خپلې نافرمانۍ څخه یې منع کړي دي، او هغه یې دوی ته روښانه کړی او دوی ته یې دا وړتیا او اراده ورکړې چې دوی به د الله حکمونه پلي کړي؛ چې هغوی ته به ثواب ورکول کیږي، او څوک چې د هغه نافرماني وکړي سزا ورته ورکول کیږي.

او د بنده اراده د الله تعالی د ارادې تابع ده، او هغه تقدیرونه چې الله تعالی خپلو بندګانو لپاره ندې مقدر کړي او هغوی ته یې اراده او اختیار نه وي ورکړی، مګر دا ډول تقدیرونه هغوی باندې اجرا کیږي لکه خطا او هیرول، او هغه څه چې دوی ورته اړ ایستل شوي دي، لکه فقر، ناروغي، آفتونه او داسې نور، نو پدې سره الله تعالی هغه نه نیسي او سزا ورته نه ورکوي، بلکې په آفتونو، فقر او ناروغیو باندې هغه ته اجر ورکوي، که هغه صبر وکړي او د الله په حکم راضي شي نو لوی اجر به ورکول کیږي.

دا هر څه چې وړاندې بیان شول مسلمان باید پرې ایمان ولري.

پر الله تر ټولو لوی ایمان لرونکی مسلمان، او هغه ته تر ټولو نږدې او په جنت کې تر ټولو لوړ درجه لرونکي (احسان او نیکي کوونکي دي)، هغه څوک چې د الله عبادت کوي، الله لوی ګڼي، او د هغه لپاره خشوع او عاجزي کوي ګواکې هغه ګوري، او په پټه او ښکاره د هغه نافرماني نه کوي، او پر دې

عقيده دي هغه چې هرچیرې وي الله یې ګوري، او د هغه هیڅ کار، خبره او نیتونه له الله څخه پټ ندي، نو د هغه امر پر ځای کوي، او د هغه نافرماني نه کوي، او که یو له دوی څخه یوه ګناه وکړي - د الله د حکم خلاف-؛ له هغه ګناه څخه الله ته په اخلاص او عاجله توګه توبه کوي او په خپل خطا باندې پښیمانه وي، او له الله څخه بخښنه غواړي او هغه ګناه ته بیا نه راګرځي؛ الله تعالی فرمایلي دي:

(إِنَّ اللَّهَ مَعَ الَّذِينَ اتَّقَوا وَّالَّذِينَ هُم مُّحْسِنُونَ)

(إِنَّ اللَّهَ مَعَ الَّذِينَ اتَّقَوا وَّالَّذِينَ هُم مُّحْسِنُونَ)

بېشکه الله د هغو کسانو ملګری دی چې پرهېزګاري کوي او د هغو کسانو چې هغوی نېکي کوونکي دي. [النحل:128].

***

د اسلام د دین کمال

الله تعالی په قرآن عظیم الشان کې فرمایلي دي:

(الْيَوْمَ أَكْمَلْتُ لَكُمْ دِينَكُمْ وَأَتْمَمْتُ عَلَيْكُمْ نِعْمَتِي وَرَضِيتُ لَكُمُ الْإِسْلَامَ دِينًا)

(الْيَوْمَ أَكْمَلْتُ لَكُمْ دِينَكُمْ وَأَتْمَمْتُ عَلَيْكُمْ نِعْمَتِي وَرَضِيتُ لَكُمُ الْإِسْلَامَ دِينًا)

نن ورځ ما تاسو لپاره ستاسو دین مکمل کړ او پر تاسو مې خپل نعمتونه تمام کړل او ما ستاسو لپاره اسلام د دین په توګه خوښ کړ. [المائدة:3]، او الله تعالی فرمایلي دي:

(إِنَّ هَٰذَا الْقُرْآنَ يَهْدِي لِلَّتِي هِيَ أَقْوَمُ وَيُبَشِّرُ الْمُؤْمِنِينَ الَّذِينَ يَعْمَلُونَ الصَّالِحَاتِ أَنَّ لَهُمْ أَجْرًا كَبِيرًا)

﴿إِنَّ هَٰذَا الْقُرْآنَ يَهْدِي لِلَّتِي هِيَ أَقْوَمُ وَيُبَشِّرُ الْمُؤْمِنِينَ الَّذِينَ يَعْمَلُونَ الصَّالِحَاتِ أَنَّ لَهُمْ أَجْرًا كَبِيرًا﴾

بېشكه دا قرآن هغې (لارې) ته ښودنه كوي چې تر ټولو برابره نېغه ده او هغو مومنانو ته زېرى وركوي چې نيک عملونه كوي، د دې چې يقينًا د دوى لپاره ډېر لوى اجر دى. [الإسراء:9]، الله -عز وجل- د قرآن په هكله فرمايي:

﴿وَنَزَّلْنَا عَلَيْكَ الْكِتَابَ تِبْيَانًا لِّكُلِّ شَيْءٍ وَهُدًى وَرَحْمَةً وَبُشْرَىٰ لِلْمُسْلِمِينَ﴾

﴿وَنَزَّلْنَا عَلَيْكَ الْكِتَابَ تِبْيَانًا لِّكُلِّ شَيْءٍ وَهُدًى وَرَحْمَةً وَبُشْرَىٰ لِلْمُسْلِمِينَ﴾

او مونږ په تا باندې كتاب نازل كړى دى، په داسې حال كې چې (د دين) د هر شي لپاره (په كې) واضحه بيان دى، هدايت، رحمت او زېرى دى د مسلمانانو لپاره. [النحل:89].

«په صحيح حديث كې رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايلي دي:

«قَدْ تَرَكْتُكُمْ عَلَى الْبَيْضَاءِ لَيْلُهَا كَنَهَارِهَا، لَا يَزِيغُ عَنْهَا بَعْدِي إِلَّا هَالِكٌ»،

تاسو مې په سپينه (رڼايى) كې پرېښې ياست، شپه يې د ورځې په شان ده، له ما وروسته د هغې نه څوک نه وځي مګر

هلاک شوی انسان» (50).[1] او رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايلي دي:

«تَرَكْتُ فِيكُمْ أَمْرَيْنِ لَنْ تَضِلُّوا مَا تَمَسَّكْتُمْ بِهِمَا: كِتَابَ اللهِ وَسُنَّةَ نَبِيِّهِ».

" په تاسو کې مې دوه شيان پريښي دي، تر هغه وخته به تاسو گمراه نشئ چې تاسو هغه ټينګ نيولي وي: د الله کتاب او د هغه د پيغمبر سنت"[2].

او په مخکې آيتونو کې:

الله تعالى په لومړي آيت کې فرمايي چې د مسلمانانو لپاره يې د دوی دين اسلام بشپړ کړی دی، چې هيڅ کمښت نلري، او هيڅ دول زياتوالي ته اړتيا نلري، د هر وخت او ځای او ملت لپاره د اعتبار وړ دی، او وايي چې په دې ستر، کامل، آسان دين سره يې پر مسلمانانو خپل نعمت بشپړ کړی دی، او همدارنګه د خاتم الانبياء محمد -صلى الله عليه وسلم- په رسالت سره، او د اسلام په ظاهريدو او د اسلام د اهل بريا د هغوی پر دښمنانو باندې، او وايي چې اسلام يې د دين په توګه د خلکو لپاره خوښ کړی دی، او هيڅکله به هغه څخه ناراضه نشي او هيڅکله به له چا څخه دين قبول نکړي پرته د اسلام د دين څخه.

---

[1] ابوداود (4607)، او ترمذي (2676) په همدی خير، او ابن ماجه (43) تخريج کړی، او لفظ د هغه دی، او احمد (17142) په لږ توپير سره، دا تخريج کړی دی. او الباني په صحيح ابن ماجه کی صحيح بللی دی(۴۱) .

[2] مالک تخريج کړی(۳۳۳۸)، او الباني په صحيح الجامع (۲۹۳۷) کې صحيح بللی دی.

او په دويم آيت کې الله تعالی فرمايي چې قرآن عظيم الشان يو بشپړ منهج دی چې په هغه کې د ديني او دنيوي معاملاتو ريښتيني او د حق بيان شوی دی، هيڅ داسې خير نشته مګر دا چې هغه ته يې اشاره کړې، او هيڅ داسې شر او بدي نشته مګر دا چې له هغه څخه يې خبرداری ورکړی، او د تيرې، اوسنۍ، او راتلونکي مسألو او ستونزو سم او عادلانه حل په قرآن کې شتون لري، او هر هغه حل چې د قرآن له حل سره په ټکر کې وي، جهالت او بې انصافي ده.

نو علم، عقيده، سياست، د حکومتدارۍ نظام، قضا، ارواپوهنه، ټولنپوهنه، اقتصاد، د مجازاتو نظام او نور هر هغه څه چې انسان ورته اړتيا لري، دا ټول الله په قرآن کريم کې روښانه کړي دي، او د هغه د رسول محمد - صلی الله عليه وسلم - په ژبه - بشپړ بيان شوي دي؛ لکه څرنګه چې الله تعالی په پورتني آيت کې پدی هکله فرمايلي دي چې: وَنَزَّلْنَا عَلَيْكَ الْكِتَابَ تِبْيَانًا لِّكُلِّ شَيْءٍ)) [النحل:89].

او مونږ په تا باندې کتاب نازل کړی دی، په داسې حال کې چې (د دين) د هر شي لپاره (په کې) واضحه بيان دی.

په لاندې څپرکي کې د اسلام د دين د بشپړتيا او د هغې د هر اړخيزې، بشپړې او عادلانه تګلارې په مفصل او لنډ شکل بيانيږی.

***

## څلورم څپرکی – د اسلام تګلاره

لومړی: د علم (پوهې) په برخه کې:

لومړۍ دنده چې الله انسان ته پرې امر کړی د علم زده کړه ده؛ الله تعالی فرمایلي دي:

(فَاعْلَمْ أَنَّهُ لَا إِلَٰهَ إِلَّا اللَّهُ وَاسْتَغْفِرْ لِذَنبِكَ وَلِلْمُؤْمِنِينَ وَالْمُؤْمِنَاتِ ۗ وَاللَّهُ يَعْلَمُ مُتَقَلَّبَكُمْ وَمَثْوَاكُمْ)

(فَاعْلَمْ أَنَّهُ لَا إِلَٰهَ إِلَّا اللَّهُ وَاسْتَغْفِرْ لِذَنبِكَ وَلِلْمُؤْمِنِينَ وَالْمُؤْمِنَاتِ ۗ وَاللَّهُ يَعْلَمُ مُتَقَلَّبَكُمْ وَمَثْوَاكُمْ)

نو ته پوه شه چې ببشکه شان دا دی چې د عبادت هېڅ لایق نشته مګر الله دی او د خپلې ګناه مغفرت وغواړه او د مومنو سړیو او مؤمنو ښځو لپاره هم، او الله ستاسو په ګرځېدنځی او اوسېدنځی عالِم دی. [محمد:19]، او الله تعالی فرمایلي:

(يَرْفَعِ اللَّهُ الَّذِينَ آمَنُوا مِنكُمْ وَالَّذِينَ أُوتُوا الْعِلْمَ دَرَجَاتٍ ۚ وَاللَّهُ بِمَا تَعْمَلُونَ خَبِيرٌ)

(يَرْفَعِ اللَّهُ الَّذِينَ آمَنُوا مِنكُمْ وَالَّذِينَ أُوتُوا الْعِلْمَ دَرَجَاتٍ ۚ وَاللَّهُ بِمَا تَعْمَلُونَ خَبِيرٌ)

الله به په تاسو کې هغه کسان په درجو کې اوچت کړي چې ایمان یې راوړی دی او هغه کسان چې هغوی ته علم ورکړی شوی دی او الله په هغو کارونو چې تاسو یې کوئ ښه خبردار دی. [المجادلة:11] او الله تعالی فرمایلي:

(وَقُل رَّبِّ زِدْنِي عِلْمًا)

(وَقُل رَّبِّ زِدْنِي عِلْمًا)

او ته ووایه: ای زما ربه ما ته (زما) په علم کې زیاتوالی راکړې. [طه:114]، او الله تعالی فرمایلي:

(فَاسْأَلُوا أَهْلَ الذِّكْرِ إِن كُنتُمْ لَا تَعْلَمُونَ)

(فَاسْأَلُوا أَهْلَ الذِّكْرِ إِن كُنتُمْ لَا تَعْلَمُونَ)
نو تاسو د ذکر له خاوندانو (عالمانو) نه پوښتنه وکړئ که تاسو نه پوهېږئ. [الأنبياء:7]. او د خاتم الانبياء محمد صلى الله عليه وسلم په صحيح حديث کی راغلي دي:

«طَلَبُ العِلْمِ فَرِيْضَةٌ عَلَىٰ كُلِّ مُسْلِمٍ»[52]،
«د علم زده کړه پر هر مسلمان فرض ده»[1] او هغه صلى الله عليه وسلم فرمايلي دي:

«فَضْلُ الْعَالِمِ عَلَى الْعَابِدِ كَفَضْلِ الْقَمَرِ لَيْلَةَ الْبَدْرِ عَلَى سَائِرِ الْكَوَاكِبِ»[53].
"د عالم فضيلت په عبادت کوونکي باندې داسې دی لکه د څوارلسمي سپوږمۍ فضيلت پر نورو ستورو باندې".[2]

او په اسلام کې علم د اړتيا له مخې په څو برخو ويشل شوی دی:

لومړی برخه: په هر انسان، نر او ښځه فرض ده، هيڅوک د دې د ناپوهۍ څخه معاف ندي، او هغه د الله تعالى او د هغه د رسول محمد صلى الله عليه وسلم په اړه پوهه ده - او د هغه څه پوهه چې د اسلام د دين اړتيا وي.[3]

دويمه برخه: کفايي فرض که د کافي افرادو لخوا ترسره شي، له نورو خلکو څخه يې ګناه غورځول کيږي،او د نورو

---

1 ابن ماجه (۲۲۴) او طبراني په (۲۲) الصغير کې تخريج کړی دی، او الباني په صحيح الجامع (۳۸۰۸) او (۳۸۰۹) کې دا سند صحيح بللی دی.
2 ترمذي (۲۳۲۲) او ابن ماجه (۴۱۱۲) کې تخريج کړی دی ، او الباني په صحيح الجامع (۱۶۰۹) کې دا سند صحيح بللی دی.
3 په دې اړه په تېرو درېيو فصلونو کې تفصيل راغلی دی.

لپاره واجب ندي بلکه مستحب دي، هغه د اسلامي شریعت په احکامو پوهاوی دی چې زده کوونکي یې د تدریس، قضا او فتوا ورکولو وړتیا پیدا کوي، او همدارنګه هغه پوهه چې مسلمانان د صنعت او مسلکونو لپاره ورته اړتیا لري. د مسلمانانو مشر او زعیم باید خلک دې علومو او مسلکونو ته اړ باسي که چیرته کافی خلک په کې شتون ونلري، او د داسې پوهانو د موندلو لپاره باید کار وکړي چې د هغه سره به مسلمانان د هغه څه لپاره کافي وي چې د دوی د ژوند لپاره اړین وي.

دویم: د عقیدې په اړه:

الله جل جلاله خپل رسول محمد صلی الله علیه وسلم ته امر وکړ چې ټولو خلکو ته دا اعلان وکړي چې دوی یوازې د الله بندګان دي، یوازې د هغه عبادت دې وکړي، او دوی ته یې امر وکړ چې الله تعالی سره نیغه اړیکه ولري  پرته له منځګړیتوب څخه د هغه په عبادت کې، څرنګه چې د دې وضاحت مخکې په دې مطلب "لا إله إلا الله" کې بیان شو، او هغوی ته یې امر وکړ چې یوازې پر الله توکل وکړي، له هغه پرته له هیچا څخه و نه ویریږي، او یوازې له هغه څخه دې هیله ولري؛ ځکه چې هغه یوازې ګټه او ضرر رسونکی دی، او هغه دې د کمال په صفتونو سره یاد کړي چې ځان یې په هغې باندې یاد کړی او په هغه صفتونو سره چې رسول الله

صلی الله علیه وسلم بیان کړي دي، لکه څرنګه چې مخکې د هغې بیان وشو.[1]

دریم: د خلکو تر منځ اړیکې:

الله تعالی مسلمان ته امر کړی چې هغه باید صالح انسان وي، او د اسلام رڼا ته د کفر له تیارو څخه د بشریت د ژغورلو هڅه دې وکړي؛ له همدې امله ما دا کتاب تالیف او خپور کړ تر څو د مسولیت یوه برخه مې ادا کړې وي.

او الله امر کړی چې د یو مسلمان بنده اړیکه له بل مسلمان سره په الله باندی د ایمان لرلو اړیکه وي، نو هغه د الله نېکان بندګان خوښوي چې د الله او د هغه د رسول اطاعت کوي، که څه هم دوی ډېر لرې خلک هم وي، له کافرانو او د الله او د هغه د رسول نافرمانو څخه نفرت کوي، که څه هم دوی ډېر نږدې خلک وي، او دا هغه اړیکه ده چې دوه جلا شوي سره یوځای کوي، او د بیلابیلو خلکو تر منځ جوړښت او محبت راولي، د نسب، وطن او مادي ګټو په خلاف سره، ځکه دا هغه څه دي چې په چټکۍ سره له منځه ځي.

الله تعالی فرمایلي دي:

﴿لَّا تَجِدُ قَوْمًا يُؤْمِنُونَ بِاللَّهِ وَالْيَوْمِ الْآخِرِ يُوَادُّونَ مَنْ حَادَّ اللَّهَ وَرَسُولَهُ وَلَوْ كَانُوا آبَاءَهُمْ أَوْ أَبْنَاءَهُمْ أَوْ إِخْوَانَهُمْ أَوْ عَشِيرَتَهُمْ﴾

---

[1] مطلب دا چې: له هغه مخلوق څخه لکه مړي او بتان ډار او هیله لرل و نه شی چې د الله په څیر ځواک نلري، لیکن هغه ویره چې مخلوق یې لرلی شي لکه د زمریانو او غلو څخه ویره، او همدارنګه هیله لرل له هغه چا څخه چې د مرستې کولو توان لري، لکه مسؤل او سخي، دغه دواړه طبیعي ویره او هیله ده چې هغه انسان ملامت نه شي کیدلی.

﴿لَّا تَجِدُ قَوْمًا يُؤْمِنُونَ بِاللَّهِ وَالْيَوْمِ الْآخِرِ يُوَادُّونَ مَنْ حَادَّ اللَّهَ وَرَسُولَهُ وَلَوْ كَانُوا آبَاءَهُمْ أَوْ أَبْنَاءَهُمْ أَوْ إِخْوَانَهُمْ أَوْ عَشِيرَتَهُمْ﴾

ته به داسې قوم ونه مومې چې په الله او په ورځ د اخرت ايمان لري، چې دوی به له هغو کسانو سره دوستي کوي چې د الله او د هغه د رسول مخالفت کوي اګر چې دغه خلق د دوی پلرونه وي، یا د دوی زامن، یا د دوی ورونه، یا د دوی قبیله وي. [المجادلة:22]، او الله تعالی فرمايلي دي:

﴿إِنَّ أَكْرَمَكُمْ عِندَ اللَّهِ أَتْقَاكُمْ﴾

﴿إِنَّ أَكْرَمَكُمْ عِندَ اللَّهِ أَتْقَاكُمْ﴾

بېشکه د الله په نيز په تاسو کې ډېر عزتمن، ستاسو زيات پرهېزګار دی. [الحجرات:13].

الله تعالی په لومړي آيت کې فرمايي: پر الله ايمان لرونکي د الله له دښمنانو سره مينه نکوي، که څه هم هغوی تر ټولو نږدې خلک وي.

په دويم آيت کې فرمايي: په خلکو کې د الله په نيز تر ټولو عزتمند او محبوب هغه ځوک دي چې د هغه تابعدار وي که هغه د هر جنس او رنګ څخه وي.

او الله تعالی له دښمن او دوست سره په انصاف امر کړی دی، او په خپل ځان يې ظلم حرام کړی دی، او پر خپلو بندګانو يې هم حرام ګرځولی دی او په امانت او رېښتینولۍ باندې يې امر کړی، او خيانت يې حرام ګرځولی دی، او د مور او پلار په احترام او تابعدارۍ يې امر کړی دی، خپلوۍ پاللو باندې يې امر کړی دی، او له بې وزلو او فقيرانو سره په نیکۍ کولو يې امر کړی دی، او همدارنګه په خيريه کارونو کې برخه

اخیستل، او هر څه باندې د احسان او نیکۍ کولو امر کړی حتا پر حیواناتو باندې، الله د هغوی له ځورولو منع کړې، او هغوی باندې د احسان او مهربانۍ امر یې کړی، لیکن زیان رسوونکي ځاروي لکه کوځه ډب سپی، مار، لړم، موږک، سور پتنګ، ګیکو (ږانده مېږي) ؛ دوی باید ووژل شي تر څو د هغوی له شر څخه مخنیوی وشي او عذاب باید ورنکړل شي.[2][1]

څلورم: د مؤمن انسان مراقبت او د زړه نصیحت په اړه:

د قرآن عظیم الشان آیتونه د دې لپاره راغلي چې خلکو ته دا روښانه کړي چې الله دوی په هر ځای کې چې وي وینې یې، او د هغوی په ټولو اعمالو پوه دی، او د دوی له نیتونو څخه باخبر دی، او د دوی عملونه او خبرې حسابوي، او د الله ملایکې د دوی سره همېشه دي او د هغوی پټ او ښکاره عملونه لیکي، او دا چې الله به له دوی سره د ټولو کړنو او خبرو حساب کوي، که دوی په دې ژوند کې د هغه نافرماني او سرغړونه وکړي هغوی ته له دردناک عذاب څخه

1 دا یو وحشي سپی دی چې خلکو ته زیان رسوي، او ټول وحشي او ضرر لرونکي حیوانات پکې شاملېږي.

2 حتا د حلال ځاروي د ذبحې په وخت کې هم، رسول الله -صلی الله علیه وسلم- امر کړی دی چې چاړه باید تیره کړای شي او ځاروی باید په آرامۍ سره ذبحه شي. د ذبحه کولو ځای: ستونی دی، د مرۍ او د وینې دوه رګونه پرې کول ترڅو وینه یې راووځي، او اوبښ د ستوني لاندې په چاړه باندې وهل کیږي، لیکن د ځاروي وژل د بریښنایی شاټ په واسطه او یا د هغې په سر باندې وهل، او داسې نور؛ دا ټول ډولونه حرام دي او پدې طریقه حلال شوي ځاروي خوړل روا نه دي.

خبرداری ورکوي، او دا په الله باندې د ایمان لرونکو لپاره ترټولو لوی منع کوونکی دی چې هغوی له نافرمانۍ څخه منع کوي؛ نو پدې اساس باندې د الله تعالی له وېرې جرمونه او سرغړونې پرېږدي.

څوک چې له الله څخه نه وېرېږي او ګناهونه کوي که چیرته توان یې ولري، نو الله د هغه لپاره په دې ژوند کې حد مقرر کړی دی، او هغه دا دی چې: الله تعالی مسلمانانو ته امر کړی چې خلکو ته په نیکیو امر وکړي او له بدیو یې منع کړي؛ نو هر مسلمان دا احساس کوي چې هرکله خلک ګناه وکړي او هغه یې ووینې، د الله په وړاندې مسؤول دی، تر څو هغه کس په خپلې ژبې سره منع کړي که په خپل لاس سره یې د مخنیوي توان نه درلود. او الله تعالی د مسلمانانو حاکم ته امر کړی چې سرغړوونکو باندې د الله حدود قایم کړي، او دا هغه مجازات دي چې د مرتکبینو د جرمونو په تناسب تعین شوي دي، چې الله تعالی په قرآن کې واضح کړي، او رسول الله صلی الله علیه وسلم په خپلو احادیثو کې تشریح کړي دي، او مجرمینو باندې د حدودو په تطبیق کولو امر کړی دی؛ او په دې توګه عدالت، امنیت او سوکالي خپرېږي.[1]

پنځم: د پیوستون او ټولنیزې همکارۍ په برخه کې:

الله تعالی مسلمانانو ته امر کړی چې په مادي او معنوي لحاظ له یو بل سره همکاري وکړي، لکه څرنګه چې مخکې د زکات او صدقاتو په باب کې بیان شو، او الله تعالی مسلمان د هر ډول ضرر رسولو څخه منع کړي چې خلکو ته یې

---

[1] حاکم یا ولسمشر.

ورسوي، حتا د لارې ضرر رسولو يې حرام ګرځولی، او مسلمان ته يې امر کړی چې هر کله ضرر رسونکی څيز يې وليد نو له منځه يې يوسي، که څه هم هغه کار د بل چا له خوا ترسره شوي وي، او د دې کار لپاره د اجر ژمنه يې ورسره کړې ده، لکه څرنګه چې يې ضرر رسوونکي کس ته د سزا ژمنه کړې ده.

او الله تعالی مؤمن باندې واجب ګرځولې چې خپل ورور لپاره هغه څه خوښ کړي هغه څه چې د ځان لپاره خوښوي، او د هغه لپاره هغه څه بد وګڼي کوم څه چې د ځان لپاره يې بد ګڼي، الله تعالی فرمايي:

(وَتَعَاوَنُوا عَلَى الْبِرِّ وَالتَّقْوَىٰ ۖ وَلَا تَعَاوَنُوا عَلَى الْإِثْمِ وَالْعُدْوَانِ ۚ وَاتَّقُوا اللَّهَ ۖ إِنَّ اللَّهَ شَدِيدُ الْعِقَابِ)

(وَتَعَاوَنُوا عَلَى الْبِرِّ وَالتَّقْوَىٰ ۖ وَلَا تَعَاوَنُوا عَلَى الْإِثْمِ وَالْعُدْوَانِ ۚ وَاتَّقُوا اللَّهَ ۖ إِنَّ اللَّهَ شَدِيدُ الْعِقَابِ)

او تاسو له يو بل سره په نېکۍ او پرهېزګارۍ کې مرسته کوئ او د ګناه او ظلم په کار کې د يو بل سره مرسته مه کوئ او له الله نه ووېرېږئ، بېشکه الله ډېر سخت عذاب ورکوونکی دی. [المائدة:2]، او الله تعالی فرمايلي دي:

(إِنَّمَا الْمُؤْمِنُونَ إِخْوَةٌ فَأَصْلِحُوا بَيْنَ أَخَوَيْكُمْ)

(إِنَّمَا الْمُؤْمِنُونَ إِخْوَةٌ فَأَصْلِحُوا بَيْنَ أَخَوَيْكُمْ)

بېشکه هم دا خبره ده چې مومنان خو سره ورونه دي، نو تاسو د خپلو دواړو ورونو په منځ کې سوله کوئ. [الحجرات:10]، او الله تعالی فرمايلي دي:

(۞ لَّا خَيْرَ فِي كَثِيرٍ مِّن نَّجْوَاهُمْ إِلَّا مَنْ أَمَرَ بِصَدَقَةٍ أَوْ مَعْرُوفٍ أَوْ إِصْلَاحٍ بَيْنَ النَّاسِ ۚ وَمَن يَفْعَلْ ذَٰلِكَ ابْتِغَاءَ مَرْضَاتِ اللَّهِ فَسَوْفَ نُؤْتِيهِ أَجْرًا عَظِيمًا)

(۞ لَّا خَيْرَ فِي كَثِيرٍ مِّن نَّجْوَاهُمْ إِلَّا مَنْ أَمَرَ بِصَدَقَةٍ أَوْ مَعْرُوفٍ أَوْ إِصْلَاحٍ بَيْنَ النَّاسِ ۚ وَمَن يَفْعَلْ ذَٰلِكَ ابْتِغَاءَ مَرْضَاتِ اللَّهِ فَسَوْفَ نُؤْتِيهِ أَجْرًا عَظِيمًا)

هېڅ خير نشته د هغوی په ډېرو پټو مشورو کې مګر هغه څوک چې حکم وکړي د صدقې کولو، يا د نېکۍ کولو، يا د خلقو په مينځ کې د اصلاح (روغې) کولو، او هر څوک چې دغه کارونه د الله د رضا لټولو لپاره وکړي، نو ژر ده چې هغه ته به مونږ ډېر لوی اجر ورکړو. [النساء:114] ، او محمد صلى الله عليه وسلم فرمايلي دي:

«لَا يُؤْمِنُ أَحَدُكُمْ حَتَّى يُحِبَّ لِأَخِيهِ مَا يُحِبُّ لِنَفْسِهِ»[59]،

"په تاسو کې هيڅوک تر هغه وخته مؤمن نه شی کيدلی ترڅو چې د خپل ورور لپاره هغه څه خوښ نه کړي چې د ځان لپاره يې خوښوي"[1]، او رسول الله صلى الله عليه وسلم په خپله هغه ستره خطبه کې چې د خپل ژوند په پای کې په حجة الوداع کې يې کړې وه، د هغه څه تاکيد کړی چې مخکې ورته امر شوی و: او احمد روايت کړی:[2]

«يَا أَيُّهَا النَّاسُ أَلَا إِنَّ رَبَّكُمْ وَاحِدٌ وَإِنَّ أَبَاكُمْ وَاحِدٌ، أَلَا لَا فَضْلَ لِعَرَبِيٍّ عَلَى أَعْجَمِيٍّ وَلَا لِعَجَمِيٍّ عَلَى عَرَبِيٍّ وَلَا لِأَحْمَرَ عَلَى

---

1 د بخاري (۱۳)، او مسلم (۴۵) روايت دی او دا لفظ د مسلم دی.

2 دا د احاديثو په کتابونو کې سترې او هراړخيزې ويناوې دي.

أَسْوَدَ وَلَا أَسْوَدَ عَلَى أَحْمَرَ إِلَّا بِالتَّقْوَى، أَبَلَّغْتُ ؟» قَالُوا : بَلَّغَ رَسُولُ اللَّهِ -صلى الله عليه وسلم- .[61].

"اى خلكو ستاسو رب يو دى او ستاسو پلار يو دى، خبر اوسئ چې نه عرب پر عجم او نه عجم پر عرب، نه سور پر تور باندې او نه تور پر سور باندې فضيلت لري، مګر په تقوا سره، آيا تاسو ته مې خبر ورساوه؟" دوى وويل: رسول الله صلى الله عليه وسلم خبر ورساوه[1]

وقال -صلى الله عليه وسلم- -أيضًا-:

او همدارنګه رسول الله صلى الله عليه وسلم وفرمايل:

«إِنَّ دِمَاءَكُمْ وَأَمْوَالَكُمْ، وَأَعْرَاضَكُمْ عَلَيْكُمْ حَرَامٌ، كَحُرْمَةِ يَوْمِكُمْ هَذَا، فِي بَلَدِكُمْ هَذَا، فِي شَهْرِكُمْ هَذَا، إِلَى يَوْمِ تَلْقَوْنَ رَبَّكُمْ، أَلَا هَلْ بَلَّغْتَ؟». قالوا: نعم. فرفع أصبعه إلى السماء، وقال: «اللهُمَّ اشْهَدْ»[62].

"ستاسو وينه، شتمني، او عزت تاسو باندې حرام دي، لکه ستاسو د دغې ورځې د حرمت په څير، ستاسو په دې خاورې (هيواد) کې، ستاسو په دې مياشت کې،

تر هغې ورځې پورې چې تاسو خپل رب سره ملاقات وکړئ، آيا ما خبره ورسوله؟

هغوى وويل: هو. بيا رسول الله صلى الله عليه وسلم خپله ګوته اسمان ته پورته کړه او ويې ويل: اى الله ته ګواه شه .[2]

شپږم: په کورنې سياست کې:

---

1 احمد روايت کړى (22978)، او الباني په السلسلة الصحيحة (199/6) کې صحيح بللى دى.

2 بخارى (105) او مسلم (1679) روايت کړى، او دا لفظ د بخاري دى.

الله تعالی مسلمانانو ته امر کړی چې پر خپل منځ کې يو امام وټاکي او له هغه سره د امارت لپاره بيعت وکړي، او هغوی ته يې امر ورکړ چې يو بل سره يوځای شئ او تفرقه مه کوئ ترڅو ستاسو څخه يو ملت جوړ شي، او همدارنګه الله هغوی ته امر وکړ چې د خپل امام او خپلو واکمنانو اطاعت وکړئ، مګر دا چې دوی د الله په ګناه سره امر وکړي، ځکه چې د خالق په نافرمانۍ کې د مخلوق اطاعت نشته.

او الله تعالی مسلمان ته امر کړی - هرکله چې هغه په کوم هيواد کې وي چې د اسلام دين د ځرګندولو او هغه ته ددعوت توان نلري - هغه ته امر کوي چې له هغه ځای څخه اسلامی هيوادونو ته هجرت وکړي، هغه هيواد چې پکې ټولې چارې د اسلامي شريعت له مخې فيصله، او د مسلمان امام لخوا د الله د اوامرو پر اساس اداره کيږي.[1]

اسلام سيمه ييز سرحدونه او قومي او يا ولسي قومونه نه پيژني، بلکې د مسلمان ملي هويت اسلام دی، بندګان د الله بنده ګان دي، او ځمکه د الله ځمکه ده، يو مسلمان بغير له کوم مخالف او معارض څخه له يو ځای څخه بل ځای ته تللی شی، په دې شرط چې د الله د شريعت پيروي وکړي، او هر کله چې د شريعت پر خلاف عمل وکړي هغه باندې د الله حکم تطبيقيږي، او د الله د شريعت په تطبيق سره، او د حدودو په قايمولو سره د خلکو امنيت او د خلکو سميدل، او د هغوی د وينو نه تويدل، د هغوی د عزت او مال ساتنه او ټول خير

1 امر يې ورته وکړ - که توان يې لري - .

ورسره منځ ته راځي. همدارنګه د شریعت په نه تطبیقیدلو سره ټوله بدي او شر منځ ته راځي.[1]

الله د عقلونو ساتنه کړې: د نشه يي توکو، مخدراتو، او د سستئ راوستونکو موادو په منع کولو سره، او د نشه يي توکو د څښلو لپاره يې جز ټاکلې، چې هغه له (۴۰-۸۰) پورې دُورې وهل دي، هر کله چې هغه دا کار وکړي؛ د هغه د منع کولو، او د عقل دساتلو، او د هغه له شر څخه د خلکو ساتل دي.[2]

او الله تعالی د مسلمانانو وينې خوندي کړي دي: د ظالم څخه په انتقام اخيستلو سره؛ نو قاتل بايد ووژل شي، او په زخمونو کې په بدل اخيستلو سره قصاص روا شوی دی، او همدارنګه مسلمان ته يې د ځان، ناموس او مال څخه د دفاع حق ورکړی دی؛ الله تعالی فرمايلي دي:

(وَلَكُمْ فِي الْقِصَاصِ حَيَاةٌ يَا أُولِي الْأَلْبَابِ لَعَلَّكُمْ تَتَّقُونَ) البقرة:[179]،

(وَلَكُمْ فِي الْقِصَاصِ حَيَاةٌ يَا أُولِي الْأَلْبَابِ لَعَلَّكُمْ تَتَّقُونَ) البقرة:[179]،

او ستاسو لپاره په قصاص کې ژوند دی، ای د خالص عقل خاوندانو! د دې لپاره چې تاسو (ځان) وساتئ. البقرة: 179،

او رسول الله صلی الله عليه وسلم فرمايلي دي:

---

1 حدود هغه سزاګاني دي چې په اسلامي شريعت کې د ځانګړو جرمونو د ترسره کولو لپاره ټاکل شوي دي.

2 سستي راوستونکي مواد هغه مواد دي چې د بدن، عقل او اعصابو د سستئ او کسالت سبب ګرځي.

«مَنْ قُتِلَ دُونَ مَالِهِ فَهُوَ شَهِيدٌ، وَمَنْ قُتِلَ دُونَ دِينِهِ فَهُوَ شَهِيدٌ، وَمَنْ قُتِلَ دُونَ دَمِهِ فَهُوَ شَهِيدٌ، وَمَنْ قُتِلَ دُونَ أَهْلِهِ فَهُوَ شَهِيدٌ».

"هر څوک چې د خپل مال د ساتنې په لاره کې ووژل شو هغه شهید دی، څوک چې د خپل دین د ساتنې په لاره کې ووژل شي هغه شهید دی، او څوک چې د خپلې وینې د ساتلو په لاره کې ووژل شو هغه شهید دی، او څوک چې د خپلې کورنۍ د ساتلو په لاره کې ووژل شو هغه شهید دی.[1]

او الله تعالی د مسلمانانو د عزت ساتنه کړې: د هغه څه په واسطه چې د مسلمان په غیبت کې د حق څخه پرته د بدو الفاظو د ویلو څخه منع کړې، او د تهمت لګوونکي لپاره د حد قایمولو په واسطه هر کله چې مسلمان په درواغو په اخلاقي جرم تورن کړي، لکه زنا، لواطت بغیر د شرعي ثبوت څخه.

او الله نسلونه د نامشروع اختلاط څخه خوندي ساتلي دي، او د عزت او ناموس حفاظت یې د زنا په کلک ډول تحریمولو او له لویو ګناهونو څخه یې شمیریلی دی، او عاملینو ته یې عبرتناکه سزا ټاکلې ده هرکله چې د حد قایمولو شرطونه پوره شي.[2]

---

1 ابو داود (2/275)، نسائي (2/316) او احمد (1652) روایت کړی، او الباني په صحیح الترغیب والترهیب: (1411) کې دا حدیث صحیح بللی دی، او صحیح الجامع (۶۱۷۲) .

2 او الله نسلونه له ضایع کیدلو او اختلاط څخه خوندي ساتلي دي؛ لکه څرنګه چې یو سړی د زنا له امله د خپل پلار پرته بل چا ته منسوب شي.

او الله د مال ساتنه کړې: د غلا، خیانت، قمار، رشوت او نورو حرامو لاسته راوړنو په تحریمولو سره، او د هغې منع کوونکي سزا په واسطه چې د غل او لار لوټونکو لپاره یې مقرر کړې، او هغه د لاس پرې کول دي که د سزا شرطونه پوره شي، یا داسې سزا ورکړل شي چې ددې کار مخه ونیسي، که چیرته غلا ثابته شوي وي مګر شرطونه پوره نه وي.

او هغه چا چې دا حدود وضع کړي هغه ښه پوه او حکیم ذات الله دی، او هغه ښه پوهیږي چې څه شی د هغه د مخلوق په خیر او صلاح دی، او هغه پر دوی ډیر مهربان دی، الله دغه حدود د مجرمو مسلمانو د ګناهونو کفاره او د ټولنې له شر او د نورو له شر څخه د ژغورنې وسیله ګرځولې ده. او د اسلام هغه دښمنان چې د قاتل وژل او د غله د لاس پرې کول عیب ګڼي، دا په اصل کې پدې مانا ده دوی د یو ناروغ د فاسد غړي پرې کول عیب ګڼي، که دغه غړی پرې نشي په ټوله ټولنه کې یې فساد خپریږي، او په ورته وخت کې دوی د خپلو ناحقه موخو لپاره د بې ګناه خلکو وژل تاییدوي.[1]

اوم: د بهرني سیاست په اړه:

الله تعالی مسلمانانو او د هغوی مشرتابه ته امر کړی چې غیرمسلمانان اسلام ته دعوت کړي؛ تر څو د هغه په وسیله د کفر له تیارو څخه د الله د ایمان رڼا خوا ته، او د دنیاوي ژوند په مادي څیزونو کې د ډوبېدو له بدبختۍ او د روحي خوښیو

---

1 دا د ناروغ او فاسد غړي له پرې کولو څخه چې د هغه د بدن او کورنۍ د خوندیتوب لپاره ترسره کیږي غوره او اړین دي.

له محرومیت څخه چې مسلمانان په واقعیت کې له هغه څخه خوند اخلي وژغوري. نو الله مسلمان ته پدې باندې امر کړی دی چې: د یو ښه انسان په توګه په خپل ښه والي سره ټول بني ادمانو ته ګټه ورسوي، او د ټول بشریت د ژغورلو هڅه وکړي، د انساني منهج پر خلاف؛ ځکه دغه انسانی منهج له انسان څخه دا غوښتنه کوي چې یوازې پخپله ښه اوسي، او دا د دې منهج د فساد او نیمګړتیا او د اسلام د نیکمرغۍ او بشپړتیا دلیل دی.

او الله تعالی مسلمانانو ته امر کړی دی چې د اسلام او مسلمانانو د ساتنې لپاره د الله د دښمنانو په مقابل کې هر څومره چې توان ولري چمتوالی ولري، ترڅو خپل او د الله دښمنان ووېروي. همدارنګه الله تعالی مسلمانانو ته دا اجازه ورکړې چې د اسلامي شریعت په رڼا کې له غیر مسلمانانو سره تړونونه ولري، که چیرته دې موضوع ته اړتیا وي، او الله تعالی مسلمانان له خپل دښمن سره د تړون د ماتولو څخه منع کوي چې له خپلو دښمنانو سره یې کړي دي، پرته لدې چې دښمن د هغه ماتول پیل کړي، او یا داسې څه وکړي چې د تړون ماتولو ته اړتیا پیدا شي، او دوی احساس وکړي چې تړون مات شوی دی.»

مخکې له دې چې له غیر مسلمانانو سره جګړه پیل شي، الله تعالی مسلمانانو ته امر کړی چې لومړی خپل دښمنان اسلام ته دعوت کړي، که یې انکار وکړ، نو له هغوی څخه به جزیه وغوښتل شي او د الله حاکمیت ته باید تسلیم شي، او

که یې و نه منل نو هغوی سره به جګړه وکړي ترڅو فتنه له منځه لاړه شي او ټول دین به د الله وي.[2][1]

د جګړې په وخت کې الله تعالی پر مسلمانانو د ماشومانو، ښځو، بوډاګانو او هغه راهبان چې په خپلو معبدونو کې دي وژل منع کړي دي، پرته له هغو کسانو چې د جنګیالیو سره په نظر ورکولو یا عمل کې ونډه اخلي، او دوی ته یې امر کړی چې له بندیانو سره په مهربانۍ چلند وکړي، لدې څخه موږ پوهیږو چې د غزا موخه په اسلام کې تسلط او استغلال ندی، بلکې موخه یې د حق خپرول او مخلوق باندې رحم کول

---

1 فتنه به هغه وخت رامنځته شي کله چې خلکو ته د اسلام رسیدل منع شي، او د اسلام قبلولو لپاره د هغوی آزادۍ واخیستل شي پرته له زور او جبر څخه.

2 د اسلامي واکمنۍ لاندې، مسلمانان زکات ورکوي، او غیر مسلمان جزیه ورکوي دا هغه مال دی چې له بالغ سړي څخه اخیستل کیږي، پرته له ښځو، ماشومانو، لیونیانو، بوډاګانو او غریبانو څخه، جزیه یوه لږه اندازه ده چې د رسول الله صلی الله علیه وسلم په زمانه کې په کال کې له یو دینار څخه زیاته نه وه، دا ډیره لږه اندازه ده چې هر شتمن یې په کال کې یو ځل ورکوي؛ تر څو د اسلامي دولت تر چتر لاندې خوندي ژوند وکړي او وتوانیږي د خپل ژوند ټول فعالیتونه د اسلامي شریعت په رڼا کې ترسره کړي او له خوندي ژوند څخه برخمن شي او د مسلمانانو لخوا د دوی د مال او عزت لپاره بشپړ خوندیتوب تضمین شي، د دوی د کلیساګانو او دین امنیت سربیره، او کله چې مسلمانان د هغوی د حقونو او له دښمن څخه د هغوی د ساتنې توان ونلري نو له دوی څخه اخیستل شوې جزیه بیرته ورکول کیږي؛ ځکه چې د جزیې شرطونه ندي تکمیل شوي چې هغه حمایت او ساتنه ده، او که چیرته هغوی د هیواد په ساتنې او دفاع کې ونډه واخلي، مسلمانان باید له هغوی څخه جزیه وانخلي، او حکومت باید د هغوی له فقیرانو سره د مسلمانانو په څیر مرسته وکړي او درملنه یې وکړي.

دي، او خلک د مخلوق له عبادت څخه د خالق عبادت ته راوستل دي.

اتم: د ازادۍ په اړه:

(الف) د عقیدې ازادي:

د اسلام په دین کې الله تعالی هغه غیر مسلمان ته چې غواړې د اسلام تر واکمنۍ لاندې راشي د عقیدې ازادي ورکړې ده، وروسته لدې چې اسلام هغه ته بیان شي او دعوت ورته وشي، که یې اسلام غوره کړ؛ نو په دې کې یې خوشحالي او نجات دی، او که یې پر خپل دین پاتې کېدل غوره کړل؛ نو د ځان لپاره یې کفر، بدبختي او په دوزخ کې عذاب غوره کړ، او په دې سره پر هغه باندې حجت قایم شو، او د الله تعالی پر وړاندې هیڅ عذر نلري، نو پدې وخت کې مسلمانان هغه په خپل ایمان باندې په دې شرط پرېږدي چې په خپل لاس په متواضع شکل جزیه ورکړي، او د اسلام احکامو ته باید درناوی وکړي، او خپل کفري مراسم دې د مسلمانانو پر وړاندې نه اظهاروي.

اما مسلمان، د اسلام له داخلېدو وروسته له هغه څخه ارتداد (د اسلام څخه وتل) نه قبلیږي، او که چیرته مرتد شي، نو سزا یې مرګ دی، دا ځکه چې د حق له پوهېدو وروسته مرتد انسان د ژوندي پاتې کېدلو وړ نه دی، پرته له دې چې الله ته توبه وباسي او بېرته اسلام ته راشي .[1]

---

1 ارتداد: د اسلام پرېښودل او د کفر قبلول، چا چې اسلام د قناعت له مخې غوره کړی وي هیڅکله به دا کار ونکړي، او نه به کوم دین او کلتور هغه له اسلام څخه واړوي؛ ځکه چې هیڅکه به د اسلام کمال او اعجاز ته و نه

او که مرتد کیدل یې د اسلام د نواقضو (باطلوونکي) د نقض په خاطر وي نو د نقض شوي څیز څخه دې د هغه په پریښودلو باندې توبه وباسي او بد دی یې وګڼي او د الله تعالی څخه دې ببښنه وغواړي.

د اسلام نواقض (باطلوونکي) ډېر دي؛ تر ټولو مشهور یې:

له الله تعالی سره شرک کول دي او هغه دا چې بنده له الله سره بل معبود وګرځوي، که څه هم د هغه څیز او الله تر منځ د منځګړیتوب په توګه وي، او هغه راغواړي او نذرانې ورته وړاندې کوي، که د الله د الوهیت په نوم او معنا باندې اعتراف هم وکړي ځکه چې د اله په مانا او عبادت پوه دی- لکه د اسلام نه مخکې مشرکانو چې د بُتانو عبادت کاوه، کوم چې صالحو خلکو ته پکې اشاره کیدله د شفاعت غوښتلو لپاره-، او یا دا و نه مني چې دغه څیز د الله سره یو معبود دی، او ددې څیز عبادت کول پدې مانا دي چې د الله عبادت شوی وي لکه د هغه مشرکانو په څیر چې خپل ځانونه اسلام ته منسوبوي او

---

رسیږي، او د ارتداد د مقاصدو څخه په اسلامي ټولنه کې د فتنې پارول او کفر ته هڅول او یا د شهوت او مادي او ټولنیزو ګټو کوښښ کول دي، په دې ډول له اسلام څخه ارتداد له لویو او مهمو الهی میثاقونو څخه وتل دي، او دا هغه څه ته ورته دي چې په اوسني وخت کې اکثره هیوادونه له وطن سره د ستر خیانت د جرم او د هغه لپاره د مرګ (اعدام) د سزا د وضع کولو شرط ټاکي، پدې ترتیب سره د مرتد کس فساد ټولنه کې تر دې کچې رسیږي چې بغیر ددې چې هغه د اسلامي ټولنې څخه د هغه په مرګ (قتل) ونه ویستل شي بله لاره یې نشته، اما د مرتد د ثبوت او هغه باندې د حد پلي کول د اسلام په شریعت کې د حاکم په لاس دي، د دقیقو قضایي ګامونو له مخې، د ارتداد د تورن له بې عدالتۍ او د اسلامي ټولنې د دین د ساتنې لپاره باید ترسره شي.

د هغه چا نه مني چې دوی ته د توحيد بلنه ورکوي، او دوی ګمان کوي چې شرک يوازې بتانو ته سجده کول دي، او يا دا چې بنده پرته له الله څخه ووايي چې: دا زما الله دی.

دوی د هغه چا په څير دي چې شراب څښي او د هغه له نوم پرته بل نوم ورته اخلي، او د دوی حالت مخکې بيان شوی دی، الله تعالی فرمايي:

(فَاعْبُدِ اللَّهَ مُخْلِصًا لَّهُ الدِّينَ (2) أَلَا لِلَّهِ الدِّينُ الْخَالِصُ ۚ وَالَّذِينَ اتَّخَذُوا مِن دُونِهِ أَوْلِيَاءَ مَا نَعْبُدُهُمْ إِلَّا لِيُقَرِّبُونَا إِلَى اللَّهِ زُلْفَىٰ إِنَّ اللَّهَ يَحْكُمُ بَيْنَهُمْ فِي مَا هُمْ فِيهِ يَخْتَلِفُونَ ۗ إِنَّ اللَّهَ لَا يَهْدِي مَنْ هُوَ كَاذِبٌ كَفَّارٌ (3))

(فَاعْبُدِ اللَّهَ مُخْلِصًا لَّهُ الدِّينَ (2)

نو ته د الله عبادت کوه، په داسې حال کې چې دين هغه (الله) لره خالص کوونکی يې.

أَلَا لِلَّهِ الدِّينُ الْخَالِصُ ۚ وَالَّذِينَ اتَّخَذُوا مِن دُونِهِ أَوْلِيَاءَ مَا نَعْبُدُهُمْ إِلَّا لِيُقَرِّبُونَا إِلَى اللَّهِ زُلْفَىٰ إِنَّ اللَّهَ يَحْكُمُ بَيْنَهُمْ فِي مَا هُمْ فِيهِ يَخْتَلِفُونَ ۗ إِنَّ اللَّهَ لَا يَهْدِي مَنْ هُوَ كَاذِبٌ كَفَّارٌ (3))

خبردار شئ! خاص د الله لپاره خالص دين دی، او هغه کسان چې له هغه نه غير يې دوستان (کارسازي) نيولي دي (وايي): مونږ د دوی عبادت نه کوو مګر د دې لپاره چې دوی مونږ الله ته نژدې کړي، په ښه نژدې کولو سره، بېشکه الله به د دوی په منځ کې په هغو خبرو کې فيصله کوي چې دوی په هغو کې اختلاف کوي، بېشکه الله هدايت نه کوي هغه چا ته چې هغه دروغجن، ډېر ناشکره وي. [الزمر:2-3]، او الله تعالی فرمايلي دي:

(ذَٰلِكُمُ اللَّهُ رَبُّكُمْ لَهُ الْمُلْكُ ۚ وَالَّذِينَ تَدْعُونَ مِن دُونِهِ مَا يَمْلِكُونَ مِن قِطْمِيرٍ (13) إِن تَدْعُوهُمْ لَا يَسْمَعُوا دُعَاءَكُمْ وَلَوْ سَمِعُوا مَا اسْتَجَابُوا لَكُمْ ۖ وَيَوْمَ الْقِيَامَةِ يَكْفُرُونَ بِشِرْكِكُمْ ۚ وَلَا يُنَبِّئُكَ مِثْلُ خَبِيرٍ (14))

(ذَٰلِكُمُ اللَّهُ رَبُّكُمْ لَهُ الْمُلْكُ ۚ وَالَّذِينَ تَدْعُونَ مِن دُونِهِ مَا يَمْلِكُونَ مِن قِطْمِيرٍ (13)

دغه الله ستاسو رب دی، خاص د ده لپاره بادشاهي ده او هغه (معبودان) چې تاسو يې له دغه (الله) نه غير بولئ، دوی د کجورې د زړي د پردې هم مالکان نه دي.

إِن تَدْعُوهُمْ لَا يَسْمَعُوا دُعَاءَكُمْ وَلَوْ سَمِعُوا مَا اسْتَجَابُوا لَكُمْ ۖ وَيَوْمَ الْقِيَامَةِ يَكْفُرُونَ بِشِرْكِكُمْ ۚ وَلَا يُنَبِّئُكَ مِثْلُ خَبِيرٍ (14))

که تاسو دوی وبولئ، دوی ستاسو بلنه نه اوري او که چېرې وايې وري، نو دوی ستاسو بلنه قبلولی نه شي او د قيامت په ورځ به دوی ستاسو په شريک جوړولو منکر شي او تا ته (بل څوک) خبر نشي درکولی د ښه خبرداره (الله) په شان. [فاطر:13-14]

١- د مشرکانو او نورو کافرانو نه تکفيرول: لکه يهوديان، نصرانيان، ملحدان، مجوسيان او هغه طاغوتيانو چې د الله له نازل شوي احکامو څخه پرته حکم کوي، او د الله له حکم او فيصلې څخه راضي نه وي، او که څوک دوی تکفير نه کړي پس لدې چې پوه شي چې دوی پر الله باندې کافران دي، نو دغه کس کافر شوی دی.

٢- سحر او جادو د لوی شرک ملزم دی، څوک چې دا کار وکړي يا هغه باندې راضي اوسي وروسته له دې چې پوه شی

چې ددې کار کوونکی کافر کیږي، نو دغه کس کافر ګڼل کیږي.

۳- داسې عقیده لرل چې له اسلام پرته بل قانون یا نظام د اسلام له شریعت څخه غوره دی، یا دا چې د رسول الله صلی الله علیه وسلم پرته بل حکم د هغه له حکم څخه غوره دی، یا دا چې د الله تعالی له حکم پرته د بل حکم کول روا دي.

۴- د رسول الله صلی الله علیه وسلم څخه کرکه – او یا له هغه څه سره کرکه چې پوهیږي چې دغه څیز د هغه له شریعت څخه دی.

۵- په هغه څه ملنډې وهل کله چې پوه شی چې دا د اسلام څخه دي.[1]

۶- د اسلام له بریا څخه کرکه، او یا په ښکته کیدلو باندې د خوښۍ څرګندول.

۷- کافرانو سره مینه او د هغوی ملاتړ کول، حال دا چې هغه پوهیږي څوک چې هغوی سره مینه کوي د هغوی له ډلې څخه ګرځي.

۸- په دې باور کول چې هغه کولای شي د محمد صلی الله علیه وسلم له شریعت څخه ووځي - او په دې پوهیږي چې هیڅوک نشي کولای چې په هیڅ برخه کې د هغه له شریعت څخه ووځي.

---

1 په الله او یا د هغه پر رسولانو ملنډې وهل؛ لکه محمد، موسی، یا عیسی علیه السلام - یا هغه څه باندې چې د اسلام د دین سره تړاو ولري او خلک پرې پوه وي.

۹- د الله له دین څخه مخ اړول، څوک چې د اسلام څخه مخ واړوي وروسته لدې چې هغه ته یادونه او نصیحت وشي، نه اسلام زده کوي او نه یې پلي کوي، دغه کس کافر ګرځي.

۱۰- د اسلام له توافق شوي حکم څخه انکار کول، داسې حکم چې هغه باندې نباید ناپوه پاتي شي... د اسلام د نواقضو (باطل کوونکو) په اړه په قرآن او سنت کې دلیلونه ډېر دي.

(ب) د نظر ازادي:

الله تعالی په اسلام کې د نظر ازادي په دې شرط ورکړې چې دا نظر د اسلام له احکامو سره په ټکر کې نه وي، نو الله مسلمان ته امر کړی چې د هر چا په مخ کې د حق کلمه ووايي او د الله په خاطر دې د ملامتونکي په ملامتولو نه شاته کیږي، او هغه يې له غوره جهاد څخه بللی، او هغه ته يې امر کړی چې د مسلمانانو چارواکو لپاره نصیحت وکړي، او د هغوی له سرغړونو څخه يې منع کړي، او امر يې ورته کړی چې باطل بلونکو ته ځواب ووايي او هغوی دې منع کړي، دا د نظر د احترام لپاره تر ټولو لوی او خورا ښکلی نظام دی. لیکن هغه نظر چې د الله له شریعت سره په ټکر کې وي، ددې نظر لرونکي ته اجازه نشته چې بیان يې کړي؛ ځکه دا تخریب، فساد او له حق سره مبارزه ده.

(ج) د شخصیت ازادي:

الله تعالی په اسلام کې د اسلامي شریعت په پاکو حدودو کې انسان لپاره د شخصیت ازادي ورکړې، -که هغه سړی وی یا ښځه – ازادي په خپلو کړنو کې چې خلکو سره يې کوي، لکه اخیستل او پلورل، ډالۍ کول، وقف او بخښنه، نارینه او ښځه

دواړو ته يې د جوړې غوره کولو ازادي ورکړې، او هيڅ ځوک يې ندی مجبور کړی چې هغه ځوک غوره کړي چې خوښ يې نه وي، او هرکله چې ښځه يو سړی غوره کړي چې په دين کې د هغې سره برابر نه وي، هغې ته په دې کار کې اجازه نه ورکول کيږي؛ د هغې د عقيدې او عزت د ساتلو لپاره، دا ډول منع کول د هغې او د هغې د کورنۍ په مصلحت دي.

د ښځې سرپرست - چې د نسب له مخې هغې ته تر ټولو نږدې سړی وي او يا د هغې وکيل وي – سرپرست يا (ولي) هغه ځوک دی چې د ښځې د واده د عقد مسوليت لري؛ ځکه چې ښځه خپل ځان په نکاح نشي ورکولی، ځکه چې دا کار د زناکارې ښځې سره مشابهت لري، نو خاوند ته وايي: تا ته مې فلانۍ په نکاح درکړه، خاوند ورته په ځواب کې وايي: ما دا نکاح قبوله کړه، او دوه شاهدان بايد دې عقد کې حاضر وي.

اسلام يو مسلمان ته اجازه نه ورکوي چې د هغه حد څخه تجاوز وکړي چې الله د هغه لپاره مقرر کړی دی، ځکه ټول هغه څه چې د هغه په اختيار کې دي الله پورې اړه لري، نو د هغه تصرف بايد د الله د شريعت په حدودو کې وي، هغه شريعت چې د خپلو بندګانو لپاره يې د رحمت په توګه مقرر کړی، هر چا چې د هغه په شريعت باندې منګولې و لګولې هدايت او خوشحالي ورته رسيږي، او ځوک چې مخالفت وکړي بدبخت او هلاک به شي؛ له همدې امله الله جل جلاله زنا او لواطت په کلکه منعه کړي، او پر مسلمان باندې ځان

وژنه او الله چې په کوم خلقت پیدا کړي دي هغه کې بدلون راوستل يې حرام ګرځولي دي.

هر چې د برېتو لنډول او نوکان لنډول، او د ناف د ويښتان خريل او د بغلونو د ويښتانو غوڅول او سنتول دي، نو دې ټولو باندې الله امر کړی دی.

او الله تعالی مسلمان له دې څخه منع کوي چې په هغو چارو کې د الله د دښمنانو تقليد وکړي چې د دوی ځانګړتيا وي؛ ځکه چې د هغوی سره ظاهري چارو کې مشابهت او مينه کول په زړه کې د هغوی د محبت لامل ګرځي.

او الله غواړي چې مسلمان د صحيح اسلامي فکر سرچينه اوسي، نه دا چې د خلکو د افکارو او نظرياتو واردوونکی وي. او الله غواړي چې مسلمان ښه بيلګه وي نه تقليد کوونکي.

او هر چې صنعتونه او سمې تخنيکي تجربې دي، نو اسلام د هغو زده کولو او د هغو څخه ګټه اخيستلو باندې امر کوي، حتا که پدې برخه کې غير مسلمان مخکې اوسي؛ ځکه چې الله د انسان ښوونکی دی، الله تعالی فرمايي:

(عَلَّمَ الْإِنسَانَ مَا لَمْ يَعْلَمْ)

(عَلَّمَ الْإِنسَانَ مَا لَمْ يَعْلَمْ)

انسان ته يې هغه څه ښودلي دي چې دی پرې نه پوهېده. [العلق:5].

دا د انسان لپاره د نصيحت او اصلاح تر ټولو لوړه کچه ده چې د خپلې ازادۍ څخه ګټه پورته کړي، او د انسان د عزت

ساتنه او حمایت د خپل ځان او د نورو له شر څخه يې وژغوري.

د هستوګنې ازادي:

الله تعالی مسلمان ته د هستوګنې ازادي ورکړې ده، نو هیڅوک د هغه له اجازې پرته نه شي کولای چې د هغه هستوګن ځای ته ننوځي، او نه د ده له اجازې پرته د هغه هستوګن ځای ته وګوری.

(ه) د کار کسب آزادي:

الله تعالی مسلمان ته د هغه څه په حدودو کې چې د هغه لپاره ټاکل شوي د ګټې او مصرفولو خپلواکي ورکړې، او هغه ته يې په کار او کسب امر کړی؛ ترڅو د خپل ځان او کورنۍ لپاره کفایت وکړي، د نیکۍ او خیرات په لارو کې يې مصرف کړي، او په ورته حال کې الله حرامې ګټې لکه: سود، قمار، رشوت، غلا، د فال او جادو مزدوري، زنا او لواطت، او د حرامو له لارې ګټل لکه د روح لرونکو تصویر یا رسم جوړول، شراب، خنزیر، د لهو حرام وسایل، او د سندرو ویلو او نڅا کولو اجوره، لکه څرنګه چې له دې وسیلو څخه د ګټو لاس ته راوړل حرام دي، نو په دې وسایلو او مواردو باندې مصرف کول هم حرام دي، د مسلمان لپاره دا سمه نه ده چې له مشروع لارې پرته په بله لاره څه مصرف کړي، او دا د انسان لپاره د هغه د ګټلو او مصرفولو په برخه کې د نصیحت،

لاربښوونې او اصلاح لوړه درجه ده؛ ترڅو په حلالې ګټې (عاید) سره بډایه ژوند وکړي او خوشحاله اوسي.[1]

نهم: په کورنۍ کې:

الله تعالی په اسلامي شریعت کې کورنۍ په خورا بشپړ نظام کې تنظیم کړې ده، هر څوک چې پرې عمل وکړي د هغه د خوښۍ وسیله ګرځي، نو والدین (مور او پلار) ته خیر او احسان رسونه یې وضع کړي دي، د ښو خبرو او مستمر شکل باندې د هغوی زیارت کول که چیرې هغوی لرې وي، د هغوی خدمت او د هغوی ضرورتونه پوره کول او هغوی باندې مصرف (خرچه) کول او د هغوی لپاره د هستوګن ځای برابرول که چیرته هغوی یا یو له هغوی څخه فقیر وي، او الله تعالی د سزا خبرداری ورکړی دی هغه چا ته چې خپل مور او پلار ته پاملرنه نکوي، او هغوی سره نیکي کوونکي سره یې د خوښۍ وعده کړې، د واده کولو قانون یې وضع کړی او د هغې د مشروعیت حکمت یې په خپل کتاب او د هغه د رسول صلی الله علیه وسلم په ژبه بیان کړي دي

***

د واده د مشروعیت حکمت

---

1 د روح لرونکو هغه انځورونه چې د لاس په واسطه رسم شوي وي، او یا په لرګیو او نورو شیانو نقش شوي وي، یا له ختو او نورو شیانو څخه جوړ شوي وي، دغه موارد انځورګرانو ته د اخطار او وعید په نصوصو کې شامل دي.

۱- نکاح د عفت او پاک لمنۍ له سترو اسبابو څخه دي، او ددې له لارې د شرمګاه ساتنه د حرامو -زنا- څخه کیږي، او حرامو ته د کتلو څخه د سترګو ساتنه کیږي.

۲- په واده کولو سره ښځه او خاوند یو بل ته سکون او ارامتیا وربخښي؛ ځکه چې الله د دوی په منځ کې مینه او رحمت برقرار کړی دی.

۳- په نکاح کولو سره دمسلمانانو شمیر په شرعي لحاظ زیاتیږي، په هغه کې پاکي او اصلاح دي.

۴- په نکاح کې هر یو ښځه او خاوند د خپل ملګري خدمت کوي کله چې هر یو خپله هغه وظیفه ترسره کړي چې د هغه د طبیعت سره برابره وي، لکه څرنګه چې الله تعالی وضع کړي دي.

سړی له کوره بهر کار کوي او پیسې ګټي؛ ترڅو خپلې مېرمنې او اولادونو باندې مصرف وکړي، او ښځه د کور دننه کار کوي، هغه امیدواره کیږي، شیدې ورکوي، ماشومان لویوي، د خاوند لپاره خواړه، کور او بستر چمتو کوي، کله چې ستړی او له اندیښنو سره کور ته ننوځي نو هغه ستړیا او اندیښنې له منځه ولاړې سي او له خپلې میرمنې او اولادونو سره آرام او سکون پیدا کړي، او ټول په آرامۍ او خوښۍ کې ژوند وکړي. د خاوند په څنګ کې د هغې په کار کې کوم اعتراض نشته - که دوی موافق وي - په کوم کار کې چې هغه د ځان لپاره غواړي یا د خپل میړه سره د پیسو په ګټلو کې مرسته کوي، مګر دا په دې شرط چې هغه کار چې هغه یې کوي د نارینه وو څخه لرې وي او ښځه له نارینه و سره

اختلاط ونکړي، پدې مانا چې دغه کار د ښځې په کور يا فارم کې وي يا د مېړه په فارم کې وي او يا د هغې په کورنۍ کې وي، لیکن د هغې کار چې نارينه وو سره په فابریکه، دفتر، هټۍ يا ورته نورو ځایونو کې چې اختلاط کیږي؛ دا کار نه د ښځې لپاره روا دی، او نه مېړه ته او نه د هغې مور او پلار او خپلوانو ته روا دی چې هغې ته د کار اجازه ورکړي اګر که ښځه دا ډول کار د ځان لپاره خوښ کړي، ځکه پدې کار سره ښځه خپل ځان او ټولنه فساد خوا ته اړ باسي. تر هغه چې ښځه په خپل کور کې په ستر کې وي له نارينه و څخه به په امان کې وي، او ګناه کوونکي لاسونه به ورته ونه رسیږي، او غدارې سترګې به ورته ونه ګوري، خو که ښځه د خلکو په منځ کې بهر ته لاړه شي؛ هغه به ضایع او د لیوانو په مینځ کې د پسونو په څير وي، او ممکن چې په لنډه موده کې به بد خلک د هغې ناموس او عزت له مینځه یوسي.

که خاوند په یوې مېرمنې سره بسنه ونکړي، نو الله تعالی ورته د څوګونه ودونو (تعدد) اجازه ورکړې چې تر څلورو ښځو پورې مېرمنې ولري، پدې شرط چې د دوی تر منځ تر خپل توان پورې په کور، نفقه او د شپې په پاتې کیدو کې عدل وکړي، لیکن د زړه په محبت کې عدل شرط ندی؛ ځکه چې دا هغه څه دي چې د انسان په اختيار کې ندي او پدې باندې نه ملامتیږي، او هغه عدل چې الله تعالی ويلی دی چې تاسو يې نشی کولی د الله تعالی پدې قول سره:

(وَلَن تَسْتَطِيعُوا أَن تَعْدِلُوا بَيْنَ النِّسَاءِ وَلَوْ حَرَصْتُمْ)

(وَلَن تَسْتَطِيعُوا أَن تَعْدِلُوا بَيْنَ النِّسَاءِ وَلَوْ حَرَصْتُمْ)

او تاسو به کله هم (دا) وَس ونه لرئ چې د خپلو ښځو په منځ کې (په هر لحاظ سره او د زړه په مینه کې) انصاف وکړئ اګر که تاسو (د دې) حرص (هم) وکړئ.
[النساء:129]، دا مینه ده او هغه څه چې ورسره تړلي دي، دا هغه انصاف دی چې الله تعالی د دې حقیقت نشتوالی د ځوګونه ودونو (تعدد) کولو لپاره خنډ نه دی ګرځولی، ځکه چې دا ممکنه نه ده، او الله تعالی خپلو پیغمبرانو او د هغو کسانو لپاره چې ممکنه عدالت پلي کولی شي د ځوګونه ودونو (تعدد) جواز ورکړی؛ ځکه چې الله تعالی ښه پوهیږي چې د دوی لپاره څه ښه دي، نو ځوګونه واده (تعدد) د نارینه او ښځو لپاره خیر او غوره دی؛ دا ځکه چې یو سالم سړی په جنسي اړخ کې لیوالتیا لري، او کولی شي چې د ځلورو ښځو جنسي اړتیاوې پوره کړي او هغوی ته عفت وبښي، که هغه ځان په یوې ښځې پورې محدود کړي، لکه څنګه چې د عیسویانو او نورو حال دی، او لکه څنګه چې د اسلام مدعیان دا غوښتنه کوي، نو لاندې بدۍ او ناخوالی به واقع شي:[1]

لومړی: که خاوند مؤمن وي، د الله تعالی اطاعت کوونکی وي او له الله تعالی څخه وېرېږي، نو هغه به په خپل ژوند کې تر یوه حده د محرومیت احساس وکړي، او خپل نفس به د حلالو اړتیاوو څخه محروم کړي؛ ځکه چې یوه میرمنه د امیداورۍ په وروستیو میاشتو کې، نفاس، حیض، او د

[1] د الله پیغمبر عیسی (علیه السلام) له ځوګونه ودونو (تعدد) څخه منع ندخ کړې، بلکې عیسویانو منع کړي دي؛ البته د خپلو نفساني خواهشاتو په غوښتنو سره.

ناروغيو په وخت کې خپل خاوند له هغې ځخه د خوند اخيستلو او خوښيو ځخه منعه کړي، نو خاوند د خپل ژوند يوه برخه داسې تېروي لکه چې ميرمنه ونلري، دا په داسې حال کې دی چې خاوند او ميرمنه يو بل سره مينه ولري، او که خاوند يې خوښ نه وي، نو خبره له دې ځخه هم ډېره ضرر رسونکې ده.

دويم: که خاوند د الله نافرمان او خائن انسان وي، نو هغه به بدکاري (زنا) کوي او خپله ښځه به پرېږدي. ډيری هغه خلک چې څوګونه ودونه (تعدد) کول روا نه بولي او د زنا او خيانت جرمونه کوي پداسې حال کې چې هغه غير محدود تعدد ته مخه کوي، تر دې هم لويه خبره دا ده چې که د حلال څوګونه ودونو (تعدد) سره مبارزه وکړي او هغه عيب و ګڼي نو کافر بلل کيږي، حال دا چې هغه پوهيږي چې الله تعدد روا ګڼلی دي.

دريم: که څوګونه ودونه (تعدد) منع شي ډيری ښځې له نکاح او اولاد ځخه محروميږي، نو دغه نيکې او پاکې ښځې به خپل ژوند په بې خاوندۍ او بې وزلۍ او محروميت سره تير کړي، او مقابل لورې کې به ښځه په بدکارۍ او ځان پلورنې کې ژوند کوي چې جنايتکاران به د هغې په ناموس او شرف باندې لوبې کوي.

دا روښانه ده چې ښځې د نارينه وو په پرتله ډيرې دي ځکه چې د نارينه وو د مړينې عوامل ډير دي؛ د جنګونو او خطرناکو کارونو له امله چې دوی يې کوي، بله دا چې ښځې د بلوغ له پيل ځخه واده ته چمتو وي، پداسې حال کې چې ټول

نارینه چمتو نه وي؛ ځکه چې ډیر یې د مهر د نه لرلو او د واده د ژوند لګښتونو ... او داسې نورو څیزونو له امله واده نشي کولی. په دې توګه معلومه شوه چې اسلام له ښځو سره انصاف او مهرباني کړې ده، څوک چې له شرعي څوګونه ودونو (تعدد) سره مبارزه کوي، هغوی د ښځو، فضیلت او د پیغمبرانو دښمنان دي، څوګوني ودونه (تعدد) د الله د پیغمبرانو –علیهم السلام- سنت دي، چې هغوی له ښځو سره ودونه کړي او د الله له حدودو سره سم یې څوګونه ودونه کړی.

او کله چې خاوند بله ښځه په نکاح کوي او لمړۍ ښځه د غیرت او خفګان احساس کوي هغه عاطفي او جذباتي مسئله ده، او په شرعي مواردو کې عاطفي مسایلو ته لومړیتوب نه ورکول کیږي. او ښځه کولی شي د نکاح له تړون مخکې د ځان لپاره دا شرط وټاکي چې خاوند به یې هغې باندې بله ښځه نه کوي، که خاوند دغه شرط ومني باید خپل شرط باندې ودریږي، لدې شرط سره هم که بل واده وکړي نو ښځه اختیار لري چې خپل خاوند سره پاتې شي او یا خپله نکاح ماته کړي، او د خپلې ښځې څخه هغه څیزونه چې هغې ته یې ورکړي و بیرته وا نخلي.

الله تعالی طلاق په ځانګړي توګه د خاوند او ښځې تر منځ د اختلاف او تاوتریخوالي په حالت کې روا ګڼلی دی، همدارنګه په هغه صورت کې چې خاوند او ښځه یو بل سره مینه ونلري؛ ترڅو دوی په بدبختۍ او اختلاف کې ژوند ونکړي، او همدارنګه ترڅو هر یو د ځان لپاره داسې جوړه

وومي چې هغه باندې راضي وي او د هغه سره پاتې عمر پدې دنيا او په آخرت کې په خوشحالۍ سره تير کړي، که چيرته دواړه پدې دنيا کې په اسلام مړه شي.[1]

لسم: د روغتيا په اړه:

اسلامي شريعت د طب ټول اصول بيان کړي دي، په قرآن عظيم الشان او د محمد صلى الله عليه وسلم په احاديثو کې د ډيرو نفساني او بدني ناروغيو بيان شوی دی، او د ناروغيو مادي او روحي درملنه بيان شوې ده؛ الله تعالى فرمايلي دي:

(وَنُنَزِّلُ مِنَ الْقُرْآنِ مَا هُوَ شِفَاءٌ وَرَحْمَةٌ لِّلْمُؤْمِنِينَ)

(وَنُنَزِّلُ مِنَ الْقُرْآنِ مَا هُوَ شِفَاءٌ وَرَحْمَةٌ لِّلْمُؤْمِنِينَ)

او مونږ قرآن نازلوو هغه چې د مومنانو لپاره شفا او رحمت دی. [الإسراء:82]، رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايلي دي:

«مَا أَنْزَلَ اللَّهُ دَاءً، إِلَّا قَدْ أَنْزَلَ لَهُ شِفَاءً، عَلِمَهُ مَنْ عَلِمَهُ، وَجَهِلَهُ مَنْ جَهِلَهُ»[76].

"الله هيڅ مرض ندی نازل کړی مګر دا چې د هغه لپاره يې شفاء نازله کړې ده، څوک چې پرې پوه شول هغه پرې پوه

[1] صالحې مسلمانې ښځې (چې واده يې نه وي کړی او يا طلاقې شوې وي) که الله تعالى دوی له بيرته ژوندې کيدو او حساب څخه وروسته جنت ته داخلې کړي، هغوی ته به اختيار ورکړي چې له جنتيانو نارينه و څخه ځان ته خاوند غوره کړي او واده ورسره وکړي، او که کومه مسلمانه ښځه چې مړه شي او له يو ځل څخه زيات يې واده کړی وي، هغې ته به اختيار ورکړ شي چې تر ټولو محبوب خاوند ځان ته غوره کړي که هغه سړی له جنتيانو څخه وي.

وي، او څوک چې له هغه څخه ناپوه پاتې شول، هغه به پرې ناپوه وي"[1]

او رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايلي دي:

«فَتَدَاوَوْا وَلاَ تَدَاوَوْا بِحَرَامٍ»[77].

"نو تاسو درملنه وکړئ، او د حرامو شيانو سره درملنه مه کوئ"[2] او د امام ابن القيم رحمه الله په کتاب " زاد المعاد في هدي خير العباد" کې ددې تفصيل راغلی دی، نو هغه ته رجوع وکړئ ځکه چې دا د اسلام او د خاتم الانبياء محمد صلى الله عليه وسلم د ژوند د تشريح لپاره يو له خورا ګټورو، صحيح او جامع اسلامي کتابونو څخه دی.

يوولسم: اقتصاد، تجارت، صنعت او کرنه: هغه څه چې خلک هغه ته اړتيا لري لکه اوبه، خوراک، عام المنفعه وسايل او هغه تنظيم چې د دوی د ښارونو او کليو د ساتنې ضمانت کوي، د هغه پاکوالی، د ترافيکو تنظيمول، له درغليو او درواغو سره مبارزه او داسې نور، په اسلام کې ددې ټولو مواردو تفصيل په پوره بيان سره شوی دی.

دولسم: د پټو دښمنانو په بيانولو او له هغو څخه د خلاصون د لارو چارو په بيانولو کې: الله جل جلاله په قرآن کريم کې خپل مسلمان بنده ته داسې بيان کړی، چې د هغه لپاره داسې

---

1 احمد (377/1، 413، 453)، ابن ماجه (340/2)، ابن حبان (1394)، او الحاکم (196/4) تخريج کړی، او الباني په السلسلة الصحيحة کې صحيح بللی دی (۴۵۱) .

2 ابوداود (۳۸۷۴) تخريج کړی، او البانی په صحيح الجامع (۱۷۶۲) کې دا سند صحيح بللی دی.

دښمنان شته چې په دنیا او آخرت کې به یې د هلاکت خوا ته کش کړي، که هغوی ته غاړه کیږدي او د هغوی پیروي وکړي، نو د هغوی څخه یې ورته خبرداری ورکړی دی، او د هغوی څخه د خلاصون لاره یې ورته ښودلې ده، او دغه دښمنان:

لومړی: رټل شوی شیطان: هغه څوک چې پاتې دښمنان د انسان پر ضد را پاروي او تحریکوي یې، هغه زموږ د پلار آدم او مور حوا دښمن دی، هغه څوک چې دوی یې له جنت څخه ایستلي، او هغه د نړۍ تر پایه پورې د بنی ادم دایمي دښمن دی، هغه سخت کوشش کوي چې دوی پر الله کافران کړي ترڅو الله دوی له هغه سره یو ځای په اور کې وساتي - الله مه کړه -، که هغه و نه توانیږي چې څوک کفر ته داخل کړي، کوشش کوي چې هغه د ګناهونو په کولو سره د الله د غضب او عذاب مستحق وګرځوي.

او شیطان هغه روح دی چې د انسان دننه د وینې په څیر جریان لري، د هغه په سینه کې وسوسې اچوي، او د هغه لپاره بدۍ ښکلي کوي، ترڅو یې په شر اخته کړي که چیرته د هغه پیروي وکړي. او له هغه څخه د خلاصون لار لکه څنګه چې الله سبحانه وتعالی بیان کړې ده، او هغه دا چې کله مسلمان په غصه شي یا ګناه وکړي باید ووایی چې: "أعوذ بالله من الشیطان الرجیم"، زه الله جل جلاله ته پناه وړم له رټل شوي شیطان څخه. هغه باید خپله غوسه و نه کاروي او نه ګناه باندې اقدام وکړي، او باید پوه شي چې د بدۍ انګیزه چې هغه په خپل ځان کې احساسوي د شیطان له خوا ده؛ ترڅو هغه په

هلاکت کې واچوي، او بيا له هغه څخه بيزاره کيږی، الله تعالی فرمايي:

(إِنَّ الشَّيْطَانَ لَكُمْ عَدُوٌّ فَاتَّخِذُوهُ عَدُوًّا ۚ إِنَّمَا يَدْعُو حِزْبَهُ لِيَكُونُوا مِنْ أَصْحَابِ السَّعِيرِ)

(إِنَّ الشَّيْطَانَ لَكُمْ عَدُوٌّ فَاتَّخِذُوهُ عَدُوًّا ۚ إِنَّمَا يَدْعُو حِزْبَهُ لِيَكُونُوا مِنْ أَصْحَابِ السَّعِيرِ)

بېشکه شيطان ستاسو دښمن دی، نو تاسو هغه دښمن وګڼئ، يقيناً همدا خبره ده چې هغه خپله ډله رابلي، د دې لپاره چې دوی له دوزخيانو څخه شي. [فاطر:6].

دويم دښمن: د نفس غوښتنې: لدې جملې څخه هغه څه دي چې يو څوک د حق د ردولو احساس ورته پيدا شي، او د حق ردول کله چې د بل چا لخوا راغلی وی، او د الله د حکم څخه سرغړونه او د هغه ردول؛ ځکه چې دغه حکم ددې د غوښتنو پر خلاف دی، او د نفس د غوښتنو څخه دا دي چې عواطف او احساساتو ته د حق او عدالت په مقابل کې لومړيتوب ورکړي. له دې دښمنۍ څخه د خلاصون لاره د بنده لپاره دا ده چې د خپلو نفسي خواهشاتو له پيروۍ څخه الله تعالی ته پناه وغواړي.

دريم دښمن: هغه نفس چې په بدۍ امر کوي: او د هغې په بدۍ باندې امر کول هغه څه دي چې انسان په خپل ځان کې د يو حرام خواهش احساس وکړي، لکه زنا، شراب څښل او د روژې په مياشت کې پرته له کوم شرعي عذر څخه روژه ماتول، او نور شيان چې الله منع کړي وي. او له دې دښمن څخه د خلاصون لاره دا ده چې د خپل ځان او د شيطان له شر

ښخه الله تعالی باندې پناه وغوښتل شي، او د دې حرامو خواهشاتو په ترسره کولو کې صبر وکړي، او د الله تعالی د رضا په خاطر له هغه ښخه ځان وساتي، لکه څنګه چې د هغو خوړلو او ښښلو ښخه ځان ساتي چې زړه يې ورته کيږي، ليکن دغه خوړل او ښښل هغه ته تاوان رسوي که يې وخوري او يا يې وښښي، او دا په ياد راولي چې دا حرام شهوت لنډ مهاله دی چې هغه ښخه وروسته اوږد افسوس به ورسره وي.

څلورم دښمن: انساني شيطانان: دوی د آدم عليه السلام نافرمانه اولادونه دي، چې شيطان لوبولي دي، او هغوی بد کارونه کوي او په مجلسونو کې ناستو کسانو ته بد کارونه ښکلي کوي، او له دې دښمن ښخه د خلاصون لاره: له دې دښمن ښخه ځان ساتل دي، او له هغوی ښخه لرې پاتې کيدل او هغوی سره ناسته نه کول دي.

ديارلسم: د سپيڅلي هدف او هوسا ژوند په اړه: هغه لوړ هدف چې الله تعالی خپلو مسلمانو بندګانو ته ټاکلی دی هغه دنيوي ژوند ندی او نه هغه لنډ مهاله خواهشات ... بلکې د حقيقي او ابدي راتلونکي لپاره تياری دی، او هغه: له مرګ ښخه وروسته ژوند دی؛ ريښتينی مسلمان پدې ژوند کې کار کوي، په دې فکر چې دا د آخرت لپاره وسيله او مزرعه ده، نه دا چې په خپل ذات کې هدف وي.

نو هغه د الله تعالی دغه خبره يادوي:

(وَمَا خَلَقْتُ الْجِنَّ وَالْإِنسَ إِلَّا لِيَعْبُدُونِ)

(وَمَا خَلَقْتُ الْجِنَّ وَالْإِنسَ إِلَّا لِيَعْبُدُونِ)

او ما پیریان او انسانان نه دي پیدا کړي مګر د دې لپاره چې دوی زما عبادت وکړي. [الذاريات:56]، او د الله تعالی دا قول:

(يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا اتَّقُوا اللَّهَ وَلْتَنظُرْ نَفْسٌ مَّا قَدَّمَتْ لِغَدٍ ۖ وَاتَّقُوا اللَّهَ ۚ إِنَّ اللَّهَ خَبِيرٌ بِمَا تَعْمَلُونَ (18) وَلَا تَكُونُوا كَالَّذِينَ نَسُوا اللَّهَ فَأَنسَاهُمْ أَنفُسَهُمْ ۚ أُولَٰئِكَ هُمُ الْفَاسِقُونَ (19) لَا يَسْتَوِي أَصْحَابُ النَّارِ وَأَصْحَابُ الْجَنَّةِ ۚ أَصْحَابُ الْجَنَّةِ هُمُ الْفَائِزُونَ (20))

(يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا اتَّقُوا اللَّهَ وَلْتَنظُرْ نَفْسٌ مَّا قَدَّمَتْ لِغَدٍ ۖ وَاتَّقُوا اللَّهَ ۚ إِنَّ اللَّهَ خَبِيرٌ بِمَا تَعْمَلُونَ (18)

ای هغو کسانو چې ایمان يې راوړی دی! تاسو له الله نه ووېرېږئ او هر نفس دې هغه شي ته وګوري چې ده د سبا ورځې (قیامت) لپاره مخکې لېږلی دی او تاسو له الله نه ووېرېږئ ، بېشکه الله په هغو عملونو ښه خبردار دی چې تاسو يې کوئ.

وَلَا تَكُونُوا كَالَّذِينَ نَسُوا اللَّهَ فَأَنسَاهُمْ أَنفُسَهُمْ ۚ أُولَٰئِكَ هُمُ الْفَاسِقُونَ (19)

او تاسو د هغو کسانو په شان مه کېږئ چې الله يې هېر کړی دی، نو هغه (الله) له دوی نه خپل ځانونه هېر کړل، همدغه کسان نافرمانه دي.

لَا يَسْتَوِي أَصْحَابُ النَّارِ وَأَصْحَابُ الْجَنَّةِ ۚ أَصْحَابُ الْجَنَّةِ هُمُ الْفَائِزُونَ (20))

د دوزخ والا او د جنت والا سره برابر نه دي، جنت والا چې دي؛ هم دوی کامیاب (او په مراد رسېدلي) دي. [الحشر:18-20]، او د الله تعالی دا قول:

(فَمَن يَعْمَلْ مِثْقَالَ ذَرَّةٍ خَيْرًا يَرَهُ (7) وَمَن يَعْمَلْ مِثْقَالَ ذَرَّةٍ شَرًّا يَرَهُ (8))

(فَمَن يَعْمَلْ مِثْقَالَ ذَرَّةٍ خَيْرًا يَرَهُ (7)

نو هغه څوک چې د يوې ذرې په اندازه نېک عمل وکړي، (نو) دی به هغه ووینې.

وَمَن يَعْمَلْ مِثْقَالَ ذَرَّةٍ شَرًّا يَرَهُ (8))

او هغه څوک چې د يوې ذرې په اندازه د شر (او بدۍ) عمل کوي، ( نو) دی به هغه ووینې. [الزلزلة:7-8].

د هغه په واسطه خپل بندګان د هغه هدف په لور لارښوونه کوي چې د کوم هدف لپاره يې دوی پیدا کړي، او هغه راتلونکی چې حتمي ددوی په انتظار کې دی؛ نو هغه واحد الله ته په عقیدې سره د دې ریښتیني او ابدي راتلونکي لپاره چمتوالی نیسي، او هغه څه کوي چې الله ته خوښ وي، او الله د هغه څخه راضي اوسي، او پدې ژوند کې د هغه د اطاعت کولو په خاطر د هغه عزت او اکرام کوي، او تر مرګ وروسته يې د عزت کور ته داخلوي. نو الله پدې ژوند کې هغه ته د ښه ژوند په ورکولو سره عزت ورکوي، هغه د الله په ساتنه او حفاظت کې ژوند کوي، د الله د رڼا په واسطه کتل کوي ... هغه عبادتونه ترسره کوي چې الله ورته امر کړی وي، نو د الله تعالی په مناجات سره خوند اخلي او په خپل زړه او ژبې سره د الله یاد کوي، پدې توګه د هغه زړه ډاډ پیدا کوي.

هغه په خپلو خبرو او عملونو کې له خلکو سره نیکي کوي، او د هغوی له معززو خلکو څخه د ده په نیکیو اعتراف او دعاګانې اوري، چې د ده د خوشحالۍ سبب ګرځي او سینه یې پرانیزي، او د خپلو نیکیو په مقابل کې د کینه ګرو ناشکري ویني، نو د هغوی دغه کړنه د دې مانع نګرځی چې هغوی سره نیکي ونکړي؛ ځکه چې هغه یوازې د الله په خاطر دغه کار کوي او د هغه څخه اجر غواړي. او له هغو اشرارو څخه چې د دین او د هغه له پیروانو څخه کرکه لري مسخرې ګوري او مضرې خبرې اوري چې پدې سره د الله تعالی رسولان ورپه یادیږي، نو بیا پوهیږي چې دا کار د الله په لار کې دی، نو له اسلام سره یې مینه او استقامت زیاتیږي. هغه په دفتر کې، په فارم کې، په پلورنځي کې یا په فابریکه کې خپلو لاسونو سره کار کوي؛ ترڅو په تولید سره اسلام او مسلمانانو ته ګټه ورسوي؛ او الله سره د ملاقات په ورځ د هغه د اخلاص او نیک نیت په بدل کې الله هغه ته اجر ورکوي، او د دې لپاره چې هغه پاکه ګټه ترلاسه کړي چې په خپل ځان او کورنۍ باندې یې مصرف کړي، او له هغې څخه صدقه او خیرات ورکړي، پدې سره به په بدایه زړه، عزتمند، مطمئن، باعزته او د شرف سره ژوند وکړي، هغه د الله -تعالی- څخه د اجر تمه لري؛ ځکه چې الله قوي او مسلکي مومن خوښوي، هغه خوري، څښي او بیده کیږي بې له اسراف څخه، د دې لپاره چې د الله اطاعت لپاره ځان پیاوړی کړي. له خپلې مېرمنې سره کوروالی کوي، ترڅو د هغې او د خپل ځان عفت وساتي له هغه څه څخه چې الله منع کړي دي، ترڅو اولاد ولري او هغوی د الله عبادت وکړي او د هغه لپاره په ژوندون او له

مرګ وروسته دعا وکړي، او د هغه نیک عملونه دوام ومومي، او پدې سره د مسلمانانو شمیر زیاتیږي او هغه د الله لخوا اجر ترلاسه کوي، او هر نعمت چې ورته رسیږي د الله تعالی شکر ادا کوي چې د هغه د اطاعت لپاره یې کاروي او اعتراف کوي چې دا یوازې د الله لخوا دي، نو هغه به د الله لخوا اجر ترلاسه کوي، او هغه پوهیږي چې کله نا کله د لوږې، ویرې، ناروغۍ، درد او مصیبتونو سره مخ کیږي، دا ټول د الله لخوا ازموینه ده؛ ترڅو الله وګوري –حال دا چې هغه ښه پوهیږي-[1] چې هغه د الله په تقدیر باندې څومره صبر لري؛ د الله په وړاندې د هغه د صبر او قناعت کچه وګوري؛ نو هغه صبر کوي او راضي اوسیږي او په هر حالت کې د الله تعالی حمد او ثنا وایي، د الله د ثواب په هیله چې صبر کوونکو لپاره یې چمتو کړی دی، نو پدې سره د هغه لپاره مصیبت آسانیږي او هغه قبلوي، لکه څنګه چې ناروغ د شفا په هیله د درملو تریخوالی مني.

کله چې مسلمان په دې ژوند کې لکه څنګه چې الله ورته امر کړی په لوړې روحیې سره ژوند وکړي او د حقیقي او ابدي راتلونکي لپاره کار وکړي؛ ترڅو ابدي خوشحالي ولري کوم چې د دې ژوند کړاونه به په کې نه وي، او مرګ به دغه

1 الله تعالی خپلو بندګانو ته امر او منع کوي یې، او هغه له وړاندې پوهیږي چې څوک به یې اطاعت او څوک به یې نافرماني وکړي، دا د دې لپاره چې دا پوهه ښکاره شي ترڅو بنده ته د هغه د کار بدله ورکړل شي، او مجرم دا ونه وایي: "زما پروردګار ماته د هغې ګناه سزا راکړه چې ما نه وه کړې"؛ الله جل جلاله فرمایي: : (وَمَا رَبُّكَ بِظَلَّامٍ لِّلْعَبِيدِ) [فصلت:46]. او ستا رب پر بندګانو ظلم نکوي.

خوشحالي قطع نکړي، نو بې له شکه د دې دنیا په ژوند کې به خوشحاله وي، او د مرګ وروسته ژوند کې به هم خوشحاله وي: الله تعالی فرمایلي دي:

(تِلْكَ الدَّارُ الْآخِرَةُ نَجْعَلُهَا لِلَّذِينَ لَا يُرِيدُونَ عُلُوًّا فِي الْأَرْضِ وَلَا فَسَادًا ۚ وَالْعَاقِبَةُ لِلْمُتَّقِينَ)

(تِلْكَ الدَّارُ الْآخِرَةُ نَجْعَلُهَا لِلَّذِينَ لَا يُرِيدُونَ عُلُوًّا فِي الْأَرْضِ وَلَا فَسَادًا ۚ وَالْعَاقِبَةُ لِلْمُتَّقِينَ)

دغه د آخرت کور (جنت) دا مونږ د هغو کسانو لپاره مقرروو چې په ځمکه کې نه د لويي اراده لري او نه د فساد (وراني) کولو او ښه انجام د پرهېزګارانو لپاره دی. [القصص:83]، او الله تعالی رښتیا وویل کله چې یې وفرمایل:

(مَنْ عَمِلَ صَالِحًا مِّن ذَكَرٍ أَوْ أُنثَىٰ وَهُوَ مُؤْمِنٌ فَلَنُحْيِيَنَّهُ حَيَاةً طَيِّبَةً ۖ وَلَنَجْزِيَنَّهُمْ أَجْرَهُم بِأَحْسَنِ مَا كَانُوا يَعْمَلُونَ)

(مَنْ عَمِلَ صَالِحًا مِّن ذَكَرٍ أَوْ أُنثَىٰ وَهُوَ مُؤْمِنٌ فَلَنُحْيِيَنَّهُ حَيَاةً طَيِّبَةً ۖ وَلَنَجْزِيَنَّهُمْ أَجْرَهُم بِأَحْسَنِ مَا كَانُوا يَعْمَلُونَ)

چا چې نېک عمل وکړ، سړی وي، که ښځه، په داسې حال کې چې مومن وي، نو خامخا هرومرو به مونږ هغه ته ژوند ورکړو، ډېر پاکيزه ژوند او خامخا هرومرو به مونږ هغوی ته د هغوی د اجر بدله ورکړو د هغو تر ټولو ښو عملونو په بدل کې چې دوی به کول. [النحل:97].

په مخکني آیت او دې ته ورته آیتونو کې، الله تعالی فرمايي: هغه نیک سړی او صالحه ښځې ته چې په دې ژوند کې د الله په اطاعت او د هغه د رضا په لټه کې کار کوي، په دې ژوند

کې عاجل اجر ورکوي چې هغه ښه او خوشحاله ژوند دی چې مخکې مو د هغې یادونه وکړه، او له مرګ وروسته د غیر عاجل اجر چې د جنت ابدي نعمتونه دي ورکوي، په دې اړه رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایي:

«عَجَبًا لأمرِ المؤمنِ إنَّ أمْرَه كُلَّهُ له خَيرٌ وليسَ ذلكَ لأحَدٍ إلا للمُؤْمنِ إنْ أصَابتهُ سَرَّاءُ شَكَرَ فكانتْ خَيرًا لهُ وإنْ أصَابتهُ ضَرَّاءُ صَبرَ فكانتْ خَيرًا لهُ»[79].

"د مؤمن کار څومره حیرانوونکی دی، ځکه چې د هغه ټول کار د هغه لپاره خیر دی، او دا د بل چا لپاره نه دی مګر مومن لپاره، که خوښي ورته ورسیږي نو شکر وباسي او دا د ده لپاره خیر دی، او که سختي ورته ورسیږي صبر کوي نو دا هم د ده لپاره خیر دی".[1]

په دې توګه څرګنده شوه چې یوازې په اسلام کې سالم فکر، د ښو او بدو سمه اندازه او بشپړه او عادلانه طریقه شتون لري، او دا چې په اروا پوهنه، ټولنه، تعلیم، سیاست، اقتصاد، ټول نظامونه او بشري تګلارې او طریقې باید د اسلام په رڼا کې اصلاح او له هغه څخه باید واخیستل شي، که نه نو په هغه څه کې کامیابېدل ناشوني دي چې مخالفت یې کوي، بلکې دا د هغو کسانو لپاره په دنیا او آخرت کې د بدبختیو سرچینه ده څوک چې دغه بشري نظامونو باندې عمل کوي.

***

[1] مسلم ( 2999 )، احمد ( 4 / 332 ) او دارمي ( 2777 ) تخریج کړی.

لومړی: هغه خلک چې اسلام ته سپکاوی کوي : تر ټولو زیات اسلام ته سپکاوی کوونکي دوه ډوله خلک دي:

لومړی طبقه: هغه خلک چې د اسلام سره تړاو لري او د مسلمانۍ دعوا کوي، خو په خپلو خبرو او عملونو سره د اسلام خلاف کار کوي، نو داسې عملونه کوي چې اسلام ور څخه بیزاره دی، دوی د اسلام استازیتوب نشي کولی او دا سمه نه ده چې د دوی کړنې اسلام ته منسوب شي، او هغوی دا دي:

(الف) د منحرفې عقیدې خاوندان: لکه هغه کسان چې د قبرونو طواف کوي او د قبرونو له خاوندانو څخه خپلې اړتیاوې غواړي، او پدې باور دي چې په دوی کې ګټه او تاوان شتون لري، او داسې نور.[1]

(ب) د اخلاق او دین څخه لرې خلک:

دوی د الله فرایض پرېږدي، د الله له طرفه حرام شوي ځیزونه کاروي، لکه زنا، شراب څښل او داسې نور. او د الله د دښمنانو سره مینه لري او د هغوی سره ځان یوشان کوي.

(ج) او د هغو خلکو له ډلې څخه چې د اسلام سپکاوی کوي ځینې مسلمانان دي، خو په الله باندې د هغوی ایمان ضعیف وي، او د اسلام د احکامو تطبیق کې نیمګړتیا لري، دا ډول خلک په ځینو واجباتو کې نیمګړتیاوې لري، خو نه یې پرېږدي، او ځینې حرام کارونه ترسره کوي، کوم چې د لوی

[1] او لکه د خوارجو په څېر چې د اسلام په نوم بې ګناه خلک وژني، او ډېری یې د اسلام د دښمنانو له دسیسو څخه دي.

شرک یا بل ډول کفر درجې ته نه رسېږي، او په حرامو او بدو عادتونو اخته شوي وي، او اسلام ددې کړنو څخه بېزاره دی، او هغه له لویو ګناهونو څخه ګڼي، لکه: دروغ ویل، خیانت (فریب)، د وعدې ماتول او حسد، دا ټول اسلام ته زیان رسوي؛ ځکه غیر مسلمان چې له اسلامه ناخبره دي فکر کوي چې اسلام دوی ته د دې کار اجازه ورکوي.

دویمه کټګوري: له هغه خلکو نه چې اسلام ته سپکاوی کوي؛ د اسلام له دښمنانو څخه دي، د هغه څخه کرکه لري، او د دوی له جملې څخه: مستشرقین، یهودیان، عیسوي مبشرین، او د اسلام هغه دښمنان دي چې د دوی لاره تعقیبوي، هغه کسان چې د اسلام بشپړتیا، مهرباني، او د خپریدو سرعت یې په قهر کړي دي؛ ځکه چې دا د فطرت دین دی ، هغه دین چې فطرت یې قبلوي کله چې ورته وړاندې شي. هر غیر مسلمان په ګډوډۍ کې ژوند کوي، او د خپل دین یا مذهب څخه د نارضایتۍ احساس کوي؛ ځکه چې دا د هغه فطرت سره په ټکر کې دی کوم چې الله په هغه سره پیدا کړی دی پرته له ریښتیني مسلمان څخه، ځکه چې مسلمان یوازې هغه څوک دی چې خپل دین سره خوشحاله او راضي وي؛ ځکه چې دا یو ریښتینی دین دی چې الله وضع کړی دی، او د الله شریعت د الله د فطرت سره موافق دی چې خلک یې پر هغه پیدا کړي؛ له همدې امله موږ هر عیسوی، یهودي، او ټولو هغو کسانو ته چې د اسلام څخه بهر دي وایو: ستا ماشومان د اسلام په فطرت سره پیدا شوي دي، مګر تا او د دوی مور هغوی له اسلام څخه کفر خوا ته راوستي دي، د هغې فاسدې تربیې په واسطه چې تاسو یې ورته ورکوئ، او

هغه تربیه د هغو دینونو او مذهبونو څخه وي چې اسلام سره په ټکر کې وي.[1]

دغه کینه کوونکي مستشرقان او مسیحیت ته بلونکي په قصدي توګه په اسلام او په خاتم النبیین -صلی الله علیه وسلم- باندې دروغ وایي:

۱- کله د هغه د رسالت څخه په انکار کولو.

۲- کله په عیب لګولو، حال دا چې هغه -صلی الله علیه وسلم- کامل دی، چې د هر عیب او نیمګړتیا څخه د الله تعالی لخوا پاک ګڼل شوی، د هغو حاقدینو او متعصبینو د غوښتنو پر خلاف.

۳- د اسلام د ځینو عادلانه احکامو تحریف کول چې د عالم او حکیم الله لخوا وضع شوي؛ ترڅو خلک له هغه څخه متنفر کړي.

مګر الله پاک د دوی دسیسې له منځه وړي؛ ځکه چې دوی د حق سره جګړه کوي، او حق لوړ دی او هغه باندې هیڅ څیز نه لوړیږي. الله تعالی فرمایلي دي:

---

1 خاتم المرسلین محمد صلی الله علیه وسلم فرمایلي دي: هیڅ ماشوم نه زیږول کیږي مګر په فطرت سره، نو د هغه مور او پلار هغه یهودي، نصراني او مجوسي کوي. [بخاري (۱۲۹۲) او مسلم (۲۶۵۸)تخریج کړی، او لفظ یې د مسلم دی]، په دې حدیث کې رسول الله -صلی الله علیه وسلم- فرمایلي دي چې انسان د اسلام په فطرت سره زیږول کیږي، او په خپل فطرت سره ایمان راوړي، نو که هغه په خپل فطرت سره پریښودل شي؛ هغه پرته له شکه اسلام غوره کوي، او د هغوی له طرفه د یهودیت، نصرانیت، او مجوسیت او د نورو باطلو فرقو قبلول د هغوی د پالنې او تربیې له امله دي.

﴿يُرِيدُونَ لِيُطْفِئُوا نُورَ اللَّهِ بِأَفْوَاهِهِمْ وَاللَّهُ مُتِمُّ نُورِهِ وَلَوْ كَرِهَ الْكَافِرُونَ (8) هُوَ الَّذِي أَرْسَلَ رَسُولَهُ بِالْهُدَىٰ وَدِينِ الْحَقِّ لِيُظْهِرَهُ عَلَى الدِّينِ كُلِّهِ وَلَوْ كَرِهَ الْمُشْرِكُونَ (9)﴾

﴿يُرِيدُونَ لِيُطْفِئُوا نُورَ اللَّهِ بِأَفْوَاهِهِمْ وَاللَّهُ مُتِمُّ نُورِهِ وَلَوْ كَرِهَ الْكَافِرُونَ (8)

دوی غواړي چې په خپلو خولو سره د الله رڼا مړه کړي او الله د خپلې رڼا پوره کوونکی دی اګر که کافران (دا کار) بد ګڼي.

هُوَ الَّذِي أَرْسَلَ رَسُولَهُ بِالْهُدَىٰ وَدِينِ الْحَقِّ لِيُظْهِرَهُ عَلَى الدِّينِ كُلِّهِ وَلَوْ كَرِهَ الْمُشْرِكُونَ (9)﴾

دغه (الله) هغه ذات دی چې خپل رسول يې په هدايت او حق دين سره لیږلی دی، د دې لپاره چې دغه (حق دين) ته په نورو ټولو دينونو باندې غلبه ورکړي، اګر که مشرکان دغه (کار) بد ګڼي. [الصف:8-9].

دويم: د اسلام سرچينې:

که غواړې – اې هوښيار انسانه – چې د اسلام په ربښتينې بڼه پوه شې، نو د قرآن عظيم الشان، او د رسول الله -صلى الله عليه وسلم- صحيح احاديث ولوله چې په صحيح البخاري، صحيح مسلم، د امام مالک موطا، د امام احمد بن حنبل مسند، د ابو داوود سنن، د نسائي سنن، د ترمذي سنن، د ابن ماجه سنن، او د دارمي سنن کې ليکل شوي دي. او د ابن هشام سيرت النبي، او د علامه اسماعيل ابن کثير د قرآن عظيم تفسير، او د علامه محمد ابن القيم کتاب زاد المعاد في هدي الخير العباد، او دې ته ورته د اسلام د امامانو کتابونه ولولئ،

هغه امامان چې خلکو ته د توحيد او بصيرت سره د الله خوا ته بلنه ورکوي، لکه شيخ الاسلام احمد بن تيميه، او مجدد امام محمد بن عبد الوهاب، هغه څوک چې الله تعالی د هغه او د شهزاده محمد بن سعود په واسطه د عربو په جزيره کې د اسلام دين او د توحيد عقيدې ته عزت او مقام ورکړ، او ځينې هغه ځايونو ته چې له دولسمې هجري قمري پېړۍ را پر ديخوا پکې شرک عام شوی و.

اما د مستشرقانو کتابونه او هغه ډلې چې اسلام ته منسوب دي حال دا چې هغوی اسلام سره په مخالفت کې قرار لري، د هغو مسايلو په اړه چې زيات شمير يې مخکې ذکر شوي دي، او يا د رسول الله -صلی الله عليه وسلم- صحابه کرامو باندې تعرض کول، او يا ځينو صحابه کرامو ته سپکاوی او ښکنځلې کولو سره، او يا د هغو امامانو سپکاوی کول چې د الله تعالی د وحدانيت خوا ته يې بلنه ورکړې ده، لکه: ابن تيميه، ابن القيم، محمد بن عبد الوهاب، او هغوی باندې درواغ جوړول، ځکه چې دغه ګمراه کوونکي کتابونه دي. خبر اوسئ چې تاسو هغو باندې دوکه نشئ او هغه و نه لولئ.

دريم: اسلامي مذهبونه:

ټول مسلمانان په يوه مذهب دي او هغه اسلام دی، او د هغوی مرجع قرآن او د رسول الله صلی الله عليه وسلم حديث دي، ليکن هغه څه چې په څلورو اسلامي مذاهبو باندې مشهور دي لکه حنبلي، مالکي، شافعي او حنفي، ددې څخه موخه اسلامي فقهي مکتبونه دي چې د دغو مذاهبو علماوو د اسلام اصول پکې تدريس کړي دي چې د ټولو مرجع قران او

د رسول الله صلی الله علیه وسلم احادیث دي، کچیرته د دوی تر منځ کوم اختلاف شتون ولری نو په نادر ډول په فرعي مسایلو کې دی، او هر عالم خپلو شاګردانو ته امر کړی چې پدې ډول مسایلو کې هغه قول واخلي چې د قرآن او حدیث متن سره تثبیت شوی وي، که څه هم بل عالم ویلي وي.

مسلمان مجبور ندی چې لدې جملې څخه یو مذهب غوره کړي، بلکې هغه باندې واجب دي چې قرآن او حدیث ته مراجعه وکړي، او هغه خلک چې دې مذهبونو ته منسوب دي او په زیاتو عقیدوي مسایلو کې منحرف شوي دي، او کومې کړنې چې کوي لکه د قبرونو طواف، او دقبرونو له خاوندانو (مړو) څخه مرسته غوښتل، او هغه څه چې دوی د الله په صفتونو کې تاویل او تفسیر کوي، او دغه صفات ظاهري مانا ته راجع کول، دې ډول خلکو د خپلو مذاهبو د امامانو سره په عقیده کې مخالفت کړی دی؛ ځکه چې د امامانو عقیده د پخوانیو صالحو خلکو عقیده وه چې مخکې د ناجیه په ډله کې یاده شوې ده.

څلورم: له اسلام څخه وتلې ډلې:

په اسلامي نړۍ کې داسې ډلې هم شته چې له اسلامه وتلي دي، حال دا چې اسلام ته منسوبیږي او د مسلمانۍ دعوا کوي، په حقیقت کې هغوی مسلمانان ندي؛ ځکه چې د هغوی عقیدې پر الله، د هغه پر آیاتونو او وحدانیت باندې کفري عقیدې دي، د دې فرقو له جملې څخه:

۱- د باطنیه فرقه:

د غه ډله چې د حلول او تناسخ عقيده لري، او دا چې د دين نصوص يو باطني مانا لري چې د هغه ظاهري معنی سره په ټکر کې دي چې د رسول الله -صلی الله عليه وسلم- لخوا بيان شوي دي، او په هغه څه باندې چې د مسلمانانو په اجماع شوي وي، او دا باطني مانا د دوی د خواهشاتو پر اساس وضع کيږي، د باطني دلې د رامنځته کيدلو اساس دا و چې د يهوديانو، مجوسيانو او ملحدو مفلسفينو د فارس په خاوره کې کله چې اسلام په خپريدلو سره دوی وځپل شول، پخپل منځ کې يې مشوره وکړه ترڅو يو مذهب رامنځته کړي، او د هغوی هدف دا و چې مسلمانان له يو بل څخه جلا کړي او د قرآن کريم په مانا کې د دوی نظرونه ګډوډ کړي؛ ترڅو د مسلمانانو په منځ کې اختلاف او تفرقه واچوي، نو دوی دغه تخريبي مذهب جوړ کړ او هغه ته يې بلنه وکړه، دوی ځانونه اهل بيت ته منسوب کړل، او ادعا يې وکړه چې دوی د هغوی له ډلې څخه دي؛ ترڅو د عامو خلکو په ګمراه کولو کې ډير موثر وي، نو د هغوی له جاهلانو څخه يې ډېر خلک ښکار کړل او هغوی يې ګمراهان کړل.[1]

---

1 باطنية ډېر لقبونه لري، او په څو فرقو وېشل شوي دي چې په هند، شام، ايران، عراق او ګڼو نورو هېوادونو کې خپاره شوي دي، يو شمېر متقدمينو په تفصيل سره بيان کړي، لکه: شهرستاني په "الملل والنحل"، او همدارنګه متاخرينو تشريح کړي، او په دوی کې يې نوې فرقې په ګوته کړې، په شمول د: قاديانيانو، بهايانو او داسې نور، او له هغو کسانو چې دغه ډلې يې بيان کړي دي محمد سعيد ګيلانی دی چې په "ذيل الملل و النحل"، او شيخ عبدالقادر شيبه الحمد -د مدينې د اسلامي پوهنتون استاد- د "الأديان والفرق والمذاهب المعاصرة" په کتاب کې.

۲- له هغو ډلو څخه یوه یې (قادیانیان) دي: او غلام احمد قادیاني ته یې نسبت کیږي چې د نبوت په دعوا مشهور دی او په هند او شاوخوا سیمو کې یې خلکو ته هغه باندې د ایمان راوړلو بلنه ورکړه، او انګریزانو هغه او د هغه پیروان وکارول کله چې هند د هغوی مستعمره وه، هغه او د هغه پیروان یې په بشپړه توګه تمویل کړل؛ تر دې چې ډېر ناپوهان هغه پسې روان شول، نو له همدې امله قادیانیان چې د اسلام په نوم تظاهر کوي ښکاره شول، حال دا چې دغه ډله کوښښ کوي چې اسلام له منځه یوسي او تر خپل توان پورې خلک د اسلام له دایرې څخه اوباسي، او په دې سره مشهور شو کله چې یې دا کتاب: "تصديق براهين أحمدية" تالیف کړ، او په هغه کې د نبوت دعوا وکړه، د اسلام نصوص یې تحریف کړل، د تحریف شوي نصوصو څخه دا دی چې جهاد

په اسلام کې منسوخ شوی دی، او هر مسلمان باید له انګریزانو سره سوله وکړي، او په هغه وخت کې یې د "ترياق القلوب"په نوم یو کتاب هم ولیکه. دا لیکوال په ۱۹۰۸ میلادي کال کې له هغه وروسته مړ شو چې ډېر خلک یې ګمراه کړل، او له هغه وروسته د حکیم نورالدین په نوم ددې ګمراه ډلې ریاست او هغې ته د دعوت مشري په غاړه واخیسته.

۳- او همدارنګه له اسلام څخه -بله- وتلې باطني ډله بهايي نومیږي، دغه ډله د نولسمې پیړۍ په پیل کې په ایران کې د علی محمد په نوم د یوه سړي له خوا جوړه شوه. او ویل کیږي: محمد علي شیرازي دی، او هغه د شیعه ګانو له اثنی عشری فرقې څخه و، نو یو مذهب یې جوړ کړ چې په هغه کې یې د

خپل ځان لپاره دا ادعا وکړه چې هغه منتظر مهدي دی، او بیا یې ادعا وکړه چې الله تعالی د ده په وجود کې اوسیږي، نو پدي اساس هغه د خلکو لپاره معبود وګرځید - الله د هغه څه څخه ډیر لوړ دی چې کافران او ملحدان یې وایي – او هغه پس له مرګه له ژوندون، حساب، جنت او دوزخ څخه انکار وکړ، او د کافرو براهمیانو او بودایانو لاره یې غوره کړه، او یهود، نصارا او مسلمانان یې سره یو ځای کړل، او دا چې د هغوی په منځ کی هیچ توپیر نشته، بیا یې د خاتم الانبیاء محمد صلی الله علیه وسلم د نبوت څخه انکار وکړ، او د ډیرو اسلامي احکامو څخه یې انکار وکړ، او د هغه له مړینی څخه وروسته د (البهاء) په نوم د هغه وزیر دغه دنده په میراث وې وړه، او پیروان یې زیات شول، نو دغه ډله د ده نوم ته منسوبه شوه او د البهائیة په نامه یاده شوه.

۴- او د اسلام څخه له وتلې ډلو څخه، که څه هم د اسلام ادعا وکړي، لمونځ وکړي، روژه ونیسي، او حج وکړي، ډیرې فرقې دي چې ادعا کوي چې جبرئیل -علیه السلام- په پیغام رسولو کې خیانت کړي کله چې دغه پیغام یې محمد - صلی الله علیه وسلم - ته راوړ، حال دا چې دغه پیغام علي ته لیږدول شوی و، او ځینې ددې ډلې څخه وایي: علي الله دی، د هغه او د هغه د اولادونو او لمسیانو او د هغه د میرمنې فاطمې او د هغې مور خدیجه – رضی الله عنهم اجمعین- په تعظیم کې مبالغه کوي. آن تر دې چې هغوی یې له الله سره معبودان بولي او دوی په دې عقیدې دي چې دوی بې ګناه دي او د الله

په نزد د دوی منزلت د پیغمبرانو – علیهم السلام- څخه لوړ دی.

او دوی وایی: کوم قرآن چې اوس د مسلمانانو په لاس کې دی، زیاتوالی او کموالی لري، او خپل ځان ته یې ځانګړې د قرآن نسخې جوړې کړي دي، او په کې یې له ځانه آیتونه او سورتونه ایښودلي دي، او له خپل پیغمبر څخه وروسته غوره مسلمانانو لکه ابوبکر او عمر رضي الله عنهم باندې لعنت وایي، او د مؤمنانو د مور عایشې –رضی الله عنها- سپکاوی کوي. او هغوی د سختیو او سوکالۍ په وخت کې د علي او د هغه له اولادونو څخه مرسته غواړي، او د الله پرته هغوی بولي، حال دا چې علي او د هغه اولادونه له دوی څخه بېزاره دي؛ ځکه چې هغوی یې له الله سره معبودان جوړ کړي، او د الله په اړه دروغ وایې او د هغه خبرې یې تحریف کړي دي - الله د دوی له ویناوو څخه لوړ دی.[1]

او دا کفري فرقې چې موږ یې یادونه وکړه، دا هغه کفري ډلې دي چې د اسلام ادعا کوي اما په اصل کې اسلام له منځه وړي، نو خبردار اوسه - اې هوښیاره! او ای مسلمانه چې هر ځای کې یې - چې اسلام یوازې ادعا نده، بلکې قرآن او د رسول الله -صلی الله علیه وسلم- احادیثو باندې ځان پوهول دي، هغه چې ثابت دي، او په هغه باندې عمل کول دي، نو قرآن کریم او د رسول الله -صلی الله علیه وسلم- په احادیثو کې تدبر او غور وکړه، هلته به ته هدایت، رڼا او مستقیمه لاره

1 د دوی له هغو اعمالو څخه چې د اسلام تصویر ناسم معرفي کوي، خپل مخونه او سینې وهل او خپل بدن په زنځیرونو او چاقوګانو باندې وهل دي.

وموميې چې ددې لارې پيروان به د رب العالمين د نعمتونو په جنت کې د خوښيو لور ته رسوي.

***

د خلاصون په لور بلنه

اې هوښيار انسانه (که نارينه وي يا ښځينه)! چې تر اوسه يې اسلام نه دى منلى... زه تاسو ته دغه د نجات او خوښئ بلنه استوم، او وايم چې:

د الله تعالى له عذابه ځان وژغوره، له مرګ څخه وروسته په قبر کې، او بيا د دوزخ له اور څخه.

په الله باندې د معبود په توګه، او په محمد - صلى الله عليه وسلم - د رسول په توګه، او په اسلام د دين په توګه د ايمان لرلو له لارې ځان وژغوره، او په ريښتيا سره ووايه: " لا إله إلا الله محمد رسول الله"، له الله پرته بل معبود نشته او محمد د الله رسول دی، پنځه وخته لمونځ وکړه، د خپل مال زکات ورکړه، د رمضان مياشت روژه ونيسه، او د بيت الله الحرام زيارت وکړه که توان يې لرې.

او خپل اسلام الله ته اعلان کړه، ستا لپاره له دې پرته بله د نجات او خوشحالئ لاره نشته.[1]

او تاسو ته په هغه لوى الله قسم کوم چې له هغه پرته بل معبود نشته چې اسلام ريښتينى دين دى چې الله له هيچا څخه پرته له اسلامه بل دين نه مني، او زه الله او د هغه پريښتې او د هغه ټول مخلوق ګواه نيسم چې له الله پرته بل معبود نشته،

---

1 په دې دنيا کې له ښه ژوند سره او په آخرت کې له جنت سره.

او محمد د الله رسول دی، او دا چې اسلام ریښتینی دین دی او زه مسلمان یم.

او زه له الله جل جلاله څخه غواړم چې په خپل فضل او کرم سره ما او زما اولاد او زما ټول مسلمان وروڼه په اسلام سره مړه کړي، او موږ ټول د نعمتونو په جنتونو کې د خپل پېغمبر صادق الامين محمد -صلى الله عليه وسلم- سره، او د الله له ټولو انبياوو او زموږ د پېغمبر له کورنۍ او د هغه له اصحابو سره راټول کړي، او له الله تعالى څخه دا غواړم چې د دې کتاب لوستونکي او اوريدونکي ته په دې سره فايده ورسوي... آيا تاسو ته مې پيغام ورساوه؟ ای الله ته شاهد اوسه.

الله ښه پوهيږي، وصلى الله وسلم على نبينا محمد، وعلى آله وصحبه، والحمد لله رب العالمين.

***

فهرست

ریښتینی دین ........................................................................ 2
سریزه او ډالۍ........................................................................ 2
لومړی څپرکی – د لوي خالق الله تعالی پیژندنه............................ 3
دویم څپرکی - د رسول الله (صلی الله علیه وسلم) پیژندنه............ 24
دریم څپرکی - د ربښتینی دین- اسلام - پیژندل ......................... 34
څلورم څپرکی – د اسلام تګلاره ............................................. 97
پنځم څپرکی – د ځینو شکونو (شبهاتو) راسپړل...................... 140

ps76v1.0 - 03/09/2026